


# له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې؟

## د افغانستان ګاونډیو او کلیدي ملګرو لپاره د متحده ایالاتو د وتلو پایلې

تیمور شاران ، اندریو واټکینز

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

## د مطالبو لړلیک


| | |
|---|---|
| د پیل خبرې | ۳ |
| د افغانستان او تر اتلانتیک ها خوا اړیکې: د متحده ایالاتو او اروپایي ټولنې د همکاریو راتلونکی | ۴ |
| له ۲۰۲۱ وروسته په افغانستان کې د اروپا ښکېلتیا: ناڅرګندتیا، پراګماتیزم او دوامداره ګډون | ۹ |
| ناسته؟ روسیه، افغانستان او اروپا | ۱۴ |
| د افغانستان پر وړاندې د ازبکستان دوه ګونې ستراتیژي | ۱۸ |
| یوه نوې کړنلاره؟ تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته اروپا، هند او افغانستان | ۲۲ |
| ګاونډي په نوي عادی حالت کې؟ پاکستان او افغانستان تر ۲۰۲۱ کال وروسته | ۲۷ |
| افغانستان تر ۲۰۲۱ وروسته : د چین د سیمه ییزو لوړو هیلو او امنیتي پایلو لپاره؟ | ۳۲ |
| په ختیځ ګاونډ کې ټول آرام دي؟ د تحول په حال افغانستان سره، د ایران مخ پر بدلېدونکې اړیکې | ۳۷ |
| د سولې رامنځته کولو منځګړی؟ د افغانستان د سولې په پروسه کې د ترکیې رول او اهمیت | ۴۳ |

## د پیل خبرې

د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو وتل د افغانستان په نړیوالو اړیکو کې د یوې مهمې او نفوذ لرونکې شیبې نمایندګي کوي. دا ترون (د اړیکو جلا کول) د ډېرې بې باورۍ سره مخ کیږي، چې دا یې په ځمکه او سیمه ییز امنیت کې پایلې لري. پدې شرایطو کې، د سیاسي ثبات لپاره د سیمه ییزې اجماع رامینځته کول اړین دي، مګر دا باید د یوخطي یا یونیفورم پروسې په توګه ونه لیدل شي.

### د شخړې داخلي او سیمه ایز ابعاد نه بیلیدونکی دی

د تیرو ٤٠ کالو راهیسې، افغانستان د نړۍ په یو ترټولوسخت تاوتریخوالي کې ښکیل دی. په هرصورت، دا جګړه هیڅکله په یوازې د افغانستان جګړه نده. له یوې خوا، نړیوالې مداخلې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پریکړو څخه تر لسګونو سرتیرو پورې، د ښکیلو خواو لپاره بهرنۍ مرستې یا د پولې په اوږدو کې بشرې مرستوکې، تل د پام وړ رول لوبولی دی، خو د جګړې کمولو ځینې وخت د افغانانو کړاوونه ډیر کړی دي.

له بلې خوا، دا شخړې له سرحدونو تیرې شوې او جریان لري، چې د هغې اغیزې د ګاونډیو او هاخوا سیمو په اوږدو کې احساس کیږي. د افغانستان په پرتله په نړۍ کې په پراخه کچه او پراخه ویشل شوې ډاي اسپورا بیلګه یې شتون لري. میلیونونه خلک ګاونډیو هیوادونو ته له هیواد څخه تښتیدلي، او د دې هیواد روان اقتصادي او دولتي کمزورۍ دا په جنوبي او مرکزي آسیا کې د مخدره توکو قاچاق مرکز ګرځولی دی.

تمه کیږي چې د افغانانو او د هغوی د ګاونډیو ژوند په افغانستان کې د تاوتریخوالی کمیدلو نه وروسته مخ په ښه کیدو شي، او شخړې نه د خواو ترمنځ خبرو اترو ته لاره هواره شي، ځکه چې جګړه د اقتصادي ودې او پرمختګ په لاره کې یو لوی خنډ په توګه لیدل کیږي. احتمال لري چې په نهایت کې، یوازې په سوله کې افغانستان کولی شي کلیدي مسلې لکه دیموګرافیک او چاپیریالي فشارونو ته رسیدګي وکړي او د سرحد او سیمه ییزو ننګونو په ښه کولو لپاره نوښتونو ته معنی داره مرسته وکړي.

### موږ باید څه تمه وکړو - او څه ډول باید غبرګون وښیو؟

پداسې حال کې چې دا په پراخه کچه منل شوي چې د متحده ایالاتو وتل په آسیا کې د امنیت د اقلیم د بدلون لپاره یو مهم فاکتور دی، خو د سیمه ییز امنیت لپاره د هغې لار، او پایلې لاهم روښانه ندي. د افغانستان سناریو څه دي چې ګاونډیان یې کاروي؟ یا هغه فرصتونه چې دوی یې په لټه کې دي چې ګټه واخلي؟ د متحده ایالاتو وتل د افغانستان د ګاونډیو تر مینځ د سمون او شخړې تحرک باندې څه اغیزه کوي؟ بیلابیلې سناریوګانې په سیمه کې د اروپا ګټو او پالیسۍ لپاره څه معنی لري؟

د دغې تګلارې لنډیز د افغانستان د ګاونډیو او مهمو نړیوالو او سیمه ییزو لوبغاړو تر منځ د پالیسیو، لیدونو، چلندونو او بې باوریو لنډیزونه د افغان بین الافغاني خبرو اترو او اوسنۍ پدیدې او همداسې د راتلونکي شخړې تحرک اټکل کوي. سیمه ییز لوبغاړي د کومې سناریو لپاره تیاری نیسي، او دا د دوی په پالیسیو څنګه اغیزه کوي؟

«له ناڅرګندتیا ترستراتیژي پورې: د افغانستان په سیمه کې د راتلونکي بریا- بریا (هراړخیزه بریا) سناریوګانو احتمالات څه دي؟» دا د فریډریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه او بې پرې هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیانو لپاره احتمالي سناریوګانو او د اروپا د پالیسۍ جوړوونکو ترمنځ د پالیسیو د تعدیل او یوې نوې ستراتیژۍ د تدوین پر اړتیا بحث او خبرې وشي. د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ ز. کال په لومړیو کې دغه پروژه، د افغانستان د بین الافغاني خبرو او د اوسنیو لانجو او شخړو د ډینامیک په تړاو، د دغه هېواد د ګاونډیانو اندېښنې، تمې او هیلې او ناډاډمنتیا جوته کړی. فریډریش - ایبرټ بنسټ د ټولو مخاطبینو څخه، چا چې خپل ارزښتناکه نظرونه شریک کړی او ټول هغه کسان چې پدې پروژه کې یې برخه اخیستې مننه کوی.

موږ د دغې پروژې په لړ کې د دغه راپور د لیکوالانو هر یو ښاغلي انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شاران ډېر زیات مننندوی یو، چې د دغې پروژې له پیله خپل تحلیل او بصیرت یې له موږ سره شریک کړی. موږ هیله لرو چې تاسو یې د لوستلو څخه خوند واخلئ او زمونږ نورو مطالبو ته سترګې په لار اوسئ!

**ډاکټر مګدلینا کرچنر**

د فریډریش ایبرټ بنسټ د افغانستان څانګې رئیسه



د پالیسۍ لنډیز

# افغانستان او تر اتلانتیک ها خوا اړیکې

## د متحده ایالاتو او اروپايي ټولنې د همکاریو راتلونکی

انډریو واټکېنز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د پالیسۍ دغه لنډیز، د ناټو او د اروپايي ټولنې د نورو غړو هېوادونو په همکارۍ له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د ملاتړ سیاست څېړي. دغه پالیسي، په دې برخه کې د متحده ایالاتو کورنۍ سیاستونه جوتوي، او دغه چاره ارزوي، چې دغه سیاست څرنګه کولی شي، پر ۲۰۲۱ ز. کال کې له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د ځواکونو بالقوه وتلو ته شکل ورکړي. همدارنګه دغه پالیسي، هغه سناریوګانې څېړي، چې څرنګه یو پوځي شاتګ کولی شي، دغه هېواد اغېزمن کړي او همدارنګه د افغانستان د شریکانو ترمنځ د همکارۍ او راتلونکي مشارکت لېدلوري تر څېړنې لاندې نیسي.

متحده ایالات له ۱۹۷۹ ز. کال راهیسې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه د افغانستان په شخړه او جګړه کې ښکېله ده[1]. متحده ایالاتو د پاکستان له لارې تر کار وروسته، چې ترڅو پر ۱۹۸۰ز. کال د شوروي ځواکونو پر وړاندې د مجاهدینو د اړتیا وړ وسلې او تجهیزات برابر کړي او په پایله کې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماته وخوړه، د دغه هېواد په تړاو د خپلې پاملرنې په کچه کې کموالې راوستله؛ په دې توګه افغانان په ټوله معنا له بهرني ملاتړ څخه بې برخه شول. دغه خلا، د یوې دورې شدیدې کورنیو جګړو لامل شو، چې یوازې د طالبانو په واک کې رسېدو سره کابو شو، او طالبانو، یو زورواکې حاکمیت د بې بندوبارو جګړو ځایناستې وګرځاوه. متحده ایالات، له خپلو اروپايي او نړیوالو متحدینو سره د ۲۰۰۱ ز. کال له وروستیو یو نوی ټولنیز نظم تر لاس لاندې ونیوه، په داسې حال کې، چې کابل او نور ښاري مراکز یې ثبات ته ورسول.

### د امریکا سیاست، د افغانستان جګړه

له هغه ځایه، چې داسې ښکاري، چې متحده ایالات یو ځل بیا دې هڅې ته لېوالتیا لري، چې افغانستان پرېږدي، د دغه هېواد او سیمې په تړاو د اروپايي سیاسي غبرګون په تړاو پوښتنې مطرحې دي: آیا د سولې په تړاو د متحده ایالاتو کړنلاره، د افغانستان په تړاو تر اتلانتیک ها خوا اړیکې زیانمنې کړې او که داسې ده، څرنګه کېدای شي، دغه ستونزې ته د پای ټکی کېږدو؟ آیا داسې ظرفیت شته، چې اروپا وکولی شي، هغه امنیتي تشې ډکې کړې، چې د امریکایي ځواکونو په وتلو سره رامنځته کېږي؟ له دې پرته، د اوسنیو امنیتي او (پرمختیایي) مرستو موجوده کچه، چې د اروپايي ټولنې هېوادونو له خوا چمتو کېږي، په راتلونکي کې به میسره وي؟

له هغو اصلي لاملونو څخه، چې دغه پوښتنې پیچلې کوي، د متحده ایالاتو د ټاکنو ناڅرګندتیا او په افغانستان پورې اړوندو سیاستونو باندې د دولت احتمالي تغییر اغېزې دي. تر ټاکنو وړاندې، له هغه مسیر څخه چې د ټرمپ دولت یې غوره کړې، د جوبایدن دولت د مسیر بدلون د څرنګوالي په اړه، شونتیاوې موجودې وي. خو د متحده ایالاتو زیاتره سیاسي او پالیسي جوړوونکي څارونکي خبرداری ورکوي، چې د امریکا بشپړ ځنګ ته کېدل، ښايي وخت او شرایطو ته په پام سره وي. د اوباما د ولسمشرۍ پرمهال، د بهرنۍ پالیسۍ جوړونې په چاره کې د ولسمشر د مرستیال په توګه، جوبایدن تر ډېره بریده په افغانستان کې د ناټو ماموریت د کوچنې کېدو پلوي وو.

### په افغانستان کې د پوځي شتون په تړاو د امریکا د خلکو لېدلوری




---

۱. له ناڅرګندتیا تر ستراتیژۍ پورې پروژه: د افغانستان په سیمه کې د برلاسي کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریډریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، د دغه لړۍ یوه برخه ده، چې د انډریو واټکینز و ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکې ګټې او د افغانستان په دننه او بهر د اصلي شریکانو د ننګنو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: https://afghanistan.fes.de/publications

۲. د https://www.charleskochinstitute.org/news/new-poll-3-in-4-americans-want-troops-home-from-afghanistan-iraq-favor-less-defense-spending-less-military-engagement-abroad ادرس وګورئ.

په وروستیو اونیو کې، د متحده ایالاتو د پوځ او ملي امنیت رسمي چارواکو، د افغانستان د پالیسۍ په اړه د ټرامپ د سیاسي سلاکارانو د څرګندونو په وړاندې شاتګ کړی دی. دغه تولیزې څرګندونې، د افغانستان په تړاو د دغه هېواد له پالیسۍ سره د امریکا دولت په دننه د داخلي مخالفت ښکارندوی دی، چې دغه څه د اګست په میاشت کې هم وښودل شو؛ هغه مهال، چې امریکا تر یوې مودې فشار راوړه، چې د افغانستان له یو شمېر بندیخانو څخه د طالبانو یو شمېر بندیان خوشي شي، او په ورته وخت په بند کې د هغوی د ساتلو په تړاو لابیګري کول. د امریکا پوځ فشار، د داسې چټک شاتګ په وړاندې، چې نه شي کولی د خبرو له لارې د حل او فصل په تمه کې وي، په دې برخه کې داسې ډینامیک ښيي، چې د نومبر میاشتې د ټاکنو پایلو له په پام کې نیولو پرته، ښایي پر خپل حال پاتې شي. همدارنګه داسې ښکاري، چې دغه چاره، له هغه ډینامیک سره ورته دی، چې د متحده ایالاتو د سوریې په پالیسۍ کې څرګنده شوه او د ځوکلن سیاسي مانور لامل شي؛ داسې مانور، چې سیاسي او ډیپلوماتیکي هڅې لا پسې پېچلې کړي، د سیمه ییزو شریکانو باور یې له منځه یوړل او د سیمې په وضعیت کې د ګډوډیو لامل شو.

دغه ډینامیکونه، په واشنګټن کې د افغانستان په تړاو د بحث او خبرو لامل شوی دی او یوې بنسټیزې پوښتنې ته په پام سره رامنځته کېږي: «آیا د پوځي ځواکونو صفر، د صفر په معنا ده؟ » دغه پوښتنه، د سیاسي کټنې او د پالیسۍ کچه منعکسوي؛ په داسې حال کې، چې د متحده ایالاتو د بهرني سیاست څېرې، د ځواکونو د بیرنی وتل، د جګړې د دوام له پایلو سره برابر ګڼي.

## ناټو په هوا کې؟

د سولې خبرو ته د رسېدو په تړاو د متحده ایالاتو ستراتیژي هغه یوې اړخیزې ژمنتیا ته شامله وه، چې نه یوازې د امریکایي ځواکونو وتلو، بلکې د ناټو د تولو غړو هېوادونو د ځواکونو ایستلو شامله وه – البته دغه چاره، د متحده ایالاتو او اروپایي متحدینو ترمنځ د لانجې پر یوه سرچینه بدله شوې ده. په داسې حال کې، چې د فبروري د ۲۹ نېټې د هوکړې لیک تر اعلان وروسته، د ناټو د غړو ترمنځ تولیزه کربنه «د یو بل ترڅنګ او له یو بل پرته» رامنځته شوه، جرمني او نورو اروپایي چارواکو په دې برخه کې له دوی سره د نه مشوره کېدو په اړه خپله ناخوښي وښوده – هغه اصطکاک چې د ځلورو کلونو په موده ان تر افغانستان ها خوا ډېره زیاته پراختیا موندلې. داسې ښکاري، چې د امریکایي چارواکو ترمنځ په دې اړه به کمې پوښتنې شتون ولري، چې د امریکا شاتګ به د اروپایي تولنې د شاتګ لامل هم شي. د ناټو د ناهیلیو سره سره، د متحده ایالاتو په امنیتي زېربناوو او تر پورې د دغه سازمان تړلتیا څرګنده ده.

نیوکې د متحده ایالاتو د ډیپلوماتیکو هڅو تر کړنلارې لوړې دي؛ یو شمېر شریکان په دې اړه اندېښنه څرګندوي، چې د سیمه ییز چوکاټ د یوې هوکړې د انعقاد او رسمیت په تړاو، ډېر اقدامات نه دي ترسره شوي، چې له بین الافغاني خبرو سره ملګرې وي. په داسې حال کې چې متحده ایالات د افغانستان دولت او طالبانو ترمنځ د مستقیمو خبرو د ملاتړ په برخه کې د تحرک د رامنځته کولو او ساتلو په پار، په تولو سیمه کې د منځګړیتوب ډیپلوماسۍ سره لاس او ګرېوان دی، او خپله پاملرنه، د افغانستان او یو شمېر ګاونډیو هېوادونو ترمنځ درېو اړخیزو خبرو ته اړولې ده، خو له سیمه ییزو هېوادونو سره د شریکو او مرستندویو اروپایي هېوادونو د یو ځای کولو په برخه کې ډېر کم کار کړی دی – او تراوسه پورې په دې برخه کې هېڅ راز سیمه ییزې خبرې اترې نه دي ترسره شوي. یو شمېر امریکایي چارواکو ویلي، چې له نړیوالو شریکانو (لکه روسیې، چین او ایران) سره ډیپلوماتیکې ستونزې، په دې معنا دي، که څه هم متحده ایالات سیمه ییزې هڅې تحریک کړي، خو په اوسنیو شرایطو کې نه شي کولی چې په سمه توګه یې مدیریت کړي.

**د امریکایي او اروپایي ځواکونو – د ناټو د غوڅ ماموریت مشارکت**



له ناهیلۍ سره سره، ځو اروپایي چاروکو اعتراف کړی، چې د متحده ایالاتو له ښکېلتیا او زېرباوو پرته، ان د ناټو د متحدینو ترمنځ چې بې ساري دي، د امنیتي مرستو چمتو کولو شونتیا په اغېزناکه توګه له منځه ځي. اروپایي او امریکايي چارواکو په دې برخه کې سره هوکړه لري، چې د متحده ایالاتو له شتون پرته، یو تلپاتي پوځي مسیر د نه منلو وړ دی. د افغانستان په اړه د کورني سیاسي «پاشلتیا»، چې په دې وروستیو کې د یو شمېر اروپایي چارواکو له خوا ورته اشاره شوې، یوازې د داسې څه پر نه دوام ټینګار لري، چې د اوسنیو امنیتي مرستو سره ورته وي. د «له یو بل سره یوځای او له یو بل پرته» شعار هم کولی شي، د اروپا په یو شمېر سیمو کې د بدبینۍ لامل شي. لا هم، که متحده ایالات پرېکړه وکړي، چې په یو بشپړ شاتګ سره مخته حرکت وکړي، داسې ښکاري، چې د دغه کار لپاره، لږ معمول بدیلونه شته.

د افغانستان دولت هم په ښکاره اعلانوي، چې د بشپړ وتلو پالیسي په توګه د متحده ایالاتو سیاست نه درک کوي، ان که د متحده ایالاتو ولسمشر د ټولنیزې رسنۍ اعلامیې په همدغه ورانديز سره، صادروي. په ورته وخت، د کابل د چاروکو او سیاسي څېرو ترمنځ، د متحده ایالاتو په مشرۍ د مرستو لپاره، د نورو بدیلونو د څېړلو په برخه کې، لږ بحثونه کېږي. دغه بحثونه، د ناټو په تړاو څېړنې او د مرستو د اوسنې کچې د ساتلو په موخه د هڅوی د لېوالتیا د ارزونې په اړه نه، بلکې د سیمې هېوادونو سره د اړیکو د ټینګولو په تړاو دي. دغه فعالیت، د متحده ایالاتو د راتلونکو اقداماتو په تړاو د ناډاډمنتیا زېږنده ده، چې کولی شي، د سولې خبرو او د جګړې د دواړو لورو د غبرګون د څرنګوالي په اړه وي.

## د متحده ایالاتو د وتلو لپاره ممکنه سناریوګانې

- «صفر د صفر په معنا ده»: متحده ایالات، هغو شرایطو ته له پاملرنې پرته، چې د خبرو په میز یا افغانستان جګړه کې شتون لري، له طالبانو سره د خپلې هوکړې شرایطو پلیتابه ته دوام ورکوي؛ یعنې د دوحې په هوکړه لیک کې له مخې اټکل شوې مهالوېش له مخې بشپړ وتل (د مي یا د ۲۰۲۱ ز.کال تر نیمایي پورې). د دغه سناریو پر بنسټ، د ناټو ځواکونه هم اړ دي، چې شاتګ وکړي، چې په پایله کې ښایي د اروپا امنیتي او پرمختیایي مرستې تر کره څارنې لاندې راشي. د امنیتي مالي مرستو په لوره کچو سره، په افغانستان کې د امریکا پوځي حضور شالید ته په پام سره، د دغه سناریو په چوکاټ کې، افغان دولت، د بهرني بودجې د راکمېدو او محاسبې ورانديزونې ته به اړتیا ولري. په داسې حال کې، چې نور مرستندویان ښایي ژمنه وکړي، چې دغه بودجه په اوسنۍ کچه د مرستو د راټیټېدو په وړاندې، وساتي، خو دغه چاره لیرې ده، چې د امریکا متحده ایالاتو د امنیتي مرستو د کمېدو یا ځنډېدو په صورت کې، رامنځته شوی خلا ډکه کړي. د مرستو د کمېدو دغه ډول بهیر، کولی شي، د جګړې او امنیتي فضا پر لرې، له فاجعې ډکې پایلې د هېواد په لر او بر کې ولري.
- «د ورکړې له لارې ورکړه»: متحده ایالات له خپلو وروستیو پاتې شویو سرتېرو څخه د طالبانو (او احتمالا افغان دولت) پر وړاندې ګټه اخلي، ترڅو د سولې د پروسې د پرمختګ په برخه کې تري کار واخلي. دغه چاره یوازې تر هغه وروسته، پوځي وتل نهایي کوي، چې دواړه لوري د جګړې د پای ته رسېدو په پار یوې سیاسي هوکړې ته ورسېږي. په دغه سناریو کې، د پوځي ځواکونو کمېدل کولی شي، په ښکاره بڼه، د امریکا او نورو لویدیځو مرستندویانو د مالي تمویل د لړۍ د کموالي پیل وي، خو په افغانستان (تر اتلانتیک ها خوا اړیکو) کې د ورته امنیتي منفي اغېزې پرته. دغه سناریو، همدا راز په ایده یاله توګه، د متحده ایالاتو او په ناټو کې د هغه د شریکانو ترمنځ د سلا مشورې او ګډو ستراتیژیو تدوین ته شامل شي.
- معکوس مسیر: د متحده ایالاتو سیاسي مشرتابه ښایي پرېکړه وکړي، چې له افغانستان څخه د ځواکونو د شاتګ له ژمنتیا څخه ډډه وکړي، او لامل یې په افغانستان کې د طالبانو د تاوتریخوالي دوام او یا له القاعده یا نورو تونډلارو ډلو سره د دغه ډلې د اړیکو دوام وښیي. دغه چاره، په پرېکنده توګه د سولې د خبرو اوسنی چوکاټ، چې طالبانو په بنسټیزه توګه د بهرنیو ځواکونو د چټک وتلو څخه د ډاډمنتیا په پار پکې داخل شي، وځنډوي. په پایله کې، افغان دولت، د جګړې د دوام لپاره، د ناټو او امریکا له خوا د امنیتي او پرمختیایي مرستو د اوسنۍ کچې د دوام او ساتلو لپاره به غوښتنه وکړي. لا جوته نه ده، چې اروپایي مرستندویان او د ناټو متحدین، د روان کال په لومړیو کې د ځواکونو د شاتګ له سناریو سره تر مخامخېدو وروسته، دغه شاتګ یا د امنیتي یا نورو مرستو د لوړې کچې غوښتنې غبرګون ښیي. دغه ډول شاتګ کولی شي، له فاجعو ډک لومړۍ سناریو وروسته به صورت ومومي، چې له امله یې اروپایي هېوادونه تر ډېره بریده د افغانستان کورني جګړې تر پراخو اغېزو لاندې راشي.

## وړاندیزونه

- د پالیسۍ له هغې کړنلارې پرته چې د متحده ایالاتو دولت یې تر لاس لاندې نیسي، اروپايي هېوادونه تر هغه مخکې، چې په متحده ایالاتو د سیاسي بدلون په پایله کې کوم تغییر رامنځته کېږي، دې ته اړتیا لري، چې په ایډیال ډول د افغانستان په اړه یو خپلواک دریځ خپل کړي. د ناټو غړي هېوادونو او نور اروپايي مرستندویانو ډېر ژر په دې برخه کې خپل لنډمهالې او منځمهالې کړنلارې او ژمنتیاوې ترسیم کړي، چې دغه چاره به د افغان دولت د زیاتې ډاډمنتیا لامل شي.

- د افغانستان ملاتړ اروپايي هېوادونه باید د امنیتي مرستو ځانګړې او یو موټې دریځونه ولري، او په دغه هېواد کې له پوځي حضور پرته د مالي او مشورتي مرستو په اړه د «یو بل ترڅنګ او له یو بل پرته» شعار پایلې روښانه کړي.

- متحده ایالات باید له ځنډ پرته، د ناټو خپلمنځي ډیالوګ کچه په لوړه کچه زیاته کړي، او په افغانستان کې د سولې او جګړې لپاره په خپله ستراتیژیکه کړنلاره کې د خپلو متحدینو ګټو او اندېښنو ته پام وکړي.

- متحده ایالاتو د هغه څه په اړه روښانه توقعات او غوښتنې مطرح کړي، چې نړیوال شریکان (لکه د ناټو له چوکاټ بهر متحدین او مرستندویان) کولی شي، پر افغان دولت او سولې بهیر د اغېزشنیدلو په تړاو کولی شي؛ په داسې حال کې چې بیا هم د فشار اهرم شتون ولري، لکه ژمنتیاوې، امنیتي همکارۍ، ان د مهاجرت پالیسۍ. د متحده ایالاتو پالیسۍ، نورو نړیوالو شریکانو ته دا امکان ورکړی، چې په «شاته څوکۍ» کې دې کښیني او لا هم ناڅرګند دریځ ولري، چې دغه چاره کولی شي، له نږدې متحدینو سره په اقدام سره اصلاح شي.



په افغانستان کې امریکايي ځواکونه/dougg

### د لیکوالانو په اړه

انډریو واټکینز، د افغانستان د سولې او جګړې د لیدلورو په تړاو یو څېړونکی دی، او د شخړو په مخنیوي کې په ژوره توګه ښکېل دی. هغه تر دې مخکې، په افغانستان کې له ملګرو ملتونو سازمانونو، بشري ټولنو، متحده ایالاتو او همدارنګه د خپلواک څېړونکي په توګه کار کړی دی.

ډاکټر تیمور شاران، په افغان امریکايي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ استاد دی، او تر دې مخکې د افغانستان په برخه کې د بحران نړیوالې ډلې مخکښ شنونکی و.

### د پښتۍ د انځورونو په اړه:

د متحده ایالاتو دفاع وزیر مارک ایسپر، جینس ستولتنبرګ د ناټو عمومي منشي، د افغانستان اجراییه مشر ډاکټر عبدالله عبدالله او ولسمشر اشرف غنی، چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ مه نېټه په کابل کې یوخبري ناستې لپاره سره راټول شوي وو.

انځور: محمد اسماعیل

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فریدریش ایبرت بنسټ له لیکلې مخکینۍ اجازې پرته، د فریدریش ایبرت بنسټ له خوا له هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوې نظریې د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلوري منعکسوونکې نه دي.



د پالیسۍ لنډیز

# له ۲۰۲۱ ز.کال وروسته په افغانستان کې د اروپا ښکېلتیا

## ناڅرګندتیا، پراګماتیزم، او دوامداره ګډون

اندریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه د پالیسۍ لنډیز په ۲۰۲۱ ز.کال کې او له هغې وروسته له افغانستان سره د اروپا ښکېلتیا تر بحث لاندې نیسي. دا له مهالوېش سره سم په ۲۰۲۱ ز.کال کې له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو وتل او د اروپا پر ګټو یې اغېزې او دا چې څرنګه به په راتلونکي کې د اروپا د پالیسۍ غوراوي محدود کړي، تر څېړنې لاندې نیسي. دا د افغان سولې خبرو او همدارنګه د پلان جوړونې ستونزو په اړه د اروپايي ټولنې د اوسني دریځ پر وړاندې باالقوه خنډونه څېړي، په داسې حال کې چې اروپايي هېوادونه په لویه پیمانه د امریکا متحدو ایالتونو د یو اړخیزې پراخېدونکې پالیسۍ په اړه څرګندوالی غواړي. باثباته افغانستان د اروپا اوږدمهالو امنیتي اندېښنو لپاره حیاتي دی او په راتلونکي کې د مخ ته تګ لپاره سپارښتنې وړاندې شوې دي.

اروپايي ټولنې او اروپايي هېوادونو د ۲۰۰۱ ز.کال په وروستیو کې د امریکا متحدو ایالتونو او ناټو له مداخلې وروسته د افغان حکومت او ټولنې په ثبات کې د پام وړ مرسته کړې ده[1] په داسې حال کې چې له افغانستان سره د اروپا ښکېلتیا له استعمار وروسته دورې ته ګرځي؛ د بېلګې په توګه، په ۱۹۳۰ ز.کال کې په بیارغونه کې د جرمني رول، معاصرې اړیکې په اساسي ډول د امریکا متحدو ایالتونو له لوري تعریف شوې دي. له ۲۰۰۱ ز.کال څخه را په دې خوا د امریکا متحدو ایالتونو د ټینګار په ترڅ کې د ناټو غړو هېوادونو خپلې پوځي همکارۍ دوامداره ساتلې دي (یا دا چې په تدریج سره وتلي دي). خو په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ ز.کلونو کې د افغان کډوالو په ګډون چې له جګړې تښتېدلي وو، د کډوالو بحران د سوریې له جګړې راپورته شو، ډېری اروپايي هېوادونو لږ قناعت ته اړتیا درلوده ترڅو د دوی له خوا ومنل شي چې د افغانستان ثبات د دوی په ګټه دی.

## په افغانستان کې د اروپا ننګونه: د ناڅرګندتیا ترمنځ پلان جوړونه

اوسمهال، دا چې په افغانستان کې د امریکا پوځي شتون او ډیپلوماتیک نفوذ نور د نه ښکېلتیا پر لور میلان لري او د افغان سولې تازه پیل شوې پروسه لا دمخه اړو دوړ او ګواښونه تجربه کوي؛ داسې چې د هېواد په کچه جګړه دوام لري او اروپايي پالیسي جوړوونکي له ډېرو پوښتنو سره لاس او ګرېوان دي. که د سولې خبرې د جګړې پر وړاندې سیاسي جوړجاړی رامنځته کړي، بڼه به یې کوم ډول وي، طالبان به په نوي سیاسي نظم کې کوم ډول رول غوره کړي او دا به د اروپايي مرستو او پانګونې لپاره څه معنی ولري؟ د پوځ له راکمېدو وروسته د شونتیا په صورت کې د امریکا متحدو ایالتونو د شتون او ښکېلتیا راکمېدل به (او د ۲۰۲۱ ز.کال تر مې میاشتې پورې د بشپړ وتلو شونتیا) د اروپا راتلونکو امنیتي مرستو لپاره څه معنی ولري؟ دلته د اروپايي ټولنې د نوي بدیل د ښکېلتیا په اړه د اړتیا وړ وضاحت نشته. د پایلې په توګه، ډېری اروپايي هېوادونه غواړي چې د شونتیا تر بریده د افغان کډوالو بېرته راګرځول پیل کړي، خو د تاوتریخوالي کچه لکه د تېرو کلونو د جګړو په څېر خورا لوړه ده.

د افغانستان لپاره د اروپا د ښکېلېدو پلان جوړونه د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو د استازو ترمنځ د سولې خبرو په پایلې پورې اړه لري. بیا هم د سولې خبرو په اړه اروپايي دریځونه کولی شي چې په راتلونکې پالیسي جوړونه کې اوږدمهالې اغېزې ولري.

پخپله اروپايي ټولنه او ډېری اروپايي حکومتونه په دې اندېښنه کې دي چې د امریکايي او ناټو پوځونو له راکمېدو سره به د افغانستان پر وړاندې د دوی پالیسۍ کوم ډول بڼه او حدود غوره کړي؛ نو ځکه ډېری افغانان او اروپایان شته چې له اروپا غواړي «دې پوښتنې ته ځواب ورکړي»، ترڅو اړتیاوې او ننګونې په نښه او روښانه شي. په حقیقت کې اروپايي پالیسي جوړوونکي خورا واضح دي: د امریکا متحده ایالاتو د پوځي ځواک له دوامداره مرستې پرته د دوی حکومتونه نه شي کولی چې په عمل کې خپل پوځي شتون او یا هم مرستو ته دوام ورکړي. اروپايي بسپنه ورکوونکي حکومتونه او د ناټو پوځونو ملاتړي دولتونه داسې ښکاري چې د افغان جګړې راتلونکي، د جګړې شدت زیاتوالي باالقوه عاملونو او همدارنګه سیاسي جوړجاړي او مخکې له دې چې په اوږدمهاله ښکېلتیا او ملاتړ کې له ګواښ سره مخ شي، د راتلونکي افغان حکومت د ترکیب په اړه وضاحت غواړي.

۱. د «له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: د افغانستان په ګاونډ کې د ګټونکو سناریوګانو لپاره خنډونه کوم دي؟» پروژه د فریډریش-ایبرت-بنسټ (FES) خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیو لپاره احتمالي سناریوګانې، د پالیسۍ سمون او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړونکو ترمنځ د هر اړخیزې ستراتیژۍ اړتیا تر بحث او څېړنې لاندې نیسي. دغه لنډیز د هغې سلسلې برخه ده چې د انډریو واټکینز او دوکتور تېمور شاران له لوري لیکل شوی دی چې د امریکايي ځواکونو وتلو او د افغان سولې روانو مذاکرو اغېزې د پالیسۍ پر شته وسایلو یا توکو، ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کې او له افغانستان څخه بهر د کلیدي ښکېلو غاړو لپاره ننګونې تر بحث لاندې نیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ لېست له دې ځای څخه ترلاسه کولای شئ: https://afghanistan.fes.de/publications

## اصول د پراګماتیزم پر وړاندې؟

د افغان سولې په اړه د اروپايي ټولنې «اصولي دريځ» لکه څرنګه چې په عمومي ډول ورته اشاره شوې، د نیوکې له اړخه د «انتظار او لید» په لیکه کې دی. ځینې کتونکي په دې اند دي چې د اروپا اوږدمهالې ښکېلتیا ناڅرګندتیا رامنځته کړې ده. د سولې پروسې په اړه د اروپايي ټولنې د شورا اعلامیه په مېیاشت کې خپره شوه، چې پر بنسټ یې له طالبانو او افغان حکومت سره راتلونکې مرستې د بشري حقونو او شخصي ازادیو په خوندیتابه پورې چې د ملګرو ملتونو په منشور کې ورته اشاره شوې ده، مشروطې کړې دي. دا په دې معنی چې مناسبه حللاره څرګنده او د افغانستان اسلامي جمهوریت باندې د مذاکراتو د پیل په ترځ کې ملاتړ بند نه شي. په راتلونکې کې د دغو پایلو اغېزې پراخې دي. د ښکېلتیا لپاره اروپايي غوراوي به د محدودو کړنلارو په ګډون چې ناټو له خپله ځانه شاته پرېښي دي، د عمل په میدان کې د واقعیتونو پر اساس شکل غوره کوي. د بشري حقونو په پیروۍ ټینګار، کولی شي چې د اروپا نفوذ نور هم محدود کړي او دا چې څه شی له جګړې په وروسته چاپېریال کې د ننګونې په توګه پاتې کېږي، اغېزه کوي.

د اروپايي ټولنې ځینو چارواکو پوښتنه وکړه چې ایا د مرستو مشروطول دوام وکړي او کنه او غوښتنه یې وکړه چې د سولې په پروسه کې اوږدمهالې ژمنې باید په مستقیم ډول په روانو تمایلاتو پورې ونه تړل شي او په راتلونکې نومبر کې د جنیوا په کنفرانس کې ورته اشاره ونشي. خو ځینو افغان چارواکو او فعالانو د اروپايي ټولنې دریځ وننګوه او ویې پوښتل چې ایا د مرستو او پرمختګ محدودول به وکولی شي په واقعي ډول له افغانانو څخه د اروپايي ټولنې تمویل او ملاتړ چې ورته ډېره اړتیا شته منع کړي او اجازه ورکوي چې سخت دریځه طالبان یې په یرغمل کې ونیسي؟ مشروط ملاتړ داسې چې ارزښت او غوښتنه یې وپېژندل شي ترڅو د طالبانو په ګډون د ټولو ښکېلو غاړو لپاره یې دوام ډاډمن شي. خو که طالبان پر دې پوه شي چې دوی د اروپا له ملاتړ او د امریکا متحدو ایالتونو او همدارنګه له سولې څخه په وروسته چاپېریال کې ژوندي پاتې کېدلی او خپلو کړو وړو ته دوام ورکولی شي، نو د اروپايي ټولنې د مرستو مشروطول به رد او د اروپايي ټولنې په وړتیا کې چې له افغانستان څخه ملاتړ او نفوذ وکړي، د پام وړ کمی راشي.

د اروپايي ټولنې د ډیپلوماتانو د وینا پر بنسټ، طالبان نه یوازې د افغانستان د کنټرول په هڅه کې دي بلکې هڅه کوي چې ټول دولت کنټرول او په عملي دول په نړیوال سیستم کې ځای ولري. لړ تر لږه یوه چارواکي داسې دلیل وړاندې کړ چې په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د مالي ملاتړ پراخوالی چې د نړۍ په کچه ستر ګټه وړونکی هېواد دی، دا به ناشونې وي چې ځای یې بل څوک ونیسي (نو ځکه اروپايي تمویلوونکو ته د ګروپ پر سر نفوذ ورکړل شو). تر دې دمه دغه استدلال دوام لري ترڅو د افغان سیاسي څېرو له لوري له نیوکې سره مخامخ شي او د یوې ازادې پوښتنې په توګه پاتې دی، داسې چې اروپايي ټولنه او غړي هېوادونه یې باید له راتولېدو څخه دمخه په ښه ډول یې په نښه کړي.

همدارنګه د افغانستان اروپايي همکاران هم د دوی په راتلونکو پالیسیو کې له عملي محدودیتونو سره مخامخ دي. د ناټو راتلونکې لپاره باالقوه عامل مبهم دی، هغه ابهام چې د امریکا متحدو ایالتونو او اروپايي همکارانو ترمنځ د جنجال په ساحه باندې ټینګار کوي. د امریکا متحدو ایالتونو له لوري د مذاکرې مېز ته د افغان لوریو د لاربشوونې په اوږدو کې د ناټو له غړو هېوادونو سره په پراخه کچه مشوره نه وه شوې. د افغانستان راتلونکې امنیتي مرستې په اړه په ناټو کې دننه بحثونه او اوږدمهاله پلان جوړونه، په سازمان کې دننه د امریکا متحدو ایالتونو له حد څخه زیات رول له لارې ترسره کېږي. په پای کې، د لوجستیکي غیر عملي توب په صورت کې د ناټو مهم ماموریت مخ ته وړل د ډېرو غوراویو پر وړاندې دروازه بندوي، چې «یوځای دننه، یوځای بهر» لړ انتخاب او ډېرې اړتیاوې رامنځته کوي. د امریکايي ځواکونو د بشپړ وتلو په صورت کې د ناټو امنیتي مرستو د دوام لپاره کوم احتمالي غوراوی نه تر سترګو کېږي.

ایا د اروپايي سیاسي څېرو ترمنځ به په کافي اندازه لېوالتیا موجوده وي چې د افغان دولت د ملاتړ دوام ډاډمن کړي؟ په تېرو پنځو کلونو کې د غړو هېوادونو له ملاتړ څخه پرته، د اروپايي ټولنې تمویل په یوازې ځان ۱،۴ ملیارد ډالرو ته رسېږي، خو که د متحدو ایالتونو تمویل راکم شي، نو ملیاردونو نورو ډالرو ته به اړتیا شي ترڅو دغه تشه جبران کړي. د اروپايي ډیپلوماتانو ترمنځ اوسني بحثونه له دې امله دي چې کېدای شي د ژمنو ترلاسه کول ستونزمن وي ترڅو د تمویل اوسنۍ اندازه په خپل حال وساتل شي، چې د امریکا متحد ایالتونه په ډېره کمه اندازه پاتې شوې تشه ډکوي. ځینې له دغو پوښتنو څخه په مناسب او پراخ ډول د اروپايي ښکېلو غاړو له لوري په نښه شوي دي، په داسې حال کې چې نور بې ځوابه پاتې دي. یو شمېر اروپايي چارواکي د افغان جګړې په تړاو د «ستړیا احساس» په اړه ربښتیني دي، چې د لویې وچې په کچه د ډېرې (که ټول نه وي) سیاسي ګوندونو او وګړو له لوري ورته احساس شوی دی. لږ تر لږه د یوه لوړ رتبه چارواکي له لوري دا په روښانه ډول تصدیق شوې چې که د افغانستان جګړه او یا هم د سولې پروسه خورا بده شي، نو د مرستو شرطول به له زغم څخه واوړي.

> په پای کې، د امریکا متحده ایالاتو له ګډون پرته د لوجستیکي غیر عملي توب په صورت کې د ناټو مهم ماموریت مخ ته وړل د ډېرو غوراویو پر وړاندې دروازه بندوي، چې «یوځای دننه، یوځای بهر» لړ انتخاب او ډېرې اړتیاوې رامنځته کوي.

## د افغانانو اندېښنې او بالقوه کړلېچونه

د نوې پيل شوې سولې خبرو په اړه د اروپايي ټولنې اصولي دريځ او د امريکا متحده ايالاتو په رهبرۍ له لاندې کړنلارې سره د پام وړ مخالفت، د افغان پوهانو پاملرنه يې ځانته را اړولې ده. همدارنګه دغه دريځ په افغان چارو کې له اندازې لوړ د جرمنۍ او دوه اړخيز ملاتړي په توګه د دوی موازي رول او ان د سولې په پروسه کې د درېيم ګړي په توګه د دوی د لوړ رول په ګډون، د اروپايي ټولنې د ځانګړو هېوادونو پاملرنه يې هم ځانته را اړولې ده. ځينې وختونه دولتونه په خپلواک ډول د اروپايي ټولنې له عموي کرښې پرته بېلابېل دريځونه غوره کوي، ځينې وختونه په خصوصي ډيپلوماتيکه ښکېلتيا کې، په نورو وختونو کې د افغان چارو پر وړاندې داسې دريځ غوره کوي چې خپلو وګړو ته خبر ورکوي. کله چې خبره د افغانستان د پاليسۍ شي، نو د اروپايي هېوادونو ترمنځ د ګڼو بېلابېلې کچې راولاړېږي او له ډېرې افغان چارواکو سره دا پوښتنه مطرح کېږي چې ايا شونې ده «اروپايي» راتلونکې ښکېلتيا واحده تشخيص شي.

همدارنګه، سره له دې چې د اروپايانو اندېښنې په زياتېدو دي او په خپله د افغانانو لپاره شرايط هم ډېر بد دي، خو بيا هم په اروپا کې د کډوالو او بېرته راګرځېدونکو موضوع په زياته اندازه د اروپايي او افغان ښکېلو غاړو ترمنځ په خبرو کې ترې ډډه شوې ده. په ۲۰۱۹ ز.کال کې افغان وګړو په لوړه کچه د اروپايي ټولنې په هېوادونو کې پناه غوښتله. دا غټ شمېر دی چې د جګړې په شدت کې د زياتوالي له امله ډېر شمېر افغانان له هېواد څخه تېښته کوي؛ له ۲۰۱۸ ز.کال را په دې خوا د افغانانو په شمېر کې ۸۵ سلنه زياتوالی راغلی دی. په داسې حال کې چې د کډوالو او بېرته راګرځېدونکو د راتلونکې پاليسۍ په اړه په ښکاره ډول په کمه اندازه خبرې شوې دي، د اروپايي ټولنې پايله کېدای شي چې د اروپايي غوښتنو پر وړاندې د اندېښنې وړ اشاره وي.

دغه ټولنه يو ځل بيا خپله ژمنه چې په «ګډه مخ ته تلونکې لار» کې ده، تصديقوي چې په ۲۰۱٦ ز.کال کې لاسليک او په دې اکتوبر کې له منځه ځي؛ دا هغه اعلاميه ده چې د شونتيا پر مهال هڅه کوي د افغانانو تبعيد ته سهولتونه چمتو کړي. د مخ ته تګ ګډه لار چې د راتلونکې جنيوا کنفرانس په سيورې کې به يو ځل بيا پرې خبرې وشي او د سولې نويو خبرو لپاره لنډ وخت، په بالقوه توګه د مشروطولو او منلو په شرايطو کې فشار راوړي.

يو شمېر سناريوګانې د افغانستان په سياسي او امنيتي چاپېريال کې د ښه والي يا مخ ته تګ ښکاروندويي کوي. د ډېرو ننګونو سربېره، مذاکرې پر مخ ځي او سياسي جوړجاړې د دواړو جګړه ييزو افغان لوړو ترمنځ رسېدلی دی، دلته دوه لارې دي: د يوې په پايله کې به په نوي مديريت کې د قدرت شريکول وي چې اروپايي دولتونه پر دې باور دي چې دوی ورسره کار کولی شي، په داسې حال کې چې په بله پايله کې که موضوع د بشر حقونو شي، نو کېدای شي د خلکو له غوښتنو سره برابره نه وي. که اروپايي ټولنه او غړي هېوادونه يې اوسنيو اعلان شويو شرايطو ته ژمن پاتې شي، نو د افغانستان پر وړاندې د اروپايي ټولنې اوږد مهاله اړيکه به د نوې کړنلارې له مخې مشخص شي. په عين وخت کې، د ښکېلتيا په موخه ډېرې اروپايي ليارې په هېواد او سيمه کې د امريکا متحده ايالتونو د کړنلارو په منظم کولو پورې اړه لري؛ د امريکا متحده ايالتونو بالقوه وتل به پرته له دې چې د هغې پليتوب، په عمل کې اغېزې او د مداخلې غوښتنه په پام کې ونيول شي، اروپايي غوراوي محدود کړي.




**په اروپايي ټولنه او نورو هېوادونو کې د افغان پناه غوښتنې غوښتنليکونو د مېشتېدو لومړی بېلګه**

سرچينه: د اروپا د پناه غوښتنې د ملاتړ دفتر




**په اروپايي ټولنه او نورو هېوادونو کې د مېشتېدو لپاره د افغان پناه غوښتونکو غوښتنليکونه**

سرچينه: د اروپايي پناه غوښتنې د ملاتړ دفتر

## وړاندیزونه

- هر ډول د ناټو ماموریت ته د پای ټکی ایښودل به د امنیتي مرستې او پرمختیایي ملاتړ ترمنځ د بسپنه ورکوونکو ترمنځ اوسنی وېش ونګوي. که څه هم د اروپایي ټولنې/CSDP غښتلي ماموریت د پر مخ وړلو لپاره کمه لېوالتیا شتون لري، غړي هېوادونه اړتیا لري چې د امنیتي سکټور اهمیت ته پاملرنه وکړي او خپلې پالیسۍ منظمې کړي (داسې چې د دولت او ملي ماتوالی کولای شي اروپایي ګټې له خطر سره مخ کړي).
- په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ښکېلتیا لپاره مستقیم او سم حکایت او ستراتیژي رامنځته کړئ چې دا د بهرنیو ټکانونو پر وړاندې ډېر انعطاف رامنځته کوي (له «یوځای سره دننه، یوځای سره بهر» سره په مخالفت کې).
- د افغان سولې خبرو پر وړاندې د اروپایي ټولنې داخلي کړنلاره یو ځل بیا وارزوئ، په ځانګړي ډول څرنګه بسپنه ورکوونکي ملاتړ نوښتونه کولای شي چې د سولې په پروسه اغېزه وکړي، د بېلګې په توګه، د جنیوا کنفرانس مهالوېش او اغېزې یا د ګډې مخ ته تلونکې لارې په تړاو بیامذاکره کول.
- په راتلونکې کې له افغانستان سره د ملاتړ مشروطولو ټینګار ته دوام ورکړئ، خو د دغو شرایطو د معیارونو او پلیتابه په اړه له افغان ښکېلو غاړو سره پراخه او هر اړخیزه تبادله پیل کړئ، ترڅو د داسې انګېرنو مخه ونیول شي چې کېدای شي یو لوری د «اروپایي ټولنې مرستې یرغمل ونیسي».
- د مرستو د کچې د راکمولو په لړ کې د افغان بنسټونو د هڅو ملاتړ وکړئ، چې د مرستو اغېزمنتیا لوړه شي او د بسپنه ورکوونکو ترمنځ د همغږۍ په رامنځته کولو کې زیار وباسئ، ترڅو د دوه ګونو مرستو او هڅو مخه ونیول شي.

---


**د لیکوالانو په اړه**

داکتر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله مندۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.


**د پښتۍ انځور په اړه**

د هغه وخت د جرمني د دفاع وزیره، د اروپایي ټولنې د کمېسیون مشره، ارسولا وان ډر لېین د کابل په هوایي ډګر کې، افغانستان، ۲۶ مارچ ۲۰۱۸.

مایکل کېپلر/رویټرز


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریډریش ایبرټ بنسټ



وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فریډریش ایبرټ بنسټ لخوا خپاره شوي نشراتو څخه هر راز سوداګریز کارول د فریډریش ایبرټ بنسټ له لیکلې اجازه نامې پرته جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د د فریډریش ایبرټ بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.



د پالیسۍ لنډيز

# ناسته؟

## روسیه، افغانستان او اروپا

تیمور شاران، انډریو واټکینز

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه د پالیسۍ لنډیز په ۲۰۲۱ ز.کال کې او له هغې هاخوا له افغانستان سره د روسیې شکېلتیا تر څېړنې لاندې نیسي. دا چې څرنګه په ۲۰۲۱ ز.کال کې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به د روسیې سیمه ییزې او کورنۍ ګټې اغېزمنې کړي، تر بحث لاندې نیسي. دا له افغانستان سره د روسیې راتلونکې شکېلتیا، سناریوګانې، اغېزې او په کابل، مسکو او د اروپا په نورو پلازمېنو کې د پالیسۍ سمون لپاره اړتیا څېړي. همدارنګه د افغانستان په تړاو له اروپایي همکارانو سره د نږدې همکارۍ لپاره د بلقوه همغږو ساحو بیاکتنه هم کوي.

د افغانستان پر وړاندې د روسیې ستراتیژیک بدلون نولسمې پېړۍ ته رسېږي، داسې چې کله روسیې په خپله سوبله پوله کې افغانستان د سترو قدرتونو لپاره د لوبې سیمه وګڼله؛ لومړی له برتانیا او بیا د سړې جګړې پر مهال د امریکا له متحدو ایالتونو سره. په تېرو څلورو لسیزو کې، د افغانستان په تړاو د روسیې ستراتیژیک منطق د خونړۍ تجربې پر اساس ولاړ و چې په پایله کې په ۱۹۷۹ ز.کال کې یې د شوروي ناکامه یرغل ته لار اواره کړه. په ۱۹۹۲ ز.کال کې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ځایناستي رژیم له نسکورېدو وروسته، روسي پالیسي پوهان افغانستان ته د سخت دریځه اسلام، تروریزم، نشه یي توکو او بې ثباتۍ په ګډون د راتلونکو اغېزو سره مل د امنیتي ګواښ په سترګه ګوري. په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو په مشرۍ د ناټو د مداخلې په لومړیو کلونو کې روسیې دغه ماموریت ته د سیمه ییز ثبات د یو فکتور په سترګه کتل، خو په ۲۰۱۴ ز.کال کې د امریکایي ځواکونو له راکمېدو وروسته په افغان جګړه کې یې ټول اړخونه ښکېل کړل ترڅو د بې ثباتۍ خطر د خپل ځان او مرکزي اسیا پر وړاندې راکم کړي. د امریکا متحدو ایالتونو او روسیې ترمنځ د سترو ځواکونو د سیالۍ او مرکزي اسیا ته له افغانستان څخه د راولاړېدونکي بالقوه ګواښونو سربېره، روسیه به په یقیني ډول د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان په پېچلي جیوپولیټیک کې پیاوړی لوبغاړی وي.

## روسیه په افغانستان کې: ناڅرګنده پالیسي

روسیه، افغانستان ته د امریکا متحدو ایالتونو د ستراتیژیک امنیتي ګټې د لید له لارې ورته ګوري، چې باید کمزوری شي ترڅو د ناټو د پراختیا مخه ونیول شي. په ورته مهال، د امریکا متحدو ایالتونو او اروپایي ټولنې له اندېښنې ډکې اړیکې او روسیه په نورو نړیوالو موضوعاتو کې (د بېلګې په توګه، د ناټو له پراختیا څخه نیولې بیا په اوکراین او سوریه کې تر نیابتي جګړې پورې) په نامستقیم ډول د افغانستان پر وړاندې د روسیې پالیسي ناڅرګنده کړې ده. داسې چې په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو د شتون پر وړاندې د روسیې اوسنی دریځ کولی شي چې په ناڅرګندتیا کې ښه تعریف کړو.

مسکو په افغانستان کې د ناټو اوږدمهاله شتون د خپلو سیمه ییزو ګټو پر وړاندې جدي ګواښ ګڼي؛ همدارنګه د امریکایي ځواکونو ناڅاپي او بېړني وتلو په اړه خبرداری هم ورکړی، چې ښایي سیمه ییز امنیت په ځانګړي ډول د مرکزي اسیا کمزوري جمهوریتونه بې ثباته کړي. په افغانستان کې د روسیې بنسټیزه امنیتي لېوالتیا د داعش په ګډون مرکزي اسیا او روسیې ته د تروریزم او سخت دریځه اسلام د پراختیا مخنیوی دی.



قفقاز او مرکزي آسیا. سرچینه: د ویکیپیډیا کامنس

۱. «له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: د افغانستان په ګاونډ کې د ګټونکو سناریوګانو لپاره خنډونه کوم دي؟» دا پروژه د فرېډرېش-اېبرټ-بنسټ (FES) خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیو لپاره احتمالي سناریوګانې، د پالیسۍ سمون او د اروپایي بهرنیو پالیسي جوړونکو ترمنځ د هر اړخیزې ستراتیژۍ اړتیا تر بحث او څېړنې لاندې نیسي. دغه لنډیز د هغې سلسلې برخه ده چې د انډریو واټکېنز او دوکتور تېمور شاران له لوري لیکل شوی دی چې د امریکایي ځواکونو وتلو او د افغان سولې روانو مذاکرو اغېزې د پالیسۍ پر شته وسایلو یا توکو، ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کې او له افغانستان څخه بهر د کلیدي ښکېلو غاړو لپاره ننګونې تر بحث لاندې نیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ لېست له دې ځای څخه ترلاسه کولای شئ: https://afghanistan.fes.de/publications

روسیه په تاریخي ډول مرکزي اسیا د خپل نفوذ ساحه بولي او په سیمه کې د ثبات رامنځته کوونکي په توګه عمل ترسره کوي؛ بې ثباتي ډېری مهال د روسیې د ظرفیت نشتوالي او یا هم د سرچینو د تخصیص له نشتوالي سره مل وي. په ۲۰۲۰ ز.کال کې د لاریون کوونکو له لوري د قرغېزستان لومړي وزیر کوبتبېک بورونوف ګوښه کول د دغو هېوادونو او اړیکو د کمزورۍ نښه ده. د زبرځواک په توګه د مسکو مطرح کېدل داسې په ډاګه کوي چې که نور څه نه وي نو په موجود نړیوال نظم کې د روسیې خپل درک داسې وړاندیز کوي چې روسیه به دغه هېوادونه له افغانستان څخه د راولاړېدونکي امنیتي ګواښ پر وړاندې خوندي کړي. دا واقعیت دی چې په تېرو دوو لسیزو کې له افغانستان سره د روسیې اړیکې کمزورې وې او پر ځای یې له مرکزي اسیا سره اړیکې پراخې شوې دي، چې روسیه له دغو هېوادونو سره د هغوی د پولو د امنیت په ټینګښت کې مرسته کوي.

مسکو له کابل سره ښې اړیکې لري په داسې حال کې چې د طالبانو مالي او وسله وال ملاتړ کوي او د هېواد په شمال کې له توکمیزو سیمه ییزو زورواکو او مخورو سره خپلې اړیکې پراخوي . په افغان جګړه کې د ټولو اړخونو په لوبولو سره د روسیې موخه دا ده چې خپل سیمه ییز نفوذ زیات کړي او په پای کې د دولت د نسکورېدو او یا هم د طالبانو واک ته په رسېدو سره خپلې راتلونکې ګټې خوندي کړي.

د افغانستان پر وړاندې د روسیې راتلونکې پالیسي د امریکا متحدو ایالتونو، اروپايي ټولنې او له پاکستان سره په پېچلو جیوپولیتیکو باالقوه لاملونو او له چین، ایران او مرکزي اسیا سره په پراخو اړیکو کې غبرګه ده. په افغانستان کې او له هغې ور اخوا له ایران سره د روسیې اړیکې او استخباراتي همکارۍ دغه باالقوه لاملونه لاپسې پېچلي کوي. په یوه برخه کې، روسیې د پاکستان پر وړاندې د ملګرتیا تګلاره غوره کړې ده ترڅو له اسلام اباد سره د اړیکو له لارې په سیمه باندې د چین نفوذ راکم کړي. په مرکزي اسیا کې د انرژۍ مهمو پروژو پر سر د روسیې او چین اړیکې یو بل باالقوه لامل دی چې په لوبه کې دوام لري، که څه هم جوړونکې دی.

که څه هم مسکو په افغانستان کې د ناټو ځواکونو اوږدمهاله شتون د خپلو سیمه ییزو ګټو پر وړاندې جدي ګواښ ګڼي، همدارنګه د امریکايي ځواکونو د ناڅاپي او بېړني وتلو په اړه خبرداری هم ورکړی دی، چې ښايي سیمه ییز امنیت په ځانګړي ډول د مرکزي اسیا کمزوري جمهوریتونه بې ثباته کړي.

## په افغانستان کې احتمالي سناریوګانې: د مسکو لیدلوری

د مسکو د پالیسي پلان جوړوونکي د روانو مذاکرو د پایلو او په ۲۰۲۱ ز.کال کې له ټاکل شوي مهالوېش سره سم د امریکايي ځواکونو په وتلو سره په لاندې درېیو سناریوګانو کې د افغانستان راتلونکی ګوري.

- ثابت او قانوني حکومت: دا یوه داسې سناریو ده چې اوسنی افغان حکومت په خپل حال پاتې کېږي او د ناټو له وتلو وروسته طالبان د اساسي قانون له چارچوکاټ سره یوځای کېږي. دغه سناریو د مسکو په ګډون نړیوالو ته یو ښه فرصت په لاس ورکوي چې په سیمه کې ثبات غښتلی کړي او په سیمه ییز اقتصاد، امنیتي همکاریو او د مرکزي اسیا او سوېلي اسیا ترمنځ په نږدې والي تمرکز وکړي.

- ثابت، خو زړه راښکونکی نه: په دې سناریو کې معتدل او مناسب حکومت له منځه ځي. ډېری تېري کوونکي او سخت دریځه ځواکونه چې بشري حقونو او موجوده اساسي قانون ته هېڅ ژمنتیا نه لري، واک ته ورسېږي؛ نو ډېره شونتیا شته چې طالبان له داعش سره یوځای او د هېواد په بېلابېلو برخو کې عملیات ترسره کړي. دغه مهال شونې ده چې اروپايي ټولنه او د امریکا متحده ایالات خپل تمرکز پراختیايي مرستو او ډیپلوماتیکو هڅو ته واړوي. د روسیې له لوري په افغانستان کې طالبانو او د شمال زورواکو ته د اسانتیاوو چمتو کول، کولای شي مرکزي اسیا ته امنیتي خطر راکم کړي. خو شونې ده چې ځینو نورو ستونزو ته لار اواره کړي (د بېلګې په توګه، د نشه یي توکو قاچاق، کډوالي).

- له طالبانو او د هېواد په شمال کې له بېلابېلو عناصرو سره د روسیې ښکېلتیا کولای شي چې په افغانستان کې په ناارادي ډول د کورنۍ جګړې لپاره باالقوه عامل نور هم زیات کړي.

- د کورنۍ جګړې سناریو: په دې سناریو کې، که ناټو ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او د سولې مذاکرې پایلې په پام کې ونه نیول شي، نو جګړه دوام کوي. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه ANDSF او پخپله افغان حکومت د امریکايي او اروپايي پوځونو او د مالي ملاتړ په نه شتون کې نسکورېږي. کېدای شي چې نړیوال تمویلوونکي د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو دوامداره ملاتړ ته لېږه لېوالتیا ولري. همدارنګه د امریکا متحدو ایالتونو تاریخ ته په پاملرنې، کله چې له یوې سیمې او یا هم ځانګړي ایتلاف څخه خپل ځواکونه ایستلي دي، نو له دې سره مل بیا یې خپل مالي ملاتړ هم پرې کړی دی. شونې ده چې د اروپايي ټولنې ښکېلتیا هم تر بشري مرستو پورې محدوده شي. په دې سناریو کې، هغه څه ته چې تمه کېږي هغه د سیمه ییزو لوبغاړو په ملتیا بشپړه جګړه ده چې په جګړه کې ښکېلې غاړې له داخلي لوریو څخه ملاتړ کوي، ترڅو خپلې جیوپولیټیکي امنیتي ګټې تعقیب او پراخې کړي. د روسیې لپاره د مرکزي اسیا د بې ثباته کېدو ګواښ پراخ دی او تر دې دمه لږه لېوالتیا لري چې افغانستان ته د پوځونو استولو له لارې دغه تشه ډکه کړي؛ دا نه یوازې له دې امله چې په افغانستان کې ناکامه تجربه لري، بلکې مسکو لا د مخه په څو نورو ځایونو کې ښکېل دی لکه سوریه، اوکراین او لیبیا چې د ډېرو نورو سرچینو له نشتوالي سره مخامخ ده. داسې شونتیاوې شته چې روسیې داسې ډول ستراتیژۍ ته لومړیتوب ورکړي چې په شمال کې د زورواکو د ملاتړ او وسله وال کولو له لارې جګړه د افغانستان په جغرافیوي پولو کې محدوده وساتي.

۲. ګیبونز-نف، ت.، (۲۰۱۷)، «روسیه طالبانو ته وسلې ورکوي، د متحده ایالاتو لوړپوړی جنرال یې تایید وي» واشنګټن پوسټ، د ۲۰۱۷ ز. کال د اپریل ۲۴ مه؛ روولت، ج. (۲۰۱۸)، متحده ایالات وایي « روسیه طالبان تجهیزوي»
بي بي سي، د ۲۰۱۸ ز. کال د مارچ ۲۴ مه

### د همغږو سیمو موندل

افغانستان د دې ظرفیت لري چې د نیابتي ځواک د سیالۍ ډګر شي. د دغو سیالیو مخه هغه مهال نیول کېږي کله چې اروپايي ټولنه، د امریکا متحده ایالات او روسیه په ګډه د همکارۍ په ساحو کې پر ګډو عاملونو کار وکړي.

- سیمه ییز جیوپولیټیک: دلته د اروپايي ټولنې، امریکا متحده ایالات او روسیې لپاره واقعي باالقوه عامل شته چې د افغانستان سیمه ییزې امنیتي پېچلتیاوې حل کړي. په هر صورت، دغه هېوادونه باید له خپله اړخه انعطاف وښیي، افغانستان ته د امریکا امنیتي ګټو د لید له لارې ونه ګوري او سیمه د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او د روسیې، افغانستان، مرکزي او سوېلي اسیا د همغږۍ پر مرکز بدله کړي.
- د تروریزم پر وړاندې مبارزه: د تروریزم پر وړاندې د مبارزې اجنډا یوه واحده موضوع او یا هم سیمه ده چېرته چې د اروپايي ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو او روسیې ګټې سره یوځای کېږي. د شته ګډوډیو سربېره، روسیه به په افغانستان کې د تروریزم پر وړاندې د مبارزې د شتون پر وړاندې خپل رضایت څرګند کړي.
- په افغانستان کې ثبات: اروپايي ټولنه او روسیه د ګډ کار له لارې کولی شي د دې تضمین ورکړي چې د سولې له راتګ څخه وروسته ټول شموله او باثباته حکومت رامنځته کېدلی شي. اروپايي ټولنه او روسیه په ۲۰۲۱ ز.کال کې د امریکايي ځواکونو د ناڅاپي وتلو په اړه ورته اندېښنه لري، چې کولای شي د داعش په ګډون د سخت دریځه اسلامي ډلو لپاره تشه رامنځته کړي او دوی به خپل عملیات له افغانستان څخه اخوا هم پراخ کړي.

پرته له دې چې د سولې پروسې پایلې په پام کې ونیول شي؛ داسې تمه کېږي چې په افغانستان کې د لوېدیځ شتون او نفوذ په کمېدو سره به روسیه پرته له دې چې د افغانستان له لوري د اغېزو د پراخېدو وېره ولري، په مرکزي اسیا کې به خپل فعال شتون نور هم پراخ کړي. روسیې لا دمخه د دا ډول پایلو پر وړاندې د مرکزي اسیا پوځونو جګړه ییز ظرفیت لوړولو په موخه د ټولیز امنیت تړون سازمان له لارې او د شانګهايي همکاریو سازمان د تروریزم پر ضد جوړښت څخه په ګټې اخیستنې چې د قرغېزستان په بیشکېک کې شتون لري، «وړاندې له وخته اقدامات» ترسره کړي دي، ترڅو د تروریزم او نشه يي توکو د قاچاق شبکو پر وړاندې مبارزه وکړي. روسیه له پخوا څخه د مرکزي اسیا په درېیو جمهوریتونو کې پوځي شتون لري چې له دې ډلې څخه په قرغېزستان کې هوايي اډه لري.

## وړاندیزونه

- اروپايي ټولنه د مهمو ګډو کړنلارو لکه د تروریزم پر وړاندې مبارزې او د مرکزي او سوېلي اسیا د اقتصادي یووالي په ګډون باید د افغانستان په اړه له روسیې سره د دوامداره او ګټورې ښکېلتیا په موخه ستراتیژي رامنځته کړي.
- مسکو کولی شي د سولې په روانه پروسه کې مهم رول ولوبوي. د پاکستان پر وړاندې د روسیې د ښو اړیکو ستراتیژي او له ایران سره له نږدې اړیکو څخه باید د امریکا متحدو ایالتونو او د اروپايي ټولنې د هېوادونو د سولې پروسې له ملاتړ څخه ګټه واخیستل شي. د افغان سولې په پروسه کې له مسکو سره باید «یوشان» چلن وشي او په کې ښکېل شي. په هر صورت، پورته سناریوګانو ته په پاملرنې، مسکو کېدای شي له وخت مخکې د سیمه ییزو زورواکانو په ګومارلو سره چې د شمال پولې په شاوخوا کې بې طرفه سیمه رامنځته کړي، کولای شي چې د سولې پروسه خرابه کړي. روسیه کولای شي چې له خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستنې د طالبانو او نورو ښکېلو داخلي غاړو د انګېزې جوړښت ته هم بدلون ورکړي.
- د افغان سولې په پروسه کې له ازبکستان او قزاقستان سره په لوړه کچه د امریکا متحدو ایالتونو ښکېلتیا په زړه پورې ده. اروپايي ټولنه او د امریکا متحد ایالتونه، روسیه باید وهڅوي ترڅو فعاله ونډه واخلي او د افغان سولې په پروسه کې خپله پاملرنه او نېکې هیلې وړاندې کړي.

---

### د لیکوالانو په اړه

ډاکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکايي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منډۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

### د پښتي انځور په اړه

په مسکو کې د افغانستان په اړه د سولې په څو اړخیزه خبرو کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر لاوروف او د طالبانو د پلاوي غړي ونډه اخلي، سرګي کارپوخین/رویټرز

SERGEI KARPUKHIN /REUTERS

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فرېډریش ایبرت بنسټ

ویب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فرېډریش ایبرټ بنسټ له لیکلي مخکینۍ اجازې پرته، د فرېډریش ایبرټ بنسټ له خوا له هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوې نظریې د فرېډریش ایبرت بنسټ د لیدلوري منعکسوونکې نه دي.



د پالیسۍ لنډيز

# د افغانستان په وړاندې د ازبکستان دوه گونې ستراتيژي

انډریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه پالیسي لنډیز، له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو وتلو ته په پام سره، تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته له افغانستان سره د ازبکستان هېواد تعامل څېړي. د پالیسۍ دغه لنډیز، په دې اړه چې د امریکایي ځواکونو د وتلو ځانګړتیاوو په تړاو د ناڅرګندتیاوو څرنګه زیاتوالی، کولی شي په افغانستان او سیمه کې د ازبکستان ملي او سیمه ییزې ګټې اغېزمنې کړي. دغه د پالیسۍ لنډیز، د هغو کلیدي برخو په پام کې نیولو سره، چې اروپایي ټولنه او مرکزي اسیا کولی شي، له افغانستان سره همکاري وکړي او د سولې تر پروسې ها خوا پراخ تعامل لپاره لازم فرصتونه ومومي، تر ارزونې لاندې نیسي.

په نولسمه پېړۍ کې د روسیې له خوا د مرکزي اسیا تر نېواک (استعمار) مخکې، بهرنیانو به تر ډېرې مودې، افغانستان او مرکزي آسیا یوه واحده فرهنګي، مدني او سیاسي حوزه ګڼله.[1] د روسیې او انګلیس امپراتوري ترمنځ جیوپولیتیکې لانجې، پر ۱۹۷۰ ز. کلونو په افغانستان کې د کمونیستي رژیم تر راتلو او د ۱۹۸۰ لسیزه کې د شوروي یرغل پورې، دغه تاریخي اړیکې له منځه یوړې. پر ۱۹۸۹ ز. کال د شوروي اتحاد تر نسکورېدو او په مرکزي آسیا کې د هېوادونو د پرله پسې خپلواکي او په افغانستان کې له کورنۍ جګړې وروسته، دغه سیمه یو ځل بیا له وېش سره مخ شوه: افغانستان پر یو امنیتي ګواښ بدل شو، چې د مرکزي اسیا هېوادونو باید خپل ځانونه پر وړاندې یې خوندي کړي وای.

له ۲۰۱٦ ز. کال راهیسې د سیمې د «ترانزیټي» څلورلارې په توګه د افغانستان د بدلېدو په تړاو د ولسمشر اشرف غني لیدلوري او د ازبکستان د ولسمشر شوکت میرضیایوف ورته وړاندیزونه، چې د سیمې د امنیت، ثبات او هوسایني لپاره واحدې نظریې دي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د تقابل او تر هغه لوړ نوي امکانات رامنځته کړي دي. همدارنګه د تقابل دغه فضا، د ژور سیمه ییز اقتصادي ادغام د تسهیل په موخه، یو ورودي ټکی د اروپایي ټولنې لپاره هم وړاندې کوي، چې له افغانستانه د وتلو لپاره د امریکا د لېوالتیا مهمې نښې دي.

### د ازبکستان او افغانستان د سولې خبرې:

### د ټولو اړخونو شاملول:

له ۲۰۱٦ ز. کال د ازبکستان مشرتابه او نوښتونه یې، د هغه هېواد له پراخ پرمختګ او له افغانستان سره د نږدې اړیکو په رامنځته کېدو کې مهمه ونډه لرلې ده. دغه پالیسي، له کابل سره د کارنده اړیکو د رامنځته کېدو لامل شوی، چې په اتصالي زېربناوو، پروژو او پروګرامونو کې رېښه لري. تاشکند له نورو نړیوالو او سیمه ییزو فعالینو سره، چې د افغانستان د باثباتولو په برخه کې هڅه کوي، د افغانستان د سولې په پروسه کې رغنده ونډه ولري.

ازبکستان د جګړې له دواړو لورو سره د نږدې کېدو هڅې پیل کړې؛ له کابل سره دوستانه اړیکې ټینګې کړي او له طالبانو سره د لا نږدې اړیکو د جوړولو په لټه کې دی. کله کله د دغو اړیکو جوړول، ستونزمن هم دی. لکه څرنګه چې کابل د ۲۰۱۹ ز. کال په اګست کې د تاشکند له خوا د طالبانو د پلاوي د هرکلي په غبرګون کې، خبرداری ورکړ، چې دغه ډول بلنې کېدای شي په راتلونکي کې به د سولې هڅې زیانمنې کړي.[2]

د ۲۰۲۰ ز. کال په سپتمبر میاشت کې په دوحه کې د سولې خبرو تر پیلېدو دوه ورځې وړاندې، د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملاغني برادر، ازبکستان او د مرکزي اسیا نورو هېوادونو ته، د دغو هېوادونو د اقتصادي ګټو او امنیت په تړاو ډاډ ورکړ.[3] د طالبانو دغه ژمنې ډېرې مفصلې دي او پکې مشخصو پېښو ته اشاره شوې او په مستقیمه توګه تر پولو ها خوا ناامنیو او تاوتریخوالو پر پراختیا متمرکزې وي. ملا برادر ان ژمنه کړې، چې سمرقند ته د خبرو ځای د لېږد په تړاو وړاندیزونو ته هم د قدر په سترګه ګوري. په مقابل کې، تاشکند طالبانو د ډیپلوماتیک مشروعیت ورکړې دوام ورکړي، هغه څه چې د هغو احتمالي سناریوګانو زېرنده ګواښونو کچې د راټیټولو په موخه د یوې کړنلارې په توګه ګڼل کېږي.

---

۱. له ابهامه تر ستراتیژۍ پورې پروژه: د افغانستان په سیمه کې د برلاسي کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریډریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، د دغه لړۍ یوه برخه ده، چې د انډریو واټکینز و ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکې ګټې او د افغانستان په دننه او بهر د اصلي شریکانو د ننګونو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: http://www.afghanistan.fes.de/publications.

۲. قشلق اووزی (۲۰۱۹)، «د ازبکستان تجربې، په افغانستان کې د سولې رامنځته کېدو ستونزې»، آزادي راډیو، ۲۴ آګست ۲۰۱۹.

۳. امیده هاشموف، (۲۰۲۰)، «تر بین الافغاني خبرو ها خوا، ازبکستان یوه روښانه راتلونکې ویني»، ډیپلومات، ۲۱ سپتمبر ۲۰۲۰ ز. کال.

## د همکارۍ چاپېریال: متممې ګټې

د اروپايي ټولنې، ازبکستان، متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ د همکارۍ او مشارکت رښتینی چاپېریال شتون لري؛ دغه ټول هېوادونه د سيالي پرځای، له يو بل سره همکاري کوي: ټول ارځونه، د سيمه ييز ثبات د ساتنې او خونديتوب لپاره، د نويو زمينو رامنځته کولو په هڅه کې دي او په افغانستان کې د متحده ایالاتو/ ناټو د فعاليتونو احتمالي قطع کېدو ته منتظر دي. پر ۲۰۱۴ ز. کال په افغانستان کې د متحده ایالاتو د پوځي ونډې تر کمېدو وروسته، د ولسمشر غني تر مشرۍ لاندې افغان دولت، د اقتصادي ادغام او سيمه ييزې سوداګرۍ په برخه کې هڅه کړې او له ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان هېوادونو سره نږدې کاري اړيکې رامنځته کړې دي. د بهرنيو اړيکو د ارزونې په دننه کې دغه جهت موندنه، چې د کابل د سياسي بقا څخه د ډاډمنتيا د ترلاسه کېدو په موخه رامنځته شوې، د متحده ایالاتو او اروپايي ټولنې له خوا هم په کارنده ډول هڅول کېږي. د اروپايي ټولنې لپاره، د کابل هڅوونکې سيمه ييزه کړنلاره، له مرکزي اسيا سره د اروپايي ټولنې له ګډو اړيکو همغږې لري، چې پر ۲۰۱۹ ز. کال د انعطاف منښې، نيکمرغي او اتصال لپاره يوه ژمنتيا ده.

## د اقتصادي همکاريو پراختيا

تاشکند، په افغانستان کې له پراخو اقتصادي او سياسي فرصتونو څخه ملاتړ کوي؛ په ځانګړې توګه د سولې تر ټينګښت وروسته، چې په مرکزي اسيا کې د يو واکمن ځواک لپاره د بدليدو په موخه، د دغه هېواد له ارمانونو سره تړلې دي. دغه حقيقت، د بين الافغاني سولې خبرو د کوربه توب له ژمنتيا څخه څرګند ده، چې د ازبکستان لپاره د يو سيمه ييز راتلونکي واک په توګه او په نړيواله کچه د دغه هېواد د اعتبار او پېژندنې کچه او د افغانستان پر سياست د اغېز کولو زمينه برابروي. تاشکند، لا مخکې له خپل ګاونډي هېواد سره له اقتصادي ځواک څخه برخمن دی: پر ۲۰۱۹ ز. کال کې، افغانستان ته د ازبکستان د صادراتو د ټولټال بيې کچه تر يو ميليارد ډالر واوښتله او اټکل کېږي، چې دغه شمېره تر ۲۰۲۴ ز. کال پورې، درې چنده زياتوالی ومومي. موجوده مساعدو اړيکو زمينې او د ازبکستان هيلو او په مرکزي آسيا کې د اروپايي ټولنې موخو ته په پام سره، دغه ټولنه کولی شي په اسانۍ سره، د مرکزي اسيا – افغانستان – سويلي اسيا په ډيالوګونو او نوښتونو کې ښلابېل سيمه ييز تعاملات زيات کړي.

په داسې حال کې، چې تاشکند له اروپايي ټولنې او متحده ایالاتو سره تعامل او هڅونه يې منې، ځان د چين د سيمه ييزو ګټو د شريک په توګه هم ګڼي – او لويديځ قدرتونه بايد د دغه هېواد د ډيپلوماسي او پرمختيايي کړنلارې څخه ارځيزتوب ومنې. ازبکستان، د وسپنې پټلي تر کار لاندې څو پروژو په لړلو سره هيله لري، د روسي او چيني توکو لپاره د سوداګريز مرکز په توګه رادمخه شي. د ازبکستان وسپنې پټلی ملي لاره اوس د حيرتان سرحدي ښارګوټي هاخوا د مزارشريف سوداګريز او مهم ښار نښلوي. د وسپنې پټلي د دغه کرښې لپاره، داسې پروګرام هم شته، چې په لويديځ کې د ايران پولې ته نږدې له مهم تجارتي ښار هرات سره هم وصل شي، چې مرکزي اسيا د فارس خليج له بندرونو سره نښلوي. سربېره پر دې، د ازبکستان – قرغيزستان – چين د وسپنې پټلي لارې جوړول، چې ازبکستان په دې برخه کې د مالي مرستو ژمنه کړې، هم ازبکستان زيات واک وربښې، ترڅو سويلي اسيا، ايران او مرکزي اسيا ته لاسرسی ولري. همدارنګه دغه چاره ازبکستان ته د دې زمينه برابروي، چې د نړيوال ترانسپورت اصلي دهليزونو ته په لاسرسي سره، د بېلګې په توګه په ايران کې چابهار او په پاکستان کې ګوادر ته، د صادراتو او تعرفه پال اقتصاد تعقيب کړي.

د تاشکند ليدلوري يوازې په هغه صورت کې، ترلاسه کېدای شي، چې په افغانستان کې جګړه په سوله ييزه توګه پای ومومي – چې د نن ورځ په شرايطو کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سوله ييز او تلپاتې هوکړه ليک په معنا ده. ازبک پاليسي جوړوونکي پر دې پوهېږي، چې يو سوله ييز افغانستان کولی شي، د څو هېواديزو پروژو په جوړلو او پرمختيا، د انرژۍ کرښې، وسپنې پټلي لارې، عمده اتصالي پروژو او نورو زېربناوو د جوړولو او پرمختيا په برخه کې د دوی ګډې ګټې تامين کړي.




**Major international rail routes in Central Asia, 2019**
Source: Martin Russell, "Connectivity in Central Asia, Reconnecting the Silk Road," EPRS | European Parliamentary Research Service, April 2019, accessed September 12, 2019.

## د امنيتي همکاريو پياوړتيا

د نه ويش وړ سيمه ييز امنيت په تړاو د ازبکستان د ولسمشر ميرضيايوف نظر، پر ۲۰۱۷ز. کال کې د سمرقند او پر ۲۰۱۸ ز کال کې. د تاشکند سيمه ييزو کنفرانسونو جوګه شو؛ وروستي کنفرانس په بشپړ ډول پر افغانستان متمرکز و. پر افغانستان د نفوذ شيندلو لپاره د روسيې د هڅو پرخلاف، د تاشکند تعامل، د افغانستان د سولې له پروسې څخه د مسکو له بدبينو ډکې ارزونې منعکسوونکی نه دی، چې په هغه کې د افغانستان دولت د سقوط سناريو هم شامله ده. په حقيقت کې ازبکستان، په سيمه کې د تر ټولو ناوړو سناريوګانو په تړاو په ټوليزو بحثونو کې د نږدې حضور د نه لرلو له امله، ډېر مهم دی. د دې پرخلاف، د دغه هېواد ډيپلوماتيکه ژبه پر احتمالي ګټو او انګيزو (د سولې د ونډې ګټې) باندې متمرکزه ده. ازبک پاليسي جوړوونکو په خصوصي بحثونو کې، د امنيتي عمومي ترون سازمان د بنسټيزو کولو لپاره، د روسيې پر فشارونو ډېره نيوکه کې، چې د هغوی په باور، تر ډېره دغه چاره له يوې پراختيا غوښتونکې دريځ څخه سرچينه اخلي، د دې پرخلاف، چې له تروريزم سره د مبارزې لپاره يوه اغېزناکه کړنلاره وي. هغوی وېره لري، چې روسيه د خپل نفوذ له قدرت څخه د مرکزي اسيا د وتلو اندېښنه لري او ښايي د افغانستان د بې ثباتيو پورې اړوندو ګواښونو په اړه مبالغه وکړي، ترڅو د روسيې امنيتي مرستو ته د مرکزي اسيا هېوادونو د اړتيا کچه زياته کړي.

مذهبي توندلاريتوب او راديکاليزاسيون لا هم د ازبکستان او مرکزي اسيا لپاره يوه مهمه ننګونه ده او د دغه هېواد مشرتابه پر دې نه دي توانېدلي، چې د افغانستان د جګړې پر احتمالي پايلو سترګې پټې کړي. بې ثباته کوونکې ځواکونه لکه د حقاني شبکه، القاعده، داعش او د ازبکستان اسلامي حرکت (IMU) لا هم د سيمې امنيت له ګواښ سره مخ کوي. ازبکستان له ډېرو کلونو راهيسې، او له طالبانو سره د ژور تعامل په برخه کې، د جهادي ډلو په اړه يو کارنده سياست تر لاس لاندې نيولی دی. د ازبکستان لا له مخکې، د (IMU) او په افغانستان او سوريه کې د داعش جنګياليو سره د تعامل او ان احتمالي روغې جوړې په برخه کې خپله لېوالتيا څرګنده کړې او هغوی هڅوي، ترڅو خپلو اصلي هېوادونو ته ستانه شي. همدغه ليدلوري، د افغانستان د سولې پروسې په تړاو د تاشکند د کړنلارې بنسټ جوړوي: ازبکستان دې ته لېوالتيا لري، چې د طالبانو پخواني جنګيالي په خپلو ټولنو کې مدغم شي؛ د دې ترڅنګ په افغانستان کې د پراخ غيرنظامي کېدو او د سپکو وسلو د کنټرول غوښتونکی هم دی.

د دغو نويو، ادغام پالو او له خوشبينو ډکو سياستونو پايلې بايد تر سترګو شي. د پام وړ ټکی دا دی، چې د تاشکند کړنلاره، د پولې تر کنټرول او له تروريزم سره تر مبارزې لوړه ده، چې د مرکزي اسيا نور هېوادونه يې د روسيې تر امنيتي څارنې لاندې تعريفوي. اروپايي ټولنه کولی شي په ټوله سيمه کې دغه ستراتيژي په پراخه کچه پياوړې کړي. لکه څرنګه چې مو مخکې يادونه وکړه، لا څرګنده نه ده، چې ازبکستان تر کوم بريده د ترټولو ناوړه سناريوګانو منلو ته چمتو دی، چې ښايي له افغانستانه د متحده اياالاتو تر پوځي وتلو يا له افغان دولت سره د نړيوالو مرستو کچې په راټيټېدو سره رامنځته شي. هغه څه چې ښکاره ده، دا دی، چې تاشکند د زياتو انديښنو په تړاو له هغو ټوليزو ګومانونو او انګېرنو څخه ډډه کړې، چې نور هېوادونه په فعالانه توګه په اړه يې بحث کوي.`

## وړانديزونه

- اروپايي ټولنه او ازبکستان کولی شي، په افغانستان کې د تلپاتې ثبات د پياوړتيا لپاره، اغېزناکې همکارۍ ولري. دوی کولی شي، د خپلو ګډو ګټو او د افغانستان د سولې له پروسې د تعامل پر بنسټ، اوږدمهالې انديښنې او اړتياوې وڅېړي. له افغانستان څخه د ملاتړ او سيمه ييزه ډيپلوماسي کې د دغه هېواد ټاکونکې ونډې ته په پام سره، اروپايي ټولنه د مرکزي اسيا او سويلي اسيا د ټولنو او نوښتونو ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا په برخه کې، له مناسب موقعيت او درېځ څخه برخمنه ده.

- متحده ايالات او اروپايي ټولنه، له مخکې موجود له څو اړخيز سيمه ييز ډيپلوماتيک تشکيل څخه په ګټه اخيستنې سره، هېوادونه پر مرکزي اسيا د اغېزلرونکو موضوعاتو لکه اقليمي بدلونونو، د کويډ ۱۹ پايلو په برخه کې، د اقتصادي ادغام او «بين منطقوي اړيکو همکاريو» لپاره، د سيمه ييزې پرمختيا او امنيت په موخه، وهڅوي. دغه ډيپلوماتيک تشکيلات بايد تر خبرو او بحث پورته کچه کې وي او په نهايت کې د ګډو موخو د ژورې پليتابه په موخه د هڅونې لپاره يو ګډ ميکانيزم معرفي کړي. په يو مثبت ګام کې، د مرکزي اسيا هېوادونو مخکې له افغانستان څخه بلنه کړې، چې د اروپايي ټولنې او مرکزي اسيا په لوړه کچه امنيتي او سياسي خبرو کې، خپله ونډه له يو ميلمه او څارونکی څخه، يو پوره ګډونوال ته پرمختيا ورکړي[4].

- اوسمهال، د مرکزي اسيا هېوادونه، د سوداګريزو مسيرونو، وسپني پټلي او انرژي په برخه کې د پانګوالو د لېوالتيا خپلولو په برخه کې، سره سيالي لري. د مرکزي اسيا او افغانستان په تړاو د اروپايي ټولنې ستراتيژي پر وروستيو مثبتو بدلونونو بنسټيزه شي او پر «بين منطقوي اتصال» فشار سره، نوي فرصتونه منعکس کړي. اړينه ده، چې افغانستان په دغه اوږدمهاله برنامه کې، شامل کړای شي او له دغو نوښتونو څخه ګټه واخلي.

- په راتلونکي کال کې د اتصال په اړه د يو سيمه ييز کنفرانس د جوړېدو په برخه کې د تاشکند پروګرام (د بخارست د ۲۰۱۹ ز.کال د EU - CA اتصال کنفرانس د تعقيب په توګه)، د همکاريو په اړه د بحثونو د پرمختګ لپاره يو ښه فرصت دی. اروپايي ټولنه بايد داډ ترلاسه کړي، چې اضافي مسايل، لکه فزيکي زېربناوې، د سرحدونو منسجم مديريت او د مرکزي اسيا په روزنيزو موسسو کې د افغانانو د روزنې لپاره درې اړخيزې پروژې (پر ښځو په ځانګړې تمرکز سره) د اروپايي ټولنې د نوې ستراتيژۍ سره سم، د مرکزي اسيا په کاري اجنډا کې شامل کړي.

---

٤ . دغه درې اړخيز تشکيلات د همکاريو لپاره پر درېو کليدي برخو متمرکز دي: امنيت، له تاوتريخوالو سره مبارزه او اقتصادي همکارۍ.

**د ليکوالانو په اړه**

داکتر تېمور شاران د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د عامه پاليسۍ مرستيال پروفيسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړيوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډريو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هيله منديې څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنيوي کې ژوره ښکېلتيا لري. تر دې پخوا يې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امريکا متحدو ايالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتۍ د انځورونو په اړه:**

ازبک عسکر د سويلي ښار نه بهر د ملګرتيا پل ته ورغلي ټايمز ، د دسمبر په ۱۲ ، ۲۰۰۱.

انځور: رويټرز / شميل زوماتوواس

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فريډريش ايبرټ بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فريډريش ايبرټ بنسټ له ليکلي مخکينۍ اجازې پرته، د فريډريش ايبرټ بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګريزه ګټه اخيستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظريې، د فريډريش ايبرټ بنسټ د ليدلورو منعکسوونکي نه دي.



د پالیسۍ لنډیز

# یوه نوې کړنلاره! تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته
# اروپا، هند او افغانستان

انډریو واټکېنز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د پالیسۍ(کړنلارې) دغه لنډیز، افغانستان سره د هندوستان تعامل او ښکېلتیا په ۲۰۲۱ ز. کال کې او تر هغه وروسته،په لنډ ډول تر ارزونې لاندې نیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، په دې اړه چې د امریکایي ځواکونو د وتلو څرنګتیا په اړه د ناڅرګندتیاوو زیاتوالی څنګه کولی شي په افغانستان او سیمه کې د هندوستان ګټې اغېزمنې کړي، بحث کوي[1]. همدارنګه دغه سند، د یو لړ زمینو - سناریوګانو جزییات چې نوی ډیلي یې تدوین او ترتیبولو ته اړتیا لري او په افغانستان کې د هغه هېواد د ګټو ساتلو په موخه د موجودو پالیسیو غوراوي، روښانوي. له هغه ځایه، چې د هند او اروپايي ټولنې ستراتیژیک مشارکت د ملاتړ وړ ګرځي، خو د ناډاډمنتیا کچه یې زیاته ده، دغه پالیسۍ، هغه برخې څېړي، چې دواړه لوري په افغانستان کې پکې ګډې ګټې لري.

## د افغانستان په تړاو د هندوستان پالیسي: منځپانګه

د افغانستان پـه تـړاو د هندوسـتان پالیسي، پاکستان سره د هغـه هیواد له سیالي څخه سرچینـه اخلي. هندوستان او افغانستان پـه ۱۹۴۷ ز. کال کې د هنـد د خپلواکي له پیله ډېـرې نـږدې اړیکـې لرلې دي. افغانستان په ملګـرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پر وړانـدې رایـه وکارولـه او وروسـته یې د سرې جګړې پرمهـال، د هندوسـتان د ناپیلتوب لـه سیاسـت څخـه ملاتـړ وکـړ. د سړې جګړې پرمهال، نـوی ډیـلي، د خپـل ناپیلتوب د سـختو اصولـو پرخـلاف، پـه ۱۹۷۸ ز. کال کـې، پـه ظاهر کـې له مجاهدینـو څخه د پاکسـتان د ملاتـړ متـوازن سـاتلو په موخه، پر افغانسـتان د روسـیې له یرغـل څخه ملاتړ وکـړ[2]. تـر دې وروسـته، هنـد لـه هغـو افغـان لوبغاړو څخـه چې د پاکستان د نفوذ دمتـوازن سـاتنې یـا مخنیـوي پـه برخـه کـې ګټـور ثابـت شـوي دي ملاتـړ کـړی. دغه ملاتـړ، شـمال ټلـوالي څخـه د هنـد ملاتـړ هم رانغاړي، چې پـه ۱۹۹۰ کلونو کې د طالبانـو پـر وړانـدې جنګېـدل (د شـمال ټلـوالي یو شـمېر شـخصیتونه اوس هـم د هند لـه ملاتـړ څخـه برخمـن دي). نـوی ډیلي افغانسـتان په تـړاو، لـه ۲۰۰۱ کال راهیسـې یـوه داسـې فعالـه او پراختیا غوښـتونکې پالیسـۍ تعقیبوي چې د پاکستان د نفوذ خنډ وګرځـي. هندوسـتان پـه تېـرو ۱۸ کلونو کـې، تـر درې میلیـارده ډالرو د زیات ارزښـت مالـی مرسـتې افغانسـتان تـه چمتو کـړې، چې سـترې زیربنایـي پـروژې، د تخنیکي زده کـړو پروګرامونـه او نـوې سـوداګریز دهلیزونه چـې په وچه کې راښـکېل هېـواد په توګه افغانسـتان لپـاره ګټـور او فرصتونـه ډېـروي. په دغو مرسـتو کې شـاملېږي.

## د سولې پروسه، د ځواکونو وتل او د هند اندېښنې

د ناتـو ځواکونـو د احتـمالي وتلـو پـه تـړاو ناڅرګندتیـاوو، نـوي ډیـلي پـه دې فکرمـن کـړی، چـې خپلـې تر ټولو غـوره ګټـې څنګه خونـدي کړي. پـه هغه صـورت کې، چې بهـرني ځواکونـه لـه افغانستان څخـه ووځـي، هنـد به لـه سـترو سـتونزو سره مخ شي، چې بېلابېلـې اندېښـنې به رامنځتـه کړي: لومـړی، دا چې آیا هند به وکولـی شي، چې د لویدیځـو هېوادونـو لـه پـراخ ملاتـړ پرتـه، لـه افغـان دولـت څخـه ملاتړ وکـړي.؟ بله مسـله دا ده، چـې هنـد بـه د طالبانـو واکمنېدو څخـه د مخنیـوي پـه موخه، چـې کولی شي پاکسـتان تـه پـراخ سـیاسي عمق چمتـو کړي او پـه پایله کې، سـیمه ییـز جنګیالي د دې جوګـه کـړي چـې پـر هند برید وکـړي، کـوم کارونه تـرسره کړي؟

نـوی ډیـلي، د متحـده ایالاتـو، اروپایـي ټولنـې او نـورو متحدینـو د ځواکونـو د بېرنـی وتلـو پـه تـړاو کلـک خـبرداری ورکـړی او تینګار یـې کړی چـې طالبـان د هغـه هوکړه لیـک زیاتـرو ژمنتیـاوو تـه ژمـن نـه دي، چـې د ۲۰۲۰ ز. کال د فـبرورۍ پـر ۲۹ مه نېټـه، د طالبانـو او متحـده ایالاتـو ترمنـځ لاسـلیک شـوی دی. پـه دغـو ژمنتیـاوو کې، د تاوتریخـوالي کچـې راټیټـول او د القاعـدې ډلـې پـه ګډون د یو شـمېر تروریسـتي ډلو د فعالیتونـو محـدودول شـاملېږي. همدارنګه هند خـبرداری ورکړی دی، چې پاکسـتان په خپلـه خـاوره کـې د طالبانـو د پناهځایونو د له منځه وړلـو په اړه هېڅ راز کومـه ژمنتیا نه ده ورانـدې کـړې، چـې دغه چـاره طالبان د دې جوګه ګرځوي، چې د سـولې په پروسه کـې لـه پرمختګونـو سره سره، بیـا هـم هـر مهـال په چټکـې سره جګـړې ته مخه کړي.



دپغمان په سیند چی دکابل سیند اصلی شاخه ګڼل کیږی دقرغی ځو موخیزه بند، دهندوستان په مالي مرسته جوړ شوی. کابل ـ افغانستان، اپریل ۲۰۲۰ .FES / (عکس اخیستونکی: مریم عالمي)

۱- له ابهامه تر ستراتیژي پورې پروژه: په سیمه کې د افغانستان د برلاسي کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دا لنډیز، د دغې لړۍ یوه برخه ده، چې د انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکې ګټې او د افغانستان په د ننه او بهر کې د اصلي شریکانو د ننګنو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: http://www.afghanistan.fes.de/publications.

۲- تر ۱۹۹۰ کال پورې اوه سني جهادي ډلو او یوې شیعه جهادي ډلې له پاکستان څخه فعالیت کاوه، چې د متحده ایالاتو، سعودي او نورو له خوا ورسره مرسته کېدله.

نـوي ډيلـی انديښـمن دی، چـې د دغـو تضمينونـو لـه شـتوالي پرته به ، لـه جدي ګواښـونو سره، پـه ځانګـړي توګـه تـر شـخړي لانـدې کشـمير کـې، مـخ شي. پر دې بنسـټ، تر اوسـه پـورې پـه دې برخـه کـې د هنـد کړنـلاره پـر دې متمرکـزه ده، چـې د مسـوولانه او شرايطو پر بنسـټ د وتلو پـه تـړاو پـر متحده ايالاتـو فشـار راوړي او ناټـو تـه قناعـت ورکـړي، چـې د ځواکونـو تـر وتلو وروسـته بايـد پـه افغانسـتان کـې له ترورېـزم سره د مبـارزې يو نړيـوال ځواک موجـود وي، ترڅو د احتياطـي ځـواک پـه توګه فعاليـت وکړي.

همدارنګـه د نـوي ډيـلي کړنـلارې، افغانسـتان پـه مسـله کـې د ښـکېلو لـورو، په ځانګـړي توګه لـه سـيمه ييـزو ځواکمنـو هېوادونـو سره، د تعامـلات او اړيکو هلـې ځلې تونـدې کـړې دي. هند پـه افغانسـتان کـې د خپـل نفوذ د تنوع او پراختيا په موخـه، په افغانسـتان کې پر ناپښـتانه تاکتيزو حـوزو بانـدې او د هغـوی پـر هغـو مشرانـو پانګونه کړې، چـې د افغانسـتان په حکومـت کې يې کليـدي پسـتونه ترلاسـه کـړي دي. په دې برخـه کې، تراوسـه پورې عبداللـه عبدالله، عبدالرشـيد دوسـتم او د بلـخ پخوانـي والي عطا محمـد نـور لـه نوي ډيـلي څخه رسـمي بلنې ترلاسـه کړې دي. همدارنګـه هنـد لـه کابـل او د افغانسـتان لـه مـلي امنيتـي ځواکونـو سره ژمنـه کـړې، چـې د جګـړې د دوام پـه صـورت کـې به هغـوی ته زياتـی مالي مرسـتې برابـرې کړي.




### د جيوستراتيژيکو بدلېدو په حال کې شرايط: آيا هند د ماتې په درشل کې دی؟

نـوي ډيـلي، لـه ۱۹۷۹ ز. کال څخـه راهيسـې، پـه افغانستان کـې چټـک بدلون پـه حال کې سـتراتيژيک چاپېريـال ته د غبرګـون په برخه کـې، چې دا ځل لـه طالبانـو سره د امريکا معاملـه او د يـو سـيمه ييـز قـدرت تشـه ده، لـه سـتونزې سره مخامـخ پاتې شـوی دی. د هنـد لـه ليدلـوري، د منځګړيتـوب او د سـولې هوکـړې د پليتابه(تحقـق) پـه برخه کې پر پاکسـتان د متحده ايالاتـو بـاور، يـوه سـتونزمنه چـاره ده. تر جګړې وروسـته افغانسـتان کې د پاکستان د جوتې ونـډې(رول) مفکـوره، نوي ډيـلي (او کابل) ان تر فوري ګواښـونو زيـات، لـه سـتونزو سره مـخ کـوي. تراوسـه پـورې د سـولې چـوکاټ او د سـولې پروسـې پرمختـګ، د هنـد او افغانسـتان دولتونو پـه زيان دی او داسـې ښـکاري، چې د سـولې د پروسـې پايلـه، پـه سـيمه کـې د ډيلي سـتراتيژيک، ډيپلوماتيـک، اقتصـادي او سياسي دريـځ محـدودوي. د امريکايانـو تر شـاته کېـدو او وتلـو وروسـته، د قـدرت او واک هر راز انډولونـه، کولـی شي ان د هنـد د نړيـوال واک موخـې لـه ګـواښ سره مخامـخ کـړي؛ څکـه دا کار کېـدای شي د روسـيې او چيـن د دريځونـو د بدلون لامـل هم شي.

نـوی ډيلـی، لـه يـو ډول شـک او ترديـد سره مـخ دی: پـه داسـې حال کـې چې هند په افغانستان او سيمه کـې د خپلـو ډيپلوماتيکـو، امنيتـي او اقتصادي ګټـو د خونديتـوب په لټه کـې دی، ښـکاري د اسـې، چـې پـه نـږدې راتلونکـې کـې بـه دغـه هېـواد ميـدان پرېـږدي؛ پرته لـه دې چې پام کـې ونيـول شي، چې لـه دغو لانديني سـناريوګانو څخه کـوم يوه يـې رامنځتـه کېـږي. دا لـه دې امله ده، چـې پاکسـتان پـر طالبانـو، چې د افغانسـتان د سـولې پروسـې اصلي محـور دی، خپـل نفوذ پوخ او کـره کـړی او ډاډمن دی، چـې د بريا يا ماتـې پـه صـورت کـې کولـی شي، پـه افغانسـتان پـورې اړوند چارو ته شـکل ورکـړي. (د صفر جمـع) تفکر، چې تـر ډېره د پاکسـتان او هنـد ترمنځ لانجـې بيانوي، پـه دې مفهوم دی، چـې د پاکسـتان متـداوم نفـوذ د هنـد پـه زيـان دی. سربېره پـر دې، د نـوي ډيـلي د اقتصـادي ادغام پـروژې، چې د پاکسـتان د څنګ تـه کولو په موخـه رامنځته شـوی، د هغو د پايلـو لـه څرګندېدو پرتـه بـه تـر فشـار لانـدې راشي. د طالبانـو تـر واک لانـدې يو دولت بنـايي له هغـو سـوداګريزو ترتيباتو څخـه ډډه وکـړي، چې د هنـد په ګټه دي؛ په داسـې حـال کـې چـې يـوه کورنـۍ جګـړه کولـی شي په اسـانۍ سره د سـيمه ييـز سـوداګرۍ امنيت او تـدارکات لـه منځـه يـوسي. پر دې اسـاس، افغانسـتان په تـړاو د ډيلي اسـتراتيژيکه کړنـلاره، تـر تولـو پـه غوره بڼـه کېدای شي، د ګواښـونو کچـې راټيټولـو لپاره د هڅـې په توګـه وپېژندل شي.

نـوي ډيـلي، د خپلـو ګټـو د خونديتـوب پـه موخـه، ګښـمير بدېلونـه په خپـل واک کې لـري، چـې پـه اټکلي توګـه زياتـره به يـې په سيمه کـې چټـک غبرګونونه لـه ځانه سره ولـري. يـو مسـير د افغـان امنيتي ځواکونـو د مالي ملاتـړ زياتوالـی، د هغـوی تجهيز او روزنـه ده، ترڅـو د هغـوی لـه ثبـات او پايښـت څخـه ډاډ ترلاسـه شي. د دې پرخـلاف، هنـد کېـدای شي(بنـايي) د دغـه هېـواد وسـله والـو ځواکونـو لـه چوکاټـه بهر د وسـله وال مقاومـت پـه ملاتـړ کـې، ځـان مجبور احسـاس کـړي؛ البته کـه چېرې په يو شـمېر برخـو کـې طالبـان د مسـلط موقعيت خاونـد وګني. دغـه بديل(کړنلاره)، به سـيمه ييزې پايلـې هـم ولـري: هنـد کولـی شي، لـه روسـيې او ايـران سره چې لـه هغـوی سره وار دمخـه ګـډې اقتصـادي ګټې لـري، نږدې مشـارکت او همکاري ولري او دغـه هېوادونه اټکل کېـږي چې په افغانستان کـې دننـه د واک له کورنيـو لوبغاړو څخـه پـه خپل ملاتـړ کـې زياتوالـی راولي. لـه دې پرتـه، دغـه هڅـې کېـدای شي، د هغـوی ترمنـځ د سـيالي لامل شي.




**د سويلي آسيا نقشه**

سرچينه: Wikipedia Commons

### د اروپايي ټولنې او هند ترمنځ استراتيژيک مشارکت: افغانستان د همپالنې ټکي په توګه

هند او اروپايي ټولنه له ۲۰۰۱ ز. کال وروسته افغانستان کې د ډموکراتيک رغاوي، د قانون د واکمنۍ، له تروريزم سره د مبارزې او سولې او ثبات د پياوړتيا په تړاو ، له ګډې موخې او اصولو برخمن پاتې شوي دي. عملي اړخه، دواړو په هغو برخو کې خپله پانګونه کړې، چې پخپله دوی ته يې هم ګټه رسېږي؛ دوی له افغان دولت سره د پام وړ مرستې کړې دي. د اروپايي ټولنې او هند ترمنځ د ۲۰۲۰ ز. کال د جون مياشتې ستراتيژيک مشارکت: تر ۲۰۲۵ کال پورې د لارې نقشه، ګډ امنيتي ګواښونه او سيمه ييزې ننګونې جوتوي او د ګډو موخو لکه له تروريزم سره د مبارزې په برخه کې، پياوړې همکارۍ هڅوي[۳]. دواړه لوري کولی شي، دغه ميکانيزم ته په پام سره، او د خپلو مشورتي ناستو د تنظيم او جوړښت لپاره د خپلو ګډو اړيکو په د ننه، په سيمه کې د سولې او ثبات د ټينګښت او هوساينې په برخه کې خپلو سياسي همکاريو ته پراختيا ورکړي. که څه هم افغانستان په اړه تر دې مهاله، له اعلاميو ورها خوا، بنسټيزې او سمبال شوې همغږۍ يو څه شتون درلود.

- **ګډ ارزښتونه او اصول:**



ګډ دموکراتيک ارزښتونه، په افغانستان کې پرمختيايي او امنيتي موخو ته رسېدو په موخه، د اروپايي ټولنې او هند همکاري راجلبوي. د سولې پروسې په تړاو، د سياسي ثبات، د لږکيو د حقونو خونديتابه او د تېرو ۱۸ کلنو لاسته راوړنو د ساتنې له اړخه، د نوي ډيلي او بروکسل د موخو ترمنځ همغږي او ملګرتيا شتون لري. دغه چاره، د وروستيو ټاکنو، سولې پروسې او په پراخه کچه د موجود سياسي نظام د ملاتړ په برخه کې، د اروپايي ټولنې او هند په دريځونو کې ترسترګو شوې دی. دواړه هېوادونه په راتلونکي کې کولی شي، سيمه ييزې او نړيوالې ښکېلې مراجع وهڅوي او تر فشار لاندې راولي، تر څو له دغو ارزښتونو او له افغانانو سره له مرستې ملاتړ وکړي.

- **سيمه ييز ادغام او سيمه ييزې همکارۍ:**



هند د اروپايي ټولنې له مهمو سوداګريزو شريکانو څخه دی او دې ته دېره لېوالتيا لري، چې د يو اقتصادي زبرځواک په توګه راڅرګند شي. له دې سره سره، سيمه ييزه امنيتي بې ثباتي، د دې لامل شوی، چې د هند له اقتصادي ورتياوو او له مرکزي اسيا سره د دغه هېواد له اقتصادي اړيکې مخنيوی وکړي. همدارنګه اروپايي ټولنه د هند د يو ستراتيژيک شريک په توګه کولی شي، د هند او پاکستان ترمنځ منځګړيتوب وکړي، ترڅو د ستر سيمه ييز اقتصادي ادغام او اتصال لپاره انګيزه رامنځته شي.

- **په افغانستا ن او سيمه کې سياسي ټيکاو:**



د هند لېوالتيا او پاملرنه په افغانستان کې د اوسني سياسي نظام پر ساتنې او د دولت له پرځېدو او د طالبانو ببرته ستنېدو څخه پر مخنيوي متمرکزه ده. هند او د اروپايي ټولنې ببلابېل هېوادونه بيا هم کولی شي، د متحده ايالاتو د ځواکونو له وتلو وروسته، د پرمختيا او ثبات په برخه کې په دغه هېواد کې مرسته وکړي. که هغوی دا غوره کړي، چې د مرستو د کمېدو خلا، چې احتمال لري، په وروستيو کلونو کې يې کچه لوړه شي، ډکه کړي ، نو په دې برخه کې سرچينې برابرولی شي؛ چې ښه بېلګه يې د ژنيو وروستی کنفرانس و.

## په افغانستان کې احتمالي سناريوګانې: د هند ليدلوری

په دې پړاو کې، هند د سولې رواني پروسې د تولو پايلو او د افغانستان د راتلونکي دولت د ترکيب په اړه اندېښمن دی. د سيمه ييز امنيت د پراخ چاپېريال ثبات او پاکستان پر وړاندې د پياوړي دريځ لرلو په موخه، د هند بنسټيزه موخه دا ده، چې ناټو او متحده ايالات پر دې قانع کړي، چې په يو ډول نه يو ډول په افغانستان کې احتياطي ځواکونه چې اتکل کېږي هدف يې له تروريزم سره مبارزه وي، وساتي. دغه لاره چاره هم د بې ثباتولو له ګواښ سره مخ دی؛ ځکه د کمو نړيوالو ځواکونو پاتې کېدل، د طالبانو د ځوځښت د زياتېدو په صورت کې، د دولت له سقوط او پرځېدو څخه مخنيوی کولی شي. د دغې سناريو د ماتې په صورت کې، که څه هم تراوسه پورې يې د منلو وړ کومه پايله رامنځته شوې نه ده، اټکل کېږي هند به په لاندې لاړو چارو له نويو راتلونکو سناريوګانو سره لاس او ګرېوان کېږي:

- **يو نړيوال باثباته او مشروع حکومت:** د دغه سناريو له مخې، افغان دولت لږ تر لږه په خپل اوسني بڼه پاتې کېږي او طالبان بنايي د واک وېش د يوې معاملې له مخې، پکې شامل وي. په هغه صورت کې، چې د اوسني رژيم واکمني څېرې وکړای شي د نوي ډيلي ګټې خونديو او د هغوی له ترلاسه کېدو او سنبالتيا ډاډ ورکړي، نو بنايي دا يوه مطلوبه سناريو وي. که څه هم طالبانو او پاکستان يادونه کړې، چې د سولې نهايي هوکړه ليک په صورت کې به په کابل کې د حساب تصفيې غوښتنه وکړي[۴]. په راتلونکي کې لږترلږه په لنډمهاله موده کې پر دغه ډول حکومت باندې نفوذ لپاره د هند ځواکمنې، پر هغه کليدي شخصيت ولاړه وي چې هند له خوا يې ملاتړ کېږي او طالبانو سره د واک وېش لوری دی، چې منل يې کېدای شي طالبانو او پاکستان لپاره ستونزمن ثابت شي.

---

۳- د ۲۰۲۰ ز. کال په جولای کې، د اروپايي ټولنې او هند ترمنځ پنځلسمه ناسته، د هند او اروپايي ټولنې ترمنځ نوی ستراتيژيک ګډون تصويب کړ: تر ۲۰۲۵ کال پورې د لارې نقشه، چې د ګډو اقداماتو ترسره کولو او د هند او اروپايي ټولنې ترمنځ د اړيکو د لا پياوړتيا لپاره، د پنځو راتلونکو کلونو لپاره شمېرل کېږي.

۴- "د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، د بنديانو د خوشي کېدو په تړاو يو لړ څرګندونې وکړې او د پاکستان يو متقاعد جنرال، په کابل کې د رژيم د بدلېدو غوښتونکی شو، طلوع نيوز، سپتمبر .

- **یو باثباته رژیم خو د طالبانو تر واک لاندې:** په دغه سناریو کې، د افغانستان اوسنی حکومت یا له منځه ځي یا سقوط کوي، او طالبان بشر حقونو او ننني حقوقي اصولو ته په کمي ژمنتیا حکومت کوي. د طالبانو تر واک لاندې حکومت، کېدای شي د پاکستان یو ملاتړه حکومت وي یا لږترلږه کېدای شي داسې حکومت وي، چې د هند پر وړاندې نسبتا خصمانه سیاست ولري. په دې صورت کې، هند اټکل کېږي په اقتصادي او زیربنایي برخو کې د خپلو پانګونو وړاندوینه شوې لاسته راوړونې له لاسه ورکړي او په سیمه کې ځان منزوي احساس کړي. د کشمیر امنیتي وضعیت په داسې حال کې چې له چین سره یې سرحدي لانجې مخ په زیاتېدو دي، کېدای شي نوره هم زیانمنی شي. د دغه ډول یو راتلونکي حکومت د ننګولو لپاره، هند ښایي لکه ایران له نورو سیمه ییزو لوبغاړو سره متحد شي. که څه هم، هندي چارواکي، د هغه سناریو پر وړاندې د نوي ډیلي د غبرګون په تړاو چې طالبان پکې له هند سره له رغنده اړیکو څخه هرکلی کوي، تیاره او ناڅرګنده دي، چې آیا دغه وړاندیزونه په ښه نیت ومني او که رد یې کړي.

- **د کورني جګړې سناریو:** حکومت، د یو باثباته نظام له رامنځته کېدو پرته سقوط کوي او جګړې پراخېږي. په دغه سناریو کې ښکاري داسې چې سختې جګړې پیلیږي او ګاونډي هېوادونه له سیالو ډلو څخه ملاتړ کوي او اټکل کېږي، چې افغانستان به په حایلې سیمې خپلو کې ووېشي چې د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو پېښې رایادوي. د طالبانو تر واک لاندې حکومت سره د مخامخېدو په صورت کې، په نوي ډیلي کې یو شمېر چارواکي کېدای په بې باورۍ سره دغې سناریو ته ترجیح ورکړي او د افغانستان په مرکزي او شمال سیمو کې د واک او قدرت له ځېرو څخه ملاتړ وکړي او هغوی تر خپلې اغېزې لاندې راولي او د طالبانو – پاکستان جغرافیایي محدوده کمزورې کړي. په دغو شرایطو کې، هند کولی شي د خپل ملاتړ کچه زیاته کړي او ان خپل افغان همتړونو/ همپیمانانو ته چې په اټکلي توګه به د افغان امنیتي ځواکونو پاتې شونې وي، وسلې ولېږي او له نورو سیمه ییزو لوبغاړو سره همکاري وکړي.

## وړاندیزونه

- د لویدیځ تر پوځي شاتګ وروسته په افغانستان کې د ثبات په رامنځته کېدو کې د ګډو ګټو د ترلاسه کولو په موخه، هند او اروپایي ټولنه باید د افغانستان د پرمختیا او امنیت په برخه کې د اوسنیو دوه اړخیزو همکاریو له پړاو څخه د دغه پروګرام د پلیتابه پړاو ته حرکت وکړي. د امنیتي همکاریو د پیاوړتیا په ځانګړې توګه له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې، له هند سره د اروپایي ټولنې تعامل، کولی شي ان له سیمه ییز ثبات سره مرسته وکړي. د افغانستان له امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه د هند ملاتړ، چې تل د پاکستان له توند غبرګون او بدګومانی سره مل وي، که په څو اړخیزه بڼه چمتو/ مهندسي شي، کېدای شي د ناوړه نیوکو او غبرګونونو پر وړاندې، لږ زیانمنوونکی وي.

- د اروپایي ټولنې او هند ترمنځ د ستراتیژیک مشارکت هوکړه، چې د دواړه لوریو ترمنځ لاسلیک شوې، دواړه لوري کولی شي، د افغانستان د مسلې په تړاو یوه سیمه ییزه کړنلاره ولري او په افغانستان کې د سولې تر ټینګښت وروسته، د سولې، ثبات او هوساینې لپاره د مالي مرستې د یو ګډ صندوق رامنځته کېدو شونتیاوې وڅېړي. د هند سرچینې، اروپایي ټولنې سره د یو ځای کېدو د یوه اصلی کاندید په توګه دغه هېواد افغان دولت سره په یو اصلي تمویلوونکي بدلوي، چې خپلوپام وړ مرستو ته به دوام ورکړي.

- د دوو سیمه ییزو اغېز لرونکو هېوادونو - ایران او روسیې پر سیمه ییزو ګټو اغېزمنتیا کې د اروپایي ټولنې محدودې وړتیا ته په پام سره، که هند له ډیپلوماتیک اړخه له دغو دوو هېوادونو سره پیاوړي اړیکې ولري، نو تړې بالقوه زیاتې ګټې ترلاسه کولی شي. دغه دواړه هېوادونه کولی شي، له اروپایي ټولنې او هند سره د نږدې کاري اړیکو په رامنځته کولو سره په ګډه کار وکړي، او له دې لارې د یوه نوي تمویلوونکی بلاک ډیپلوماتیک ځواکمن او افغانستان کې د نورو هېوادونو له بې ثباته کوونکو کړنلارو څخه مخنیوی وکړي.

- د کډوالي او سیاحت په برخه کې هند کولی شي، د ویزې په پالیسي کې په ځانګړې توګه د ناروغي، سیاحت او پانګونې په برخه کې ویزو کې د افغانانو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي. د زیات شمېر افغانانو لپاره، هند د ناروغي د درملنې لپاره تر ټولو باکیفیته مرجع ګڼل کېږي. دغه ډول اړیکې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د تلپاتو او متداومو اړیکو د دوام په برخه کې ډېرې اړینې دي.

**د لیکوالانو په اړه**

داکټر تیمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کړکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منده څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتې د انځورونو په اړه:**

د هند لومړي وزیر نریندرا مودي (مینځ کې) د افغانستان د ولسمشر محمد اشرف غني (دویم ښی) تر څنګ، د افغانستان د پارلمان د نوې ودانۍ د پرانستې پرمهال چې د هند د حکومت په مالي مرسته جوړه شوې ده، د میلمنو کتاب لاسلیکوي. ۲۵ دسمبر ۲۰۱۵ز. کال

انځور: رویټرز / عمر سبحاني

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریډریش ایبرټ بنسټ

ویب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فریډریش ایبرټ بنسټ له لیکلې مخکینۍ اجازې پرته، د فریډریش ایبرټ بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د فریډریش ایبرټ بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.



د پالیسۍ لنډیز

# گاونډي په نوي عادي حالت کې؟

## پاکستان او افغانستان تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته

انډریو واټکېنز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د پالیسۍ دغه لنډیز له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو وروسته، له افغانستان سره د پاکستان تعامل په لنډ ډول څېړي. دغه څېړنه دغه موضوع تر بحث لاندې نیسي، چې له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو د وتلو د ماهیت په تړاو څرنګه ابهام، د پاکستان پر ملي او سیمه ییز امنیت باندې اغېزه کوي. دغه پوښتنه، چې کومې سناریوګانې په دې برخه کې تر ډېره واقعیت ته نژدې دي، په کابل، اسلام آباد او اروپایي هېوادونو کې د لنډمهالو او منځمهالو پالیسیو د تعدیل غوښتونکی دی. دغه څېړنه، له افغانستان سره د اسلام آباد راتلونکی تعامل تر څېړنې لاندې نیسي، د سولې تر پروسې وروسته د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ ننګونې او لیدلوري جوتوي او دا په ګوته کوي، چې د اروپایي ټولنې او سیمه ییزو ستراتیژیو کې باید کومو لاملونو ته رسېدنه وشي، ترڅو له یوې احتمالي جګړې څخه په اغېزناکه توګه مخنیوی وشي.

د دواړو هېوادونـو ترمنـځ اړیکـې، له هغه مهالـه کړکېچنی دي، چې پـر ۱۹۴۷ ز. کال یعنې د پاکسـتان تـر خپلواکي وروسـته افغانسـتان پـه ملګرو ملتونو کـې د پاکسـتان د غړیتوب پر وړانـدې مخالفـه رایه وکاروله[۱]. له هغې مودې راهیسـې د پاکستان سیاسـت د افغانسـتان پـه تـړاو هنـد محـور دی او پـه وروسـتیو لسـیزو کـې دوو اصلـي موخو تـه یې د رسـېدو په موخـه پرمختـګ کـړی دی: (۱) په کابل کې نسـبتا د یو دوسـت دولت د ټینګښـت په موخه د پښـتون اکثریـت وګـړو څخه په ګټه اخیسـتنې سره سـتراتیژیک عمق ته رسـېدل، او (۲) د هنـد لـه خوا د سـتراتیژیکي کلابندۍ څخه مخنیوي او په افغانسـتان او سـیمه کـې د هند د مخ پر وده ډیپلوماتیک او سـوداګریز حضور کموالی[۲]. د افغانسـتان په مرسـته د پاکسـتان په دننه د ډیلي له خوا د بلوڅو او وزیرو بیلتون پالو ډلو سره مسـتقیمه او نامسـتقیمه مرسـته، د بـې بـاورۍ کچـې د زیاتېـدو لامل شـوی دی. سربېره پـر دې کابل له ډېرې مودې راهیسـې د یـوې رسـمي پـولې په توګـه د ۱۸۹۳ ز. کال ډیورند کرښـې وضعیت د اختـلاف وړ ګڼي. پاکسـتان، پـر افغانسـتان د پخواني شـوروي اتحاد د یرغـل پرمهال[۳]، د مجاهدینو سـني ډلو تـه پنـاه ځـای او وسـلې ورکړې، ترڅـو هغوی وکولـی شي، په افغانسـتان کـې وجنګېږي. دغـه هېـواد، له افغانسـتان څخه د شـوروي اتحـاد د ځواکونو تر شـاتګ وروسـته، د جنګي ډلـو ترمنځ د سـیاسي حل او فصل څـو ناکامو هڅو هوکړه لیکونه، لکه د راولپنډۍ، اسـلام آبـاد او پېښـور هوکـړه لیکونه، تسـهیل کړل، او په پایله کې په سـیاسي او پوځـي ډګر کې یې تـر ۲۰۰۱ ز. کال لـه طالبانـو څخـه ملاتړ وکړ. پاکسـتان د متحده ایالاتـو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۱۹ ز. کال د هوکـړه لیـک د لاسـلیکولو په برخه کې کریډیټ ترلاسـه کـړ او پر طالبانو د دغـه هېـواد فشـار تـه په پام سره، د افغانسـتان د سـولې په پروسـې کې یې د مرکـزي لامل په توګـه، دریـځ خپل کړ.

## ربښتینی تغییر یا تظاهر او ځان ښودنه؟

تر ۲۰۰۱ ز. کال وروسـته د افغانستان په تړاو د پاکسـتان سیاسـت ناشـفافه او متناقض دی؛ پـه ځانګـړې توګـه لـه طالبانـو څخـه د دغـه هېـواد پټ ملاتـړ، پـه کابـل او نورو هېوادونـو کـې د دغـه هېواد په تـړاو د بې باوریو او بدګمانیو لامل شـوی دی. پاکسـتانی چارواکـي ټینګار کـوي، چـې دواړه هېوادونـه د بیـن الافغـاني خبرو لـه لـرې د ګټـې اخیسـتنې لپـاره، تاریخـي فرصـت لـري او پـه ضمن کـې له کابـل څخه غـواړي، چې د «ملامتولـو» تـر سیاسـت چې تر ډېـره یـې دوی اړیکې تر سـیوري لاندې راوسـتې، لوړ فکـر وکـړي. پـه سـیمه کې، دغـه ټولیـزه انګېرنه هم شـتون لري، چـې په معـاصر تاریخ کـې د لومـړي ځـل لپاره، د افغانسـتان په تـړاو په ځانګـړې توګه اقتصادي او سـوداګریز ادغـام پـه اړه، د پاکسـتان، ایـران او روسـیې ترمنـځ یـو ګـډ لیدلـوری شـتون لـري. دغه درک شـتون لـري، چې د افغانسـتان جګړې ته د رسـېدو پـه برخه کې، باید پخپله سـیمه ییـز هېوادونـه ونـډه ولـري، نه دا چـې دا دنـده د نړیوالو لوبغـاړو پر غـاړه واچول شي او پـه افغانسـتان د بـې ثباتـۍ زیاتوالـی، د هېڅ سـیمه ییز هېـواد په ګټـه نه ده.

لـه دې سره سره، لـه ۲۰۰۱ ز. کال راهیسـې افغـان دولـت پـه دوامـداره توګـه څرګنـده کـړې، چې د پاکسـتان بنسـټیزې انګیـزې او سـتراتیژیک اصولو کوم بدلون نـه دی کړی. د هند د نفوذ د پراختیا په اړه د اندېښـنو سربېره، د پاکسـتان افغاني سیاسـت، د «تسـخیر او وېـش» لـه یـوې سـتراتیژۍ څخه په ګټه اخیسـتنه، د کورنیو ګواښـونو شـنډول دی او همدارنګـه د نـورو پـه وړاندې د یو شـمېر ملیشـه یـي ډلـو کارول وو او دي. د پاکسـتان د وخیـم اقتصـادي وضعیـت او د دغه هېـواد د اوږدمهالـو پورونو له سـتونزې سره سره، کابـل بـاوري دی، چـې پاکستان د دغه عواملو پر بنسـټ، په خپل سیاسـت کـې د تغییر راوسـتلو تـه لېوالتیـا نه لـري او ادعا کوي، چې د پاکسـتان د تغییر شـعارونه لـه دې پرته چـې د واشـنګټن لپـاره تظاهـر او ځـان ښـودنه وي، بـل څـه نـه دی. افغـان چارواکـو، یادونـه کـړې، چـې د انګیـزو او بازدارندګیـو مخکنـي ترتیبـات لکـه لـه پاکسـتان سره د پرمختللـي مشـارکت مقـرره، چـې پـر ۲۰۰۹ ز. کال کې لاسـلیک شـو او د کیـري لوګر هوکـړه لیـک پـه نامـه هـم یادېږي او دغـه هېواد تـه یـې میلیاردونه ډالـره چمتو کـړل، بیا هـم د دې لامـل نه شـول، چې د پاکسـتان مشرتابه دې تـه اړ کړي، ترڅو خپـل فکر بدل کـړي، یـا د خپـل ملي امنیـت پر سیاسـت بیاکتنـه وکړي.

---

۱ . لـه ابهامـه تـر سـتراتیژي پـورې پـروژه: د افغانسـتان پـه سـیمه کـې د برلاسـه کېدو راتلونکـي احتمالي سـناریوګانې څه دي؟ دا د فریډریش ایبرټ بنسـټ یـوه خپلواکه هڅـه ده، ترڅو د افغانسـتان د ګاونډیو لپـاره، د پالیسـیو د تعدیـل، او د اروپایي بهرنیو پالیسي جوړوونکـو ترمنـځ یـوې هـر اړخیـزې اړتیـا لپـاره ورتـه سـناریوګانې تدویـن او تـر بحـث لاندې ونیسي. د پالیسـۍ دغـه لنډیـز، د دغه لړۍ یـوه برخه ده، چـې د انډریـو واټکېنز و ډاکټـر تیمور شـاران له خوا لیکل شـوی، ترڅـو د پالیسـۍ د موجودو ابـزارو، سـتراتیژیکې ګټـې او د افغانسـتان پـه دننـه او بهـر د اصلـي شریکانـو د ننګنـو په تـړاو، د امریکا د وتلو او د افغانسـتان د سـولې خبرو پایلې، تـر بحث لاندې ونیسي. د پالیسـۍ د لنډیزونو بشـپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسـه کولـی شي: https:// afghanistan.fes.de/publications

۲ قندیل صدیق، د افغانستان په تړاو د پاکستان راتلونکی سیاست: ستراتیژیک عمق ته کتنه، توندلارې خوځښتونه او د هند او امریکا ونډه (کوپنهاګ: د ډنمارک د نړیوالو څېړنو انستیتوت، اګست ۲۰۱۱).

۳ دا د ۱۸۹۳ز. کال د تړون په پایله کې ، افغان لوري د پام وړ خاوره، لکه د نن ورځې د خیبر پښتونخوا او بلوچستان ایالتونه پاکستان ته وسپارله.

په داسې حال کې، چې افغان لوري له خپلو سیالو پاکستاني ملکي (ناپوځي) چارواکو څخه د دوستي پیغامونه ترلاسه کوي، خو د کابل چارواکي په خصوصي توګه څرګندوي، چې لا هم لیرې ده، چې داسې یو څه په عمل کې پلی او د پاکستان د امنیتي سازمانونو ونډه پکې نه وي. اسلام اباد په خصوصي توګه له کابل او د افغانستان له نورو داخلي لوبغاړو سره اړیکې لري او دغه څه یې د خپل ۱۹۹۰ ز. کال له تېروتنو څخه زده کړي او په جدي توګه په خپل لویدیځ ګاونډ کې د یو باثباته ګاونډی غوښتونکی دی، ترڅو له بې ثباتیو او د هغه له پایلو څخه لکه دغه هېواد ته د کډوالو د پراخ بهیر ماتېدلو څخه مخنیوی وکړي. د اسلام اباد پالیسي جوړوونکي، څرګندوي چې د لاندینیو بنسټیزو موضوعاتو په تړاو، په اسلام اباد کې یو نوی درک شتون لري:

- داسې ښکاري، چې پاکستاني چارواکي له خپلې مخکنۍ ستراتیژۍ څخه، چې په افغانستان کې له پښتون قوم څخه د ملاتړ پر بنسټ و، له نورو ناپښتانه قومونو لکه تاجکو، هزارو او په شمال او مرکزي سیمو کې ازبکو سره د اړیکو د جوړولو له لارې، لیرې کېږي. له پاکستان څخه د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او د ولسي جرګې د رییس میررحمن رحماني وروستی لیدنې، د دغې نوې ستراتیژۍ یوه برخه ده. افغان ناپښتانو سیاستوالو هم هڅه کړې، ترڅو په نارسمي توګه له اسلام اباد سره اړیکې ټینګې کړي او له دغه هېواد سره د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په تړاو خبرې وکړي.
- په اسلام اباد کې پالیسي جوړونکي، د دې پرځای چې افغانستان د یوې حایلې سیمې او د ستراتیژیک عمق سرچینه وګڼي، چې یوازې د یو امنیتي سیاست له لارې ترلاسه کېدای شي، د افغانستان ظرفیت د سیمه ییز ادغام او اتصال او اقتصادي همکاریو د یو قطب په توګه جوتوي. په همدې توګه، د دغه هېواد چارواکو، همدارنګه څرګنده کړې، چې دوی په دې لټه کې دي، ترڅو د افغانستان مسله له هند څخه جلا او په ځانګړې توګه، د کشمیر له اختلافي مسلې جلا وګڼي، چې په پراخه کچه د افغانانو له هرکلي سره مخ شوی دی.
- د زیاترو شنونکو په باور، د افغانستان او پاکستان د اړیکو پراختیا، د جیوپولټیکي ډینامیک او سولې بهیر ورهاخوا، تر ډېره بریده په نورو موضوعاتو لکه د سرحدونو مدیریت، د تعرفو منطقي کول، د آزاد ترانزیټ هوکړه لیک او افغان کډوالو بېرته ستنېدو پورې تړلي دي..
- د زیاترو شنونکو په باور، د افغانستان او پاکستان د اړیکو پراختیا، د جیوپولټیکي ډینامیک او سولې بهیر ورهاخوا، تر ډېره په نورو موضوعاتو لکه د سرحدونو مدیریت، د تعرفو منطقي کول، د ازاد ترانزیت هوکړه لیک او افغان کډوالو بېرته ستنېدو پورې اړوند دی.

## په افغانستان کې احتمالي سناریوګانې: د پاکستان لیدلوري

اسلام اباد په ځانګړې توګه له افغانستانه د متحده ایالاتو د ناڅاپي وتلو په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې او په دې برخه کې د ډاکټر نجیب الله دولت د ۱۹۹۲ کال وروسته دوره یادوي، چې پاکستان ادعا کوي، زیات مسوولیت او بار یې پر غاړه واخیست. چارواکو، همدا راز څرګنده کړې، چې اسلام اباد همدارنګه له افغانستان څخه د متحده ایالاتو مسوولانه وتلو ته ترجیح ورکوي، هغه دریځ، چې کابل او د سیمې او اروپایي ټولنې زیاترو هېوادونو سره ګډ نظر لري. لکه څرنګه چې د ناټو په وروستی ناسته کې هم له افغانستان څخه د ځواکونو پر جوړښتیز او شرایطو پر بنسټ برابر شاتګ ټینګار وشو.

د هغو درېو سناریوګانو له جملې څخه چې په پراخه کچه د بحث وړ دی، پاکستاني پالیسي جوړوونکي لومړیو دوو انتخابونو ترلاسه کېدو ته خوشبین دی:

- **د یو نړیوال باثبات او مشروع دولت ټینګښت:** دغه سناریو، په خپله فعلي بڼه کې د افغان دولت د ابقا او پاتې کېدو لامل ګرځي، چې طالبان هم د واک وېش په بهیر کې پکې شامل دی. په همدې حال، په اسلام اباد کې پالیسي جوړوونکي، په ځانګړې توګه جنرالانو اشاره کړې، چې ښایي له اوسني دولت سره به کارونه کوي او په ټولیزه توګه دې لومړیتوب ورکوي، چې په کابل کې نوی دولت له هند سره نژدې اړیکې ونه لري[۴]. کابل، دغه څرګندونې د دې لامل بولي، چې د افغانستان په تړاو د پاکستان سیاست تغییر نه دی کړی.
- **یو باثباته دولت خو د طالبانو تر واک لاندې:** په دغه سناریو کې، د کابل اوسنی دولت له منځه ځي او د بشرحقونو او په اساسي قانون کې موجودو اصولو ته په کمې پاملرنې سره به طالبان واک په خپل لاس کې اخلي. په دغه سناریو کې پاکستان کولی شي، په کابل کې تر خپلې حمایې لاندې یو دولت د رامنځته کېدو لپاره، شرایطو څخه په ګټه اخیستنې سره، د طالبانو له مشرتابه سره، چې ښایي یو شمېر سیمه ییزو او ولایتي واک کړیو په ځانګړې له شمال او مرکزي سیمو څخه شامل وي، کار وکړي.
- **د کورنۍ جګړې سناریو:** دغه سناریو، د پاکستان او نورو سیمه ییزو لوبغاړو لپاره ډېره کمه مطلوبه پایله لرلې شي. که د سولې هوکړه لیک له ماتې سره مخ شي او نړیوال ځواکونه له افغانستان څخه خپلو وتلو ته دوام ورکړي، نو جګړه ښایي دوام پیدا کړي او لا شدیده شي؛ په داسې حال کې، سیمه ییز لوبغاړي له دې جملې څخه پاکستان د خپلو امنیتي ګټو د خوندیتوب په موخه به له سیالو کورنیو ځواکونو څخه ملاتړ وکړي. ښایي نور هېوادونه لکه ایران، هند او روسیه هم دغه لوبې ته ورننه شي او هېواد د یوې بلې خونړۍ دورې خواته حرکت وکړي. دغه سناریو کولی شي، له فاجعو ډکې بشري پایلې له ځانه سره ولري؛ پاکستان او ایران اړ دي، د دغه ناورین ډېره کچه په ځانګړې توګه د کډوالو ناورین، لکه د ۱۹۹۰ لسیزې په شان، متحمل شي. د دغې سناریو له دغو منفي اغېزو سره سره، پاکستان ښایي د جمع صفر ستراتیژیک لیدلوري سره سم، چې د هند د نفوذ انکار ته تر بل هر څه لومړیتوب په پام کې نیسي، په دغه سناریو کې ښکیل شي.

---

۴ "د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر، د بندیانو د خلاصون په اړه څرګندونې وکړې او یو پاکستان متقاعد جنرال، په کابل کې د رژیم د بدلېدو غوښتونکی شو، طلوع نیوز، سپتمبر ۲۰۲۰.

## سیمه‌ییز ګډ لرلید؟ د سیمه‌ییزو ستونزو مالکیت

د ننګونو خواږخیزو او پیچلي ماهیت ته په پام سره، دواړه هېوادونه یعني پاکستان او افغانستان باید د خپلمنځي اړیکو ښه کولو پر لوري ګام واخلي، او د سولې له داسې پروسې څخه ملاتړ وکړي چې د لنډمهالي سولې تر ټینګښت لوړې پايلي له ځانه سره ولري. دواړه هېوادونه باید په ګډه توګه د همکاریو بالقوه برخو کې په لنډمهاله او منځمهاله توګه سره کار وکړي. دغه برخې، د سرحدونو مدیریت، کډوالو، سوداګرۍ، اقتصادي اړیکو او تروریزم په برخو کې ګډ کار رانغاړي.

- **سیمه ییز امنیت:** د متحده ایالاتو وتل، د افغانستان سیمه ییز امنیت تحرک لپاره فرصت چمتو کوي؛ ځکه ایران، پاکستان، چین، روسیه او نور سیمه ییز هېوادونه به نور په سیمه کې د امریکا د اوږدمهال شتون په تړاو اندېښنې ونه لري؛ دغه چاره، ښايي له امنیت څخه اقتصادي ادغام ته، د تمرکز د بدلون لامل شي. د تعقیب په صورت کې، د پاکستان له لوري، د هند له مسلې څخه د افغانستان د مسلې بېلول، هیله بښونکې چاره ده. له ۲۰۱۳ ز. کال راهیسې د پاکستان په تړاو د روسيې کړنلاره – البته د دوام په صورت کې – ښايي له سیمې څخه د ناټو تر وتلو وروسته، د سیمه ییزې شخړې او لانجې د ګواښ کچه په بې ساري توګه راټیټه کړي[٥].

- **د افغان کډوالو ببرته ستنول:** اوسمهال، پاکستان په خپله خاوره د نږدې دریو میلیونو افغان کډوالو کوربه دی، چې پکې ثبت شوي او ناثبت شوي کډوال دواړه شامل دي، دغه چاره د دواړو هېوادونو د راتلونکو اړیکو په برخه کې یو مهم عامل دی[٦]. دواړه هېوادونه په دې برخه کې د اروپايي ټولنې او ملګرو ملتونو سازمانونو تخصصي مرستو ته اړتیا لري، ترڅو له یو بل سره په همکارۍ سره، د افغان کډوالو د ببرته ستنولو په موخه د پالیسیو یوه منسجمه او عملي ټولګه او اغېزناکې حل لارې تدوین کړي.

- **اقتصادي ادغام او سوداګري:** پاکستان، د خپلې کورنۍ ستونزې د هوارۍ لپاره په ځانګړي توګه د اقتصادي سیما، د انرژۍ د کمښت، اقلیمي بدلون او د زېربناوو پرمختیا په برخو کې، په افغانستان کې ثبات ته اړتیا لري. دغه چاره، د اقتصادي اتصال امکانات لکه د ترکمنستان – افغانستان – پاکستان او هند د ګازو نللیکې (TAPI)، د مرکزي اسیا – سویلي اسیا د برېښنا د لېږد پروژې (CASA-1000) او د وسپنې پټلۍ د لارو جوړولو لپاره لارې چارې چمتو کوي. لکه څرنګه اروپايي ټولنې او امریکا په ښکاره څرګنده کړې، په پاکستان کې د هغوی راتلونکې پانګونې به تر ډېره، د افغانستان او پاکستان ترمنځ په ښو اړیکو او په سیمه کې ثبات پورې تړاو ولري.

- **له تروریزم سره مبارزه:** پاکستان تر نړیوالو او کورنیو تر فشارونو لاندې دی، په ځانګړي توګه د مالي اقدام کاري ډلې، ترڅو هغو تروریستي او توندلارو ډلو ته رسېدنه وکړي، چې د دغه هېواد له خاورې څخه فعالیت کوي. له طالبانو سره د متحده ایالاتو د هوکړه لیک لومړی شرط دا دی، چې له تروریزم سره مبارزه وکړي. له عملي پلوه، هم افغان دولت او هم طالبان کلونه د خراسان له اسلامي دولت (ISKP) سره جنګیدلي دي. له ISKP سره مبارزه، د پاکستان او نورو نړیوالو لوبغاړو ترڅنګ، کولی شي د جګړې د دواړو لورو ترمنځ د همغږۍ یو ټکی وي.

- **د پانګونې او روغتیايي سیاحت ویزې:** افغانانو، د پاکستان د ویزې له وروستۍ پالیسۍ څخه په ځانګړي توګه د روغتیايي او سوداګریزو موخو لپاره هرکلی کړی دی. پاکستان همدارنګه د درملنې په موخه د زیاترو افغانانو لپاره یو اصلي مقصد دی. د ټولو افغانانو لپاره د ویزې په شرایطو کې زیاته آسانتیا، په ځانګړي توګه اوږدمهالو او څو ځلي ویزو په برخو کې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په برخه کې مرسته کوي.

په پاکستان کې افغان کډوال او پناه غوښتونکي (۲۰۰۰-۲۰۱۹)

سرچینه: UNHCR




---

٥ د "روسیې، افغانستان او اروپا پالیسي ته" مراجعه وکړئ، تیمور شاران، انډریو واټکینز، FES ، دسمبر ۲۰۲۰ ز.کال.

٦ "په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت"، د اروپايي پناه غوښتونکو د ملاتړ دفتر، می ۲۰۲۰ ز. کال.

## د اروپايي ټولنې لپاره وړانديزونه

اروپايي ټولنه په نورو لړزاندو شرايطو کې له خپلو تجربو څخه په ګټه اخيستنې سره، کولی شي، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو پياوړتيا او رغېدا برخه کې مرسته وکړي، چې دغه چاره د سيمې او تر هغه هاخوا د سولې او ثبات لامل ګرځي.

- اروپايي ټولنه کولی شي له پاکستان سره د خپلو اړيکو او له خپل واک څخه په ګټه اخيستو سره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو اترو له لارې په ځانګړې توګه، د سولې روانو خبرو ها خوا موضوعاتو په تړاو لکه د کډوالو بېرته ستنېدل، د سرحدي لانجې حل، د اقتصادي همکارۍ او سوداګريز ادغام سره مرسته وکړي. له افغانستانه د ناټو د پوځيانو تر وتلو وروسته، بايد د دواړو هېوادونو لپاره لابيګرى وشي، ترڅو له دغه فرصت څخه، د خپلو اړيکو د بيا تعريف لپاره ګټه واخلي.
- اروپايي ټولنه بايد پر پاکستان زيات فشار وارد کړي، ترڅو دغه هېواد طالبان دې ته اړ کړي، چې د سولې روانې خبرې جدي ونيسي او د تاوتريخوالي کچې راټيټېدو ته ژمن شي؛ لکه څرنګه چې د ۲۰۲۰ ز. کال په ژنيو کنفرانس دې ورته شی تر سترګو شو. له دې پرته طالبان د سولې په خبرو کې، د خپل حداکثر پالنې کړنلارې له لارې ښايي خپل لاس تر حد زيات خلاص کړي او دغه پروسه به لا کمزورې کړي. په خبرو کې ځنډ، کېدای شی د طالبانو – امريکا ترمنځ هوکړه ليک نورې مادې لکه د ملګرو ملتونو د تحريمونو لغو کېدل او د بنديانو خوشي کېدل، تر خپلې اغېزې لاندې راولي او دغه لړۍ لا پسې پېچلې کړي.
- اروپايي ټولنه، له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه چين او ايران سره د خپلو اړيکو او واک څخه د سيمه ييزو همکاريو او اقتصادي متقابلې تړلتيا په موخه کار واخلي.
- اروپايي ټولنه او امريکا بايد پاکستان تر خپلو فشارونو لاندې ونيسی، ترڅو په خپله خاوره کې د طالبانو پناه ځايونه وتړي. کابل تل دا اندېښنې مطرح کوي، چې د پاکستان د سياست له تغيير پرته، طالبان به تل د دې جوګه وي، چې د دغې ډلې د غوځې ماتې په موخه د افغان دولت هڅې بې پايلې کړي. د نورو هېوادونو تجربو ښودلې، چې د امنو او خوندي پناه ځايونو شتون، د وسله والو نښتو عمر اوږدوي او د دې ترڅنګ د بين الدولي جګړې ګواښ زياتوي[7].
- له موجودو ميکانيزمونو لکه د سولې او پيوستون لپاره د افغانستان او پاکستان کاري (APAPPS) پلان څخه په ګټه اخيستنې سره، چې پر ۲۰۱۳ز. کال د برېتانيا په منځګړيتوب سره تدوين شو، اروپايي ټولنه د نورو اختلافونو د هوارۍ لپاره په ځانګړې توګه د ډيورند کرښې په تړاو اوږدمهال اختلاف او لانجې په برخه کې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د خبرو او بحث منځګړيتوب وکړي. دغه چاره کولی شي، د سوويلي او مرکزي اسيا ترمنځ بين المنطقه يي اړيکې د افغانستان له لارې پياوړې او پراخې کړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د منطقي تعرفي او آزاد ترانزيټ په برخه کې مرسته وکړي.

---

۷ "له هېواده بهر تروريستي ډلو څخه د ملاتړ لړۍ"، دانيال بايمن RAND Corporation 2021، et al، ۸۴ مخ.

### د ليکوالانو په اړه


داکټر تېمور شاران د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د عامه پاليسۍ مرستيال پروفيسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړيوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډريو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هيله منډۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنيوي کې ژوره ښکېلتيا لري. تر دې پخوا يې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امريکا متحدو ايالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.


### د پښتۍ د انځورونو په اړه:

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني (ښی) د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره په ۱۹ نومبر ۲۰۲۰ په ارګ کې سره وکتل.

انځور: رويټرز / محمد اسماعيل /


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فريډريش ايبرټ بنسټ



وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فريډريش ايبرټ بنسټ له ليکلي مخکينۍ اجازې پرته، د فريډريش ايبرټ بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګريزه ګټه اخيستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظريې، د فريډريش ايبرټ بنسټ د ليدلورو منعکسوونکي نه دي.



د پالیسۍ لنډیز

# افغانستان تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته:

# د چین د سیمه ییزو لوړو هیلو او امنیتي پایلو لپاره؟

انډریو واټکېنز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه لنډیز، له ۲۰۲۱ ز. کال وروسته په افغانستان کې د چین ښکېلتیاوو ته رسېدنه کوي. دا څېړنه په ډاګه کوي، چې له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو د وتلو د ماهیت په اړه د ناډاډمنتیا زیاتوالی او د دغه هېواد په پالیسۍ کې تغییر، څرنګه په سیمه کې د چین پرملي امنیت او اقتصادي موخو اغېزه کوي. چین او اروپايي ټولنه دواړه د بین الافغاني خبرو اترو څخه ملاتړ کوي. تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته، په کابل، پیکینګ او د اروپايي هېوادونو په پلازمېنو کې د امنیتي همکاریو او پرمختیا لپاره د کومو شرایطو وړاندوینه شوې ده؟ د افغانستان له نړیوالو شریکانو څخه د چین هیلې او تمې او د چین د موخو پر تړاو د دغه شریکانو اندېښنې څه دي ؟ په کومو برخو کې درې اړخیزه همغږي د ګډو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ډېره اړینه او بریالۍ ده؟

چین او افغانستان پر ۱۹۶۰ ز. کال کې د دوستۍ او پر یو بل د نه یرغل دوه اړخیز تړون لاسلیک کړی او د اقتصادي تعامل په محوریت سره د سرې جګړې د وخت اړیکې یې ترسیم کړې[1]. له هماغې دورې راهیسې، په افغانستان کې، په ځانګړې توګه په اقتصادي برخو کې د چین لوړې هیلې ثابتې پاتې شوې دي. د افغانستان په سیاسي او امنیتي چارو کې دغه د ودې پرحال زبرځواک، خپل ګډون محدود کړی دی. دواړو هېوادونو په ۲۰۰۶ ز. کال کې د ۱۹۶۰ ز. کال د تړون او د «ښه ګاونډیتوب» د اصل پر بنسټ، خپله دوستي تجدید کړه چې پر بنسټ یې چین افغانستان او ګاونډیان په پراخه کچه له ثبات څخه د ملاتړ په تړاو راښکېلوي. چین په ټولیزه توګه، په افغانستان کې د خپل امنیت او اقتصادي ګټو د خوندیتوب په برخه کې، تر ډېره بریده پر پاکستان چې له ۱۹۶۰ کال راهیسې په سیمه کې د چین نږدې ملګری او متحد هېواد دی، تکیه کړې ده. خو پر ۲۰۱۴ ز. کال له افغانستانه د امریکايي سرتېرو د وتلو او په دغه هېواد کې د احتمالي امنیتي تشې د رامنځته کېدو له امله، داسې ښکاري، چې پیکینګ د خپلو لویدیځو پولو په څنډه کې افغانستان ته د یو لومړیتوب په سترګه ګوري. که امریکا او ناټو دواړه په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي، نو چین کولی شي، افغانستان د خپل اقتصادي نفوذ ساحې ته نږدې کړي؛ ځکه چین له کلونو راهیسې د یو کمربند او یوې لارې تر طرحې لاندې د دغه هېواد د راوستو په اړه خبرې او بحث کړی دی.

## د چین اقتصادي او ډیپلوماتیک اهرم پراختیا

چین، په افغانستان او سیمه کې د پام وړ اقتصادي او ډیپلوماتیک نفوذ لري، خو لا تراوسه یې په کابل کې له دغه نفوذ څخه د سیاسي موخو لپاره ډېر لږ کار اخیستی دی. پیکینګ، چې په سویلي او مرکزي آسیا کې ځان د مخ پر وده اقتصادي زبرځواک په توګه ثابت کړی دی، تر هغه مهاله چې متحده ایالات په سیمه کې پوځي شتون ولري، په احتیاط سره به پرمخ ولاړ شي. د یو کمربند او یوې لارې او سینکیانګ او ګوادر چیني طرحه، چې د ځمکني او سمندري سوداګریزو مسیرونو پلان شوې شبکه ده، او اټکل کېږي، چې د اسیا له ټولو وچه سیمو څخه تېر شي، په پاکستان او د مرکزي آسیا په هېوادونو کې به د سترې پانګونې جوګه شي. دغه چاره، همدارنګه د نااندولتوب او ان په دوه اړخیزو اړیکو کې د هغوی د ښکیلتیا لامل شوې ده. چین له پاکستان سره ژمنه کړې، چې ۶۲ میلیارده ډالره یوازې د چین او پاکستان کوریډور (دهلېز) په برخه کې، چې د یو کمربند او یوې لارې د شپږو کوریډورونو له ډلې څخه یوه ده، پانګونه وکړي[2]. همدارنګه چین د ۲۰۲۰ ز. کال په اګست کې، د سوداګرۍ، سیاست او امنیت په برخه کې له ایران سره د ستراتیژیکو همکاریو یو تړون لاسلیک کړی، چې پر بنسټ یې د فارس په خلیج کې چین ته یو ستراتیژیک ځایځایګی وبانښه[3]. په افغانستان کې، د چین دولتي شرکتونو یو کنسرسیوم، په ۲۰۰۸ز. کال کې د دغه هېواد د مسو د یوه ستر کان د تړون ګټونکی شو.

که متحده ایالات او لویدیځ شریکان یې له افغانستانه ووځي، نو له پاکستان سره د چین دغه نږ دې ښکېلتیا او اړیکې، تر ډېره بریده کولی شي، د سیمې سیاسي فضا د چین په ګټه وڅرخوي او بدلون پکې را منځته کړي. دغه سترې پروژې چین ته دا اهرم په لاس ورکوي، ترڅو نور هېوادونه په ځانګړې توګه افغانستان دې ته مجبور کړي، چې د چین ثبات او امنیت ته ورپېښېدونکي ګواښونه په خپله خاوره کې له منځه یوسي. د یادونې وړ ده، چې پاکستان او طالبان، چې پر هغو ډلو نفوذ لري، چې د چین امنیت ګواښوي، تراوسه پورې په دې برخه کې د پام وړ اقدامات نه دي ترسره کړي. دې ته په پام سره، دغه پوښتنه پر خپل ځای پاتې کېږي، چې آیا پیکینګ د دغه موضوع په تړاو هغوی تر خپل فشار لاندې راوستي او دغه چاره تر کومه بریده اغېزناکه کېدای شي.

---

۱ له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: په سیمه او افغانستان کې د راتلونکي ګټونکي سناریو لپاره امکانات څه دي؟ دا په افغانستان کې د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیانو لپاره د احتمالي سناریوګانو، د پالیسۍ سمون او د اروپا د بهرنۍ سیاست جوړونکو تر منځ د جامع تګلارې اړتیا باندې بحث وشي. د پالیسۍ لنډیز د انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شاروان لخوا د لیکل شوې پالیسۍ یوه برخه ده چې د متحده ایالاتو د وتلو اغیزې او د افغانستان د سولې د خبرو اترو موجودو ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کې دننه او بهر د کلیدي شریکانو ننګونو په اړه بحث کوي. د دې پالیسۍ لنډیز بشپړ مطلب کولای شی په لاندی پته تر لاسه کړئ. https://afghanistan.fes.de/publications

۲مریم صافي او بسم الله علیزاده، ۲۰۲۰، «د یو کمربند او یوې لارې په طرحه کې د افغانستان شاملېدل: څېړنه، تحلیل او لیدلوري»، فریډرېش ایبرټ بنسټ، اګست ۲۰۱۸.

۳ عالم صالح او زکریا یزدان شناس، ۲۰۲۰ «له چین سره د ایران تړون د لویدیځ لپاره بد خبر»، فارن پالیسي، د اګست ۹، ۲۰۲۰.

## د افغانستان د سولې په تړاو د پکینګ امنیتي اندېښنې او دریځونه

کـه پـه ۲۰۲۱ ز. کال کـې پـه افغانسـتان کې د لویدیـځ حضور ته د پای ټکی کېښـودل شي، نـو د چیـن کرنـلاره، تـر ډېره بریـده له افغانسـتان څخه زېږنـده امنیتي ګواښـونو په تـړاو لکـه بیـن المللـي تروریزم او مذهبـي توندلاریتـوب[۴] په پـام کې نیولـو سره، تثبیت کېـږي. د پیکینـګ تـر ټولـو هدفمنـده وېـره، دا ده، چـې ګواکـې د دغـه هېواد په شـمال لویدیـځ ایالـت سـینکیانګ کـې بـه بـې ثباتـۍ او نا آرامـۍ رامنځتـه شي؛ پـه ځانګړې توګـه دا د دې ښـودنه کـوي، چـې چیـن د ایغور توکـم جهادیانو شـتوالي او فعالیت تعقیب تـه لېوالتیـا لـري، چې د طالبانـو په کوربه تـوب د بهرنیـو جنګیالیو یوه کوچنـۍ ډله ده[۵].

پـه ایډیـال حالـت کـې، د پیکینـګ لپـاره یـوه حایلـه او باثباتـه سـیمه کولـی شي د ډاډمنتیـا لامـل شي، چې د ختیځ ترکسـتان خپلـواک خوځښـت (ETIM) نه شي کولی، د افغانسـتان او د مرکـزي آسـیا نـورو هېوادونـو لـه خـاورې څخـه د «مـخ پـر وړانـدې موقعیـت» پـه توګه، په سـینکیانګ کـې د بیلتون غوښـتونکو فعالیتونو او نفـوذ لپاره، ګټه واخـلي[۶]. د سـولې خـبرو د ماتـې او د لویدیځوالو بیړني شـاتګ د تر ټولو ناوړه سـناریو پایلـه، پـه افغانسـتان کې د دولت سـقوط او ورپسـې کورنـۍ جګړه ده، چـې کولی شي افغانسـتان یـو ځل بیا د نړیوالو تروریسـتي سـازمانونو پـر پټنځای بدل کـړي او د چین د لویدیځـې سـیمې پـه ګـډون د ګاونډیـو هېوادونو په پولو کـې د بې ثباتـۍ او بې قانونۍ لامـل شي. داسـې برېښـي، چـې پیکینـګ د دغـه احتمالي اوږدمهالـو سـناریوګانو وړاندوینـه کـړې ده. دغـه طرحـه، لـه کابـل سره پـه پیل کـې په امنیتي مرسـتو سره – که څـه هـم ډېـرې لـږې وې او د هغـو نوښـتونو لـه لارې پیل شـوی ، چـې په ټولیـزه توګه پـلي شـوي نـه دي. لـه ۲۰۱۳ ز. کال راهیسـې داسـې راپوروونـه خپرېږي، چـې چین په خپـل لویدیـځ کې تاجکسـتان او افغانسـتان ته څېرمـه غرونو کې یـوه بې سـاري پوځي اډه جـوړه کـړې ده[۷]. دغه ډول خوځښـتونه بې سـارې دي، خو په بشـپړ ډول منفعلانه او دفاعي ماهیـت لـري، پـه ځانګړې توګـه د افغانسـتان د نـورو ګاونډیو تعامل ته پـه پرتلنه.

د افغانسـتان د سـولې روان بهیـر پـه تـړاو د چیـن ټولیز وضعیـت دا دی، چې پـه ماهرانه ډول پـه دې برخـه کـې د متحـده ایالاتـو تر مـشرۍ لاندې هڅـو څخه ملاتـړ کوي. خو د پاکسـتان لـه پالیسـۍ سره سـم، په ښـکاره ډول د یـو شـمېر اروپایي هېوادونـو او نورو نړیوالـو هېوادونـو او سـازمانونو لـه داعیې سره نه دی یوځای شـوی، ترڅـو طالبان د یو فـوري اوربنـد پـه برخه کې تر فشـار لانـدې راولي. چین تـر هغه ځایه چې پـه دې برخه کـې خپـل دریـځ او مسـایل مطرح کـړي، «منظم» او «مسـوولانه» شـاتګ تـه لومړیتوب ورکـوي او د بیړنـۍ شـاتګ پـه تـړاو متحده ایالاتـو او ناټو خـبرداری ورکـړی دی. چین همدارنګـه، د سـولې پـه خـبرو کـې د متحـده ایالاتـو د کرنـلارې پـه تـړاو، چـې زیات سـیمه ییز رسـمي اړخونه نه لري، اندیښـمن دی . اوسـمهال، چین ان په افغانسـتان کې د متحـده ایالاتـو د تروریـزم ضـد ځواکونو د شـتوالي پـه تړاو، ښـایي مثبت لیـد ولري. ویـل کېـږي، چـې دغه هېواد هڅـه کړې، د نورو سـیمه ییـزو قدرتونو په څېـر، د طالبانو د سـیاسي دفـتر لـه غـړو سره زیاتـې لیدنـې کتنـې ولـري. چیـن کلونـه وړاندې لـه دغه ډلـې سره اړیکـې ټینګـې کـړې وې، خـو له هغـه و خت راهیسـې، چې متحـده ایالات،




خنجراب پاس، د چین او پاکستان ترمنځ پوله ده. دلته د سرحد تجارت د CPEC برخې په توګه په تېرو کلونو کې خورا لوړ شوی. (سرچینه: عبدالله شکور، ۲۰۱٦)

۴ د افغانستان په تړاو د چین پالیسۍ په اړه د AAN څېړنه وګورئ: Climbing on China's Priority List: Views on Afghanistan from Beijing - Afghanistan Analysts Network - English (afghanistan-analysts.org)
۵ د بېلګې په توګه وګورئ، ایف برینلی بروتن او توني براون، «متحده ایالات ایغور جنګیالي هدف ګرځوي، لکه څرنګه چې طالبان هدف ګرځوي»، ", NBC نیوز، فبروري ۸، ۲۰۱۸ز.
٦ پاول سترونسکی او نیکولای، (۲۰۱۸)، «همکاري او سیالي: روسیه او چین په مرکزي اسیا، لېرې ختیځ او د روسیې شمالٔ قطب کې» د سولې لپاره د کارنګي بنسټ، د فبروري ۲۸، ۲۰۱۸، همدارنګه وګورئ: CICIR مقاله.
۷ وګورئ: ګیري شی، «د مرکزي اسیا په منع شویو غرونو کې، یو ارام نوی داخلېدونکی، چیني ځواکونه»، واشنګټن پسټ، د فبروري ۱۸، ۲۰۱۹ز.

طالبـان د سـولې خـبرو اتـرو کـې راښـکېل کړي، دغـه اړيکـې پراخيـستې او لا روښـانه شـوې دي. د سـولې د روان بهيـر پـه تـړاو د پيکينـګ دريـځ پـه اغېزناکـه توګـه د چين د هغـې سـتراتيژيکې ارزونې منعکسـوونکې دی، چـې پـر ۲۰۱۴ز. کال د متحده ايالاتو / ناټـو ځواکونـو د شـاتګ پـر مهال يـې ترسره کـړې وه، کله چـې يې قضـاوت کاوه، چې ښـايي طالبـان پرمختـګ وکـړي او يا زياته سـياسي بـې نظمـي رامنځته شي[۸].

پـه افغانسـتان کـې د چيـن موقعيت، پر سـوداګرۍ، سـيمه ييـز اتصـال او اوږدمهالې او تروريـزم ضـد پانګونـې تـه پـه ټينګار او اوسـنيو پيښـو ان له سـيمې څخه د وتلـو لپاره د امريـکا هڅـو تـه پـه پـام سره، کـوم د پـام وړ بدلون نـه دی مونـدلی. سربېره پـر دې، له افغانسـتان سره د چيـن تعامـل بـه د متحده ايالاتـو او چين په اړيکو د هيـڅ ډول لانجې تـر اغېـزې لانـدې رانـه شي، ان کـه دغـه اړيکـې لا لانجمنـې شي. په داسـې حـال کې چـې د دواړو ترمنـځ د همـکارۍ ظرفيـت سـتونزمن شـوی دی، دواړو هېوادونـو چيـن او د امريـکا متحـده ايالاتـو پـه سـيالۍ او د اسيا پـه ټولـو برخـو کـې بحـث کېدونکـو موضوعاتـو پـه تـړاو، د افغانسـتان د شـخړې له راوړلـو څخه، ډډه کـړې ده[۹].

د چيـن وروسـتی تعامـل، پـه زغـم او تمـو تعريـف شـوی، پـه ځانګـړې توګـه هغه څه چـې د افغانسـتان د يـو شـمېر سـياسي مشرانـو لـه خـوا تعريـف شـوی دی؛ دوی هيله لـري، چـې چيـن بـه و کـړای شي، پـه بهـرني ملاتـړسره د کابـل پـه تړلتيـا کـې تنوع رامنځتـه کـړي او ان چيـن کولـی شي پـر پاکسـتان مثبتـه اغېـزه ولـري. خو اوسـمهال د چيـن د ديپلوماتيکـې پاليسـۍ لـړۍ مـخ پـه پراخېـدو ده او داسـې برېښـي، چې چين بـه پـه نـږدې راتلونکـي کـې پـه دې برخه کې نـور قاطـع ګامونـه اوچت کـړي. چين په تېـرو څـو کلونـو کې د ملګـرو ملتونو د امنيت په شـورا کې په افغانسـتان کـې د ملګرو ملتونـو د کلنـي ماموريـت د تمديـد پـه تـړاو، سـتونزمنه ديپلوماتيکه لوبه کـړې ده[۱۰].

د امريـکا د پوځونـو لـه شـاتګ سره جوخـت – د هـر مهالويـش له مخې چـې وي – ډېر اټـکل کېـږي، چـې د لويديـځ پـه بوديجـه او د مـالي ملاتـړ پـه کچـه کـې هم د پـام وړ کموالـی راشي، پـه دې توګـه بـه کابـل اړ شي، چـې له چيـن سره خپلې اړيکـې لـه پورته څخـه تـر ښـکته پـورې وڅېړي، پـه ځانګـړې توګـه د چيـن او ايـران نږدېوالي او د پاکسـتان او چيـن اړيکـو تـه په پـام سره. دغـه اړيکې ښـايي د دې ښـودونکي وي، چې پـه راتلونکـي کـې د سـياسي، اقتصادي يـا امنيتي خلا په صـورت کې به له کومو سـيمه ييـزو لوبغـاړو او موقعيتونـو څخـه ملاتړ وکـړي. کله چې د نـړۍ په لر او بـر کې د چين د پانګونـې پـه اړه خـبرې کېـږي د دغـه هېـواد د «نـه لاسـوهنې» کړنلاره، د دې ښـودنه کـوي، چـې پـه افغانسـتان کې د يـاد هېواد ښـکېلتيا تر ډېـره بريده، لـه پاکسـتان او نورو سـيمه ييـزو شريکانـو څخـه د تاريخـي ملاتړ پـر مخينې تکيـه لري[۱۱].

## د ګټو د همغږۍ کېدو په تړاو له يو بل سره کار

اروپايـي ټولنـه او چيـن دواړه د سـيمه ييـزې سـوداګرۍ او اړيکـو د پرمختيـا پـه اړه اقتصـادي انګيـزې لـري. کـه څه هم افغانسـتان تـر دا مهالـه، د يو کمربنـد او يوې لارې طرحـې د ګـډون کوونکـو پـه ليسـت کـې نـه دی شـامل، خـو چينـي چارواکو، تـر ډېره بريـده د چيـن او پاکسـتان اقتصـادي کريډور(دهليـز) د پراختيـا له لارې، پـه دغه طرحه کـې د افغانسـتان شـامليدو ته اشـاره کـړې ده[۱۲].

داسـې ښـکاري، کـه د يـو کمربند او يـوې لارې په طرحه کې افغانسـتان شـامل شي، دا بـه پـه هغه صـورت کې ممکـن وي، چې د افغانسـتان سـياسي شـاخصونه پـه ځانګړې توګـه د سـولې هوکـړه ليـک د ترلاسـه کېـدو او پـه کابـل کـې د پاکسـتان نـوي نفـوذ ته لېوالتيـا ولـري. د يـو کمربند او يوې لارې مسـير کولی شي چين له اروپا سره ونښـلوي، پـه ترانسـپورتي لګښـت او وخـت کـې د پـام وړ کموالـی راولي او د يـو شـمېر توکـو پـه لېـږد رالېـږد کـې د روسـيې جغرافيايـي لوړتيـا ونن‌ګـوي. پيکينـګ تـر دې مخکې، د تاجکسـتان – افغانسـتان – ترکمنسـتان د وسـپنې پټلـۍ لاره جـوړه کړې وه. افغانسـتان، قرغيرسـتان او ازبکسـتان تـه د ځمکنـۍ لارې په توګه، څو نور سـوداګريز مسـيرونه هم چمتـو کولـی شي. هيله کېږي، چين د سـترو زيربنايـي پروژو او لوژسـتيکي ملاتړ سره، افغانسـتان سره خپلـو مرسـتو تـه دوام ورکـړي. د ناټـو د وتلـو په صورت کـې، د چين تر مـشرۍ لانـدې مـالي موسسـې لکه د آسـيا د زيربنـاوو د پانګونـې بانک به کارنـده ونډه ولـري – ځکـه د لويديـځ د ملاتـړ وړ موسسـو د مـالي ملاتـړ کموالـی تـر ډېـره بريـده د چيـن لپـاره د نفـوذ د پراختيـا فضـا او زمينـه برابـروي. دغـه ډول تر ډېـره بريده ښـايي په مرکـزي آسـيا کـې د اروپايـي ټولنـې پـه پروګرامونـو سره لکه د سـويلي آسـيا د برېښـنا د سـوداګرۍ او لېـږد پـروژې سره (کاسـا ۱۰۰۰) د اروپـا د پانګونـې بانـک ۷۰ ميليـوني يـورو مرسـته، چې د قرغيرسـتان، تاجکسـتان، افغانسـتان او پاکسـتان ترمنځ د برېښـنا د لېږد چـارې شـونې کوي، بشـپړ شي[۱۳].

اروپايـي ټولنـه او چيـن دواړه يـو باثباتـه افغانسـتان تـه لېوالتيـا لـري، او لـه هغـه ترټولو نـاوړه سـناريو چـې افغانسـتان د کورنـۍ جګـړې پـر ډګـر بدلـوي او د نړيـوال تروريزم پـر پټـن ځـای بدلېـږي، ډډه کـوي. اروپايـي ټولنـه، د متحـده ايالاتـو اوسـني دولت په پرتلـه کېـدای شي چيـن تـه د نـږدې کېدو زيـات چانس ولـري او ترې وغـواړي، چې تر څـو پـر پاکسـتان لـه خپلـې اغېـزې څخـه اسـتفاده وکړي، چـې د سـولې په بهيـر کې د بنسـټيزې ښـکېلتيا پـه موخـه طالبان تـر خپل فشـار لانـدې راولي. چين لـه طالبانو سره ښـکاره ديپلوماتيکـې اړيکـې لـري او خپلـې دغـه اړيکـې يـې لـه څـو کلونـو راهيسـې ټينګـې سـاتلې، خـو داسـې ښـکاري، چې دغه چـاره په سـيمه کـې د پاکسـتان د ګټو د خونديتـوب پـه موخـه له اسـلام اباد سره په سـلا او مشـورې تـرسره شـوې ده. دا چې د متحـده ايالاتـو پـه پرتلـه اروپايـي ټولنـه د چين له لارې پاکسـتان تـر خپل فشـار لاندې راولي، دغـه چـاره به لـه زيات برياليتوب څخـه برخمنه وي او کنه، خـو د اروپا او چين ترمنـځ وروسـتۍ تجربـې، لکـه څرنګـه چـې د ۲۰۲۰ ز. کال پـه دسـمبر کې لاسـليک شـوې سـوداګريزې معاملـې وښـودلې، د دې چـارې لپـاره يـو فرصت چمتـو کوي.

د افغانسـتان د سـولې روانـه پروسـه، لـه يـو واحد سـيمه ييز ميکانيـزم څخـه برخمنه نه ده متحـده ايـالات د ۲۰۱۸ ز. کال پـه پـای کـې د دغه پروسـې په پيلېدو سره، د سـيمې مهـم هېوادونـه لکه ايـران، هند، روسـيې او چين څنګ ته کړل. د افغانسـتان، پاکسـتان، چيـن او متحـده ايالاتـو ترمنـځ د څلور اړخيـزې همغږۍ ډلـه، د يو پلټفـوروم په توګه، پـه ډېـرو برخـو کـې پاتـې راغـلي دي. د پورتنيـو قدرتونـو او متحـده ايالاتـو ترمنځ چې اوسـمهال لـه بېلابېلـو ناورينونـو سره مـخ دي، د يـو لړ مسـايلو ته د نه حل کېـدو په پام سره، اروپايـي ټولنـه او چيـن کولـی شي رادمخـه شي او پـه دې برخـه کې بنسـټيزه ونډه واخـلي، ترڅـو د سـيمه ييـز ديالوګ تشـه ډکه کـړي؛ په ځانګـړې توګه چې له پاکسـتان او ايـران سره د پيکينـګ ډېـرې نـږدې اړيکـې او همدارنګـه د شـانګهای د همکاريـو سـازمان کـې د چيـن د فشـار اهـرم، کولـی شي ان لـه روسـيې او د مرکـزي آسـيا پنځو جمهوريتونـو سره د مهـم تعامـل لپـاره، ډېـر ګټـور وي. لـه دې سره سره، د افغانسـتان د سـولې لـه پروسـې د اروپايـي ټولنې ملتيـا او همغږي، د دغـه ټولنې لـه لومړيتوبونو سره پـه ځانګـړې توګـه د بشري حقونـو او د حکومتولي ارزښـتونو پـه تړاو لـه ننګونې ډکې دي. دغـه هڅـه په بشـپړ ډول نوښـتيزې ديپلوماسـۍ تـه اړتيا لري.

۸ . وګورئ، يان سن، «د افغانستان په اړه د چين ستراتيژيکه ارزونه»، وار ان د راک وېبپاڼه، د اپريل ۸، ۲۰۲۰.
۹ د چين او سويلي اسيا لپاره د متحده ايالاتو څېړنيزه ډله، «په سويلي اسيا کې د شخړو په ډيناميک کې د چين اغېزه، دسمبر، ۲۰۲۰ز.
۱۰ په تېرو څو کلونو کې د چين پلاوي په امنيت شورا کې هڅه کړې، چې د يو کمربند او يوې لارې د طرحې د تاييد په تړاو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماموريت د تمديد په برخه کې صريحه ژبه وکاروي. وګورئ، ميشل نيکولاس، «د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د افغانستان په تړاو د ملګرو ملتونو د ماموريت د تمديد پر سر د چين پر ويټو برلاسی کېږي»، رويترز، د سپتمبر ۱۷، ۲۰۱۹ز.
۱۱ جيسون لی، «په چيني ځانګړو سره د شخړو حلول: چين څرنګه د خپلې نه لاسوهنې سياست توجيه کوي»، د استيمسون مرکز، د اګست ۲۷، ۲۰۱۹ز.
۱۲ مريم صافي او بسم الله عليزاده، ۲۰۲۰، «د يو کمربند او يوې لارې په طرحه کې د افغانستان شامليدل: څېړنه، تحليل او ليدلوري»، فريډرېش ايبرټ بنسټ، اګست ۲۰۱۸.
۱۳د اروپا کمېسيون، ګډه اړيکه، «د اروپا او اسيا اتصال، د اروپايي اتحاديې د ستراتيژي جوړونکي عناصر»، د سپتمبر ۱۹، ۲۰۱۸،

## وړاندیزونه

- اروپايي ټولنه او چين بايد له خپل ځواک څخه په ګټې اخيستنې سره او همدارنګه له پاکستاني لوري سره د مثبتو اړيکو په مرسته، په دې برخه کې کارنده ونډه ولوبوي، ترڅو د سولې د بهير په تړاو د طالبانو کړنلاره تر خپلې اغېزې لاندې راولي او له ځنډ پرته، طالبان د تاوتريخوالي کچې راټيټولو ته ژمن کړي؛ که څه هم يو بشپړ اوربند دې نه وي. سربېره پر دې دوی بايد اسلام اباد دې ته اړ کړي، چې په خپله خاوره کې د طالبانو پټنځايونه وتړي.
- اروپايي ټولنه او چين دواړه بايد يو رسمي هراړخيز سيمه ييز ميکانيزم را منځته کړي، چې د سيمې مهم هېوادونه لکه هند، ايران پکې ګډون ولري، که څه هم هند په دې روستيو کې له چين سره لانجې لري. دغه سيمه ييزه اجماع کولی شي، د سولې او ثبات پر بهير او د اړتيا په صورت کې د اقتصادي او امنيتي همکاريو د لېږد پر اړتيا تمرکز وکړي.
- اروپايي ټولنه او چين بايد د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوږدمهالو اختلافاتو او په ځانګړې توګه د سرحدي اختلافاتو د اواری چارې، د افغان کډوالو بېرته ستنولو او مديريت، د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور جوړونې هڅې تسهيل کړي.
- اروپايي ټولنه بايد له چيني پاليسي جوړونکو سره د خپلو موجودو ډيپلوماتيکو شبکو څخه ګټه واخلي، ترڅو په افغانستان کې د تروريزم ضد او اقتصادي موخو ها خوا د پرمختيا او تلپاتي ثبات له کړنلارې څخه ملاتړ وشي.
- په افغانستان کې د پرمختيا په تړاو د اروپايي ټولنې او چين ترمنځ د همغږيو هر راز هڅه او پراختيا، د بشري حقونو په تړاو د دواړو لورو د دريځونو ترمنځ ستر اختلاف دی. په همدې حال کې، دغه چاره، په نورو سيمو کې د دواړو لورو د همکاريو د ژورتيا پر مخ خنډ نه دی ګرځېدلی.

---


**د ليکوالانو په اړه**

ډاکټر تېمور شاران د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د عامه پاليسۍ مرستيال پروفيسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړيوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډريو واټکينز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هيله منديې څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنيوي کې ژوره ښکېلتيا لري. تر دې پخوا يې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امريکا متحدو ايالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.


**د پښتی د انځورونو په اړه:**

د چين جمهور رئيس شی جين پينګ (له ښي نه درېيم) او د افغانستان اجراييه رئيس عبدالله عبدالله (له کيڼ نه څلورم) په بيجينګ کې د چين د خلکو په ناسته کې د ګډون په حال کې، ۱۷ مې ۲۰۱۶. کال.

انځور: رويټرز / محمد اسماعيل /


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فريډريش ايبرټ بنسټ

وبپاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فريډريش ايبرټ بنسټ له ليکلې مخکينۍ اجازې پرته، د فريډريش ايبرټ بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګريزه ګټه اخيستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظريې، د فريډريش ايبرټ بنسټ د ليدلورو منعکسوونکي نه دي.



د پالیسۍ لنډیز

# په ختیځ ګاونډ کې ټول ارام دي؟

## د تحول په حال افغانستان سره، د ایران مخ پر بدلېدونکې اړیکې

انډریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل، د افغانستان د ثبات او امنیت او په سیمه کې د نړیوالې ټولنې د ښکېلتیا په تړاو د بې ساري ناډاډمنتوب او ابهام لامل شوی دی. د ځواکونو تر وتلو وروسته په یوه سناریو کې، په کابل، تهران او اروپايي پلازمینو کې کوم شرایط د امنیتي پرمختیا او همکاریو لپاره وړاندوینه شوې ده؟ په افغانستان د ایران تمه، موقعیت او د فشار اهرم څه دي؟ په درېو برخو کې درې اړخیزې همکارۍ شونې ده او ګډې موخې په کومه برخه کې ترلاسه کېدای شي؟.

## ایران و افغانستان: یوه زمینه

افغانستان د ایـران لـه ترټولـو مهمـو ګاوندیانـو څخـه ګڼـل کېـږي؛ دغـه اهمیـت نـه یـوازې د اوږدو ګـډو پولـو او بډایـه فرهنګـي، تاریخـي او ژبنـي اړیکـو له امله، بلکې د جیوپولټیـک او اقتصـادي تبادلـې لـه املـه هـم ده[1]. پـه ایـران کـې تر اسـلامي انقلاب وروسـته پـر ۱۹۷۹ ز. کال کـې، د لویدیـځ په پرتله، د افغانسـتان په تړاو د ایـران کړنلاره تـر ډېـره کچـه محافظـه کارانه ده. لا هـم، ان پر افغانسـتان د شـوروي یرغـل پرمهال، له دغـه هېـواد سره د ایـران اړیکـې، لـه متحـده ایالاتـو سره د دغـه هېـواد لـه دښـمنېو ډکو اړیکـو تـر سـیوري لانـدې ده. پـر ۱۹۹۸ ز. کال کې د افغانسـتان په شـمال مزارشریف ښـار کـې د دغـه هېـواد د لسـو دیپلوماتـو تـر وژل کېدو وروسـته، تهـران د هغـه بحران کچـه راټیټـه کـړه، چې لـه طالبانو د جګـړې تر پولې رسـېدلی وه. تر هغه وروسـته، ایران پـه افغانسـتان کـې د ایـران له پوځـي مداخلې څخه پـر ۲۰۰۱ز. کال کې ملاتـړ وکړ. په همـدې حـال، تـر هغه وروسـته کلونـو کې، له ایـران سره د واشـنګټن پټـې لانجې، هغه څـه ګـډوډ او مختـل کړه، چـې سـتراتیژیک (بیا تنظیـم) نومـول کېده[2].

ایـران د تېـرو دوو لسـیزو پـه بهیـر کـې د افغانسـتان پـه تـړاو سـره، عمـل پالـه او څـو اړخیـزه سـتراتیژي، چـې تر ډېره متناقضـه وه[3]، تعقیب کـړې ده. د مفسرینو پـه وینا، دغه خطرناکـه پالیسي «سـتراتیژیکه سـاتنه»، په داسـې حال کـې په کابل کې د سیاسي ثبات ملاتـړ تـه شـاملېږي، چـې لـه طالبانـو سره هم خپلـې اړیکې تـه پراختیـا ورکـوي، ان د هغـوی جنګیـالي مسـلح کـوي، ترڅـو د متحده ایالاتـو د بلواه ضـد فعالیتونـه کمزوري کـړي. ایـران پـه وروسـتیو کـې د افغانسـتان د سـولې په تـړاو پـه خپلـو څرګندونو سره، د کابـل لـه حاکمیـت څخـه دفاع پیل کړې ده: داسـې ښـکاري، چې د اشـتي ښـکاره او پـټ تکـر لـه لارې، د تهـران موقعیت هغه څـه ته په پـام سره، چې کېـدای شي د متحده ایالاتـو د ناهیـلي کولـو لپـاره هڅـې تـر ټولو لـوړې کچې تـه ورسـوي، تغییر کـوي[4]. د امریـکا د ځواکونـو د پلان شـوي شـاتګ په غبرګون کـې، ایران کېدای شي د افغانسـتان پـه تـړاو لـه هیلو ډکه سـتراتیژي تعقیب کـړي. په کابـل کې د ریښـه لرلو ترڅنـګ، ایران کولـی شي پـه هممهالـه توګـه لـه څـو بېلابېلـو افغـان لوبغـاړو سره د خپـل نـرم قدرت څخـه ګټـه واخلـي او ان کولـی شي، له سـیمه ییزو وسـله والـو څخه ملاتړ وکـړي او په بالقـوه توګـه د هېـواد مخ پـر لړزان سـیاسي تعـادل له منځـه یوسي.

## په افغانستان کې د ایران بېلابېل اهرمونه

ایـران لـه ۲۰۰۱ز. کال راهیسـې د افغانسـتان د بېلابېلـو ذي ګټـو لـورو ترمنـځ څـو تنو چـې د دولـت سـتراتیژیکي څانګـې او امنیتـي ادارو واک په خپل لاس کـې درلود، خپل نفـوذ سـاتلی او ان ورتـه پراختیـا یې ورکړې ده. پر افغانسـتان د شـوروي یرغـل پرمهال، ایـران د شـیعه مجاهدینـو لـه تنظیمونو څخـه ملاتـړ کاوه، چې هـدف یې له افغانسـتانه د شـوروي ځواکونـو ایسـتل و. پـه دغـه دوره کې د ایـران ونډه، په پاکسـتان کې د سـني مېشـتو مجاهدینـو تبعیـدي دولت چې د دغـه هېواد د دښـمنانو: کوربه هېواد، سـعودي عربسـتان او متحـده ایالاتـو لـه ملاتړ څخـه برخمن و، متعـادل کړ. د ۱۹۹۰ لسـیزې په دوره کـې د کورنیـو جګـړو پرمهـال، ایـران د ربـاني لـه دولت څخـه ملاتړ وکـړ، چې په لومـړۍ درجـه کـې د قومي تاجکانو تـر واک لاندې و. پـر ۱۹۹۶ ز. کال د رباني دولت تـر ړنګېـدو او د طالبانـو لـه دښـمن رژیـم سره تـر مخامختیـا وروسـته، ایـران د طالبانو ضـد یـو ایتـلاف (چـې تر ډېـره ورته د شـمال اتحـاد ویل کېـده)[5] د جوړېـدو چارې

---

۱ له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: په سیمه او افغانستان کې د راتلونکي ګټونکي سناریو لپاره امکانات څه دي؟ دا په افغانستان کې د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیانو لپاره د احتمالي سناریوګانو، د پالیسۍ سمون او د اروپا د بهرنی سیاست جوړونکو تر منځ د جامع تګلارې اړتیا باندې بحث وشي. د پالیسۍ لنډیز د انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شارون لخوا د لیکل شوې پالیسۍ یوه برخه ده چې د متحده ایالاتو د وتلو اغیزې او د افغانستان د سولې د خبرو اترو موجودو ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کی دننه او بهر د کلیدي شریکانو ننګونو په اړه بحث کوي. د دې پالیسۍ لنډیز بشپړ مطلب کولاې شی په لاندی پته تر لاسه کړئ. https://afghanistan.fes.de/publications

۲ د سپټمبر، تر ۱۱ بریدونو وروسته، د ایران او امریکا ترمنځ اړیکې مخ په ښه کېدو وې، ایران د ۲۰۰۱ز. کال د بن په کنفرانس کې رغنده ونډه لرله او د طالبانو پر وړاندې د امریکایي ځواکونو له جګړې څخه یې ملاتړ کاوه.

۳ وګورئ بروس کوپکه، (۲۰۱۳) «د افغانستان په تړاو د ایران پالیسي: د ستراتیژیک عمل پالنې تکامل»، د استکهلم د نړیوالې سولې د څېړنو انستیوت، سپتمبر، ۲۰۱۳.

۴ مثم بهراوش، (۲۰۱۹)، «ایران په افغانستان څه غواړي؟» د فبروري ۴، ۲۰۱۹ز. کال.

۵ د ۱۹۹۸ په اګست کې کله چې طالبانو، په شمال کې ستراتیژیک ښار مزارشریف ونیو، نو د ایران د قونسلګري اته تنه ایران دیپلوماتان او یو تن خبریال ووژل.

تسهیل کړي. تر ۲۰۰۱ز. کال وروسته، تهران د متحده ایالاتو د ګټې د تضعیف او د افغانستان په سیاست کې د خپل نفوذ د ساتلو او د خپل سیمه ییزو ګواښونو د حداقل رسولو په موخه، له طالبانو سره خپلې اړیکې ټینګې کړې. ایران په پټه د طالبانو له عناصرو سره په ځانګړې توګه د افغانستان په لویدیځ کې مرسته کړې ده[٦]. د ملامحمدعمر ځایناستي ملااخترمحمد منصور، د ۲۰۱٦ ز. کال په مې کې هغه مهال په بلوچستان کې د ایران پولې ته څېرمه د یو بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو، چې د ایران له سفر څخه راستون شوی و. په تېرو درېو کلونو کې تهران په ټولیزه توګه له طالبانو سره خپل تماسونه منلي او ان په تهران کې د خبراوترو لپاره د طالبانو کوربه توب کړی دی؛ چې وروستی بېلګه یې د ۲۰۲۱ ز. کال په جنوري کې وه[٧]. په همدې حال، ایراني چارواکي استدلال کوي، چې د دوی دغه سیاست د اسلامي دولت څخه د ګواښونو زېږنده او د افغان سولې پروسې سره د مرستې په موخه دی[٨].

ایران په افغانستان کې د پام وړ نرم قدرت اعمالوي. دغه هېواد له ۲۰۰۱ز. کال راهیسې تر نیم میلیارد ډالرو زیاتې پیسې د افغانستان د بیارغونې لپاره ژمنه کړې او د ۲۰۲۰ز. کال د نومبر د جینوا په کنفرانس کې ګډون کړی دی. ایراني چارواکي باوري دي، چې دغه هېواد کولی شي زیاتې مرستې وکړي، خو د متحده ایالاتو تحریمونه د دغو سخاوتمندانو مرستو پر لاره خنډ ګرځېدلی دی. ایران د ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸ کلونو په بهیر کې له پاکستان څخه په ورانده کېدو سره، د افغانستان تر ټولو ستر سوداګریز شریک شو او له تحریمونو سره سره، د دو میلیارد ډالرو په اندازه یې افغانستان ته د توکو صادرات درلود (د افغانستان د مصرفي بازار ۲۲ سلنه ونډه)[٩]. ایران د خپل اقتصادي ستراتیژیک نفوذ د ځواکمنتیا په موخه، د افغانستان په لویدیځ کې په یو شمېر بنسټیزو زیربنایي او ترانزیتي پروژو کې پانګونه کړې ده، چې یوه بېلګه یې د خواف – هرات د وسپنې پټلې لاره ده، چې په دې وروستیو کې چارې یې بشپړه شوې دي. همدارنګه د چابهار بندر، هم د یادونې وړ ده، چې چټکه سوداګریزه لاره او د سیمه اتصال او مرکزي اسیا هېوادونو بازار ته د ایران د لاسرسي امکان چمتو کوي[١٠].

تهران، د افغان ثبت شویو کډوالو څخه په دوامداره توګه د خپل بهرني سیاست د فشار د یو اهرم په توګه هم د افغانستان دولت او د متحده ایالاتو په وړاندې ګټه اخیستې دی[١١]. د شمېرنو له مخې، له ۲۰۱۴ ز. کال تر ۲۰۲۰ز. کال پورې، د ۵،۳ میلیون په شاخوا افغان کډوالو په ایران کې ژوند کاوه ـ چې له دې جملې یوازې ۹۵۰۰۰۰ کسان یې ثبت شوي کډوال و او ۵.۲ میلیونه هغه افغان کارګر کډوال و، چې کوم مدرک یې نه درلودل[١٢]. زیاتره ثبت شوي افغان کډوال په دغه هېواد کې د ویم او دریم نسل اوسېدونکي دي، چې تر یوه بریده روغتیا، زده کړو او کاري فرصتونو ته لاسرسی لري. د ۲۰۱۹ ز. کال په مې کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال خبرداری ورکړ، که متحده ایالات نور تحریمونه پر ایران وضع کړي[١٣]، نو ایران به له خپلې خاورې څخه د افغان کډوالو د ایستلو موضوع تر څېړنې لاندې ونیسي. په پایله کې، په دغه هېواد کې د ایران د نفوذ بل عامل رادبره شوی چې په ژوره توګه د زیاترو افغانانو د اندېښنې لامل ګرځېدلی دی. له ۲۰۱۵ز. کال راهیسې ایران، افغان شیعه کډوال په سوریه کې له داعش سره د جنګېدو په موخه په ملیشه یي ډلو کې جذب کړی او دغه افغان ځوانانو سره ژمنه کړې، چې په ایران کې د قانوني مېشت کېدو زمینه ورته برابروي[١٤]. دغه تشکیلات چې اوسمهال د فاطمیون کنډک په نامه نومول کېږي، په وروستیو کې د ایران د بهرنیو چارو له خوا د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره هم وړاندیز شو. د ایران دغه وړاندیز، زیاتره هغه افغانان نور هم اندېښمن کړل، چې د خپل امنیتي چاپېریال د دغه ډول ترتیب د اغېزو په اړه یې لرل. په افغانستان کې د اوضاع د خرابېدو په صورت کې، دا لا څرګنده نه ده، چې دغه جنګیالي ځواکمن کېږي او کنه؟ که پیاوړي کېږي، څرنګه او د کومې موخې لپاره. له خپل ختیځ ګاونډي سره د ایران مخینه، تر ډېره محافظه کاری ته میلان لري. په همدې حال، بهرني سیاست په پرېکنده توګه وده کړې او د امریکا تر وتلو وروسته افغانستان کېدای شي له وسوسو ډک د قدرت خلا د رامنځته کېدو لامل شي.

د خپل ختیځ ګاونډي سره د تدبیر پر لورې د ایران مخینه: په همدې حال، د دغه هېواد بهرنی سیاست په پرېکنده توګه وده کړې او د امریکا تر وتلو وروسته افغانستان، کولی شي تر حد زیات د قدرت له مکره ډکه تشه رامنځته کړي.

### د افغانستان د سولې په تړاو د ایران تمه او دریځ

ایران، د افغانستان د سولې خبرې له نږدې څاري او هڅه کوي، پر سیمه ییز وضعیت خپله اغېزه پراخه کړي. ایران، پر دغې پروسې د اغېزې په موخه، هر څه چې په توان کې لري، ترسره کړې دي. له دې سره سره، چې په دغه پروسه کې ایران د متحده ایالاتو له خوا څنګ ته شوی، خو تهران د طالبانو د کویټې او دوحې له

---

٦ یوچي درازن، «په افغانستان کې له اسلامي دولت سره د مبارزې په موخه له طالبانو سره د ایران انحصاري تیم»، فارن پالیسي، د مې ۲٦، .

[٧] ایازګل، (۲۰۰۱)، «د افغانستان د هغې سولې پروسې په تړاو، چې د امریکا له خوا رهبري کېږي، د نظر د تبادلې لپاره، ایران د طالبانو کوربه»، د امریکا غږ، د جنوري ۲٦، ۲۰۲۱.

٨ له جواد ظریف سره د طلوع نیوز د مرکې متن، د ۲۰۲۰ کال د دسمبر ۲۱مه.

٩ عمده صادراتي توکي، برېښنا، ساختماني توکي او خواړه دي. وګورئ «پر ۲۰۱۷-۲۰۱۸ د ایران ستر سوداګریز شریک»، مالي تریبیون، د اپریل ۸ ۲۰۱۸ز. کال۲۰۱۸: (-https://financialtribune.com/articles/economy-domestic economy/84309/iran-biggest-trade-partner-of-afghanistan-in-2017-18).

١٠ ایران، هند او افغانستان د ۲۰۱٦ ز. کال په مې کې د چابهار درې اړخیزې هوکړې متن نهایي کړ. له دې لارې افغانستان په سویلي اسیا کې خپلو شریکانو سره سوداګري کولی شي. ویل کېږي، په دغه بندر کې د ۵۰۰ شرکتونو له جملې څخه ۱٦۵ شرکته یې د افغانانو دي.

١١ سیروان کاجو او مهدي جدي نیا، (۲۰۱۹)، « پر ایران، د افغان کډوالو د ایستلو په تړاو ګواښ په اړه نیوکه وشوه» امریکا غږ، د مې ۱۵، ۲۰۱۹.

[١٢] باید په پام کې ولرئ، چې د کوید ۱۹ د خپرېدو له امله د کډوالو کارګرو او نورو کډوالو په شمېر کې د پام وړ بدلون راغلی دی. https://www.unhcr.org/ir/refugees-in-iran/ https://www.al-monitor.com/pulse/originals/2019/05/iran-nuclear-deal-ultimatum-europe-

[١٣] https://www.al-monitor.com/pulse/originals/۲۰۱۹/۰۵/iran-nuclear-deal-ultimatum-europe-afghan-refugees-drugs.html

١٤ توبیاس اشنایدر، (۲۰۱۸)، د فاطمیون کنډک: افغان جنګیالي د سوریې په کورني جګړه کې، د منځني ختیځ انستیتوت، اکتوبر، ۲۰۱۸.

مشرانو سره اړیکه ټینګه کړې او د طالبانو د پلاوو کوربه وو. خو د سیمې د نورو هېوادونو پرخلاف، داسې نه ښکاري، چې د افغانستان په تړاو د ایران کړنلاره د خبرو په پایله کې (په کابل کې راتلونکې مسلط قدرت) وي. تهران، په دوامداره توګه، له خپل ختیځ ګاونډي سره په اړیکو کې نوښت او ژوره عمل پالنه ښودلې ده. د ایران د سیاست د هدایت لپاره په افغانستان کې، ښايي: دا وي، چې ایا متحده ایالات له افغانستانه خپلو وتلو ته دوام ورکوي او له سیمې خپل پوځ په بشپړ ډول وباسي.

ایران، د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ د هوکړې له وتلو منتقدینو څخه دی او د افغان دولت او نورو اصلي سیمه ییزو شریکانو په غیاب کې، دغه هوکړه لیک نیمګړی بللی دی. که څه هم تهران په دوحه کې له بین الافغاني خبرو څخه هرکلی کړی، خو بیا هم د متحده ایالاتو کړنلاره او د سولې بهیر په تړاو د طالبانو ژمنتیا یې تر پوښتنې لاندې راوستې دی، چې د تاوتریخوالي کچې په راټیټولو کې د دغې ډلې نه بریالیتوب څخه څرګنده ده. ایران، همدا راز ټینګار کوي، چې متحده ایالات څرنګه د افغان دولت له لوري د ژمنتیاوو په ورکولو سره، د افغانستان پر حاکمیت سترګې پټوي. سربېره پر دې، ایران د سولې راتلونکو خبرو کې د برخه اخیستو په تړاو خپله لېوالتیا څرګنده کړې ده. تهران د بیا لپاره ټینګار کړی، چې د سولې یوه هراړخیزه پروسه، دې ته اړتیا لري، چې د افغانستان ټولنې له ټولو اقشارو سره خبرې وشي او داسې یوه پروسه وي، چې د افغانانو تر مالکیت لاندې او په کابل کې وي.

ایران ادعا کوي، چې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ هوکړه، هم په دننه او هم په بهر کې د قدرت توازن ته زیان رسولی دی او دغه چاره د دې لامل کېږي، چې طالبان له یو پیاوړي دریځ څخه خبرې وکړي، چې د تهران په وینا دغه چاره کولی شي، په افغانستان کې د سولې فرصت له ګواښ سره مخ کړي. په یوه سیمه ییزه حیاتي چاره کې، د خواشیني د څرګندولو سربېره، تهران په دې برخه کې د منفي اغېزو متحمل شوی هم دی. له دغې ډلې سره د ایران د اړیکو مخینې ته په پام سره، د طالبانو د پیاوړتیا په اړه د تهران خبرداری تر یوه بریده هسې پروپاګند دی. په واقعیت کې، د دغه پروسې د پرمختګ او داسې شرایطو ته د متحده ایالاتو د رسېدو په صورت کې، چې متحده ایالات د خپل وتلو لپاره کافي بولي، ایران به زیاتې لاسته راوړنې ولري. پر دې بنسټ، داسې ښکاري، چې د افغانستان د سولې په تړاو د ایران دریځ دا تاییدوي، چې په هماغه کچه د متحده ایالاتو د سیاست له مانورونو فرصت غواړی مخالف دی.

له ۲۰۱۹ز. کال راهیسې د ایران په تړاو د ولسمشر غني تقریب، له ښه هرکلي سره مخ شوی دی - ښايي دغه چاره د کابل او واشنګتن ترمنځ د اختلافاتو منعکسوونکی وي - او په پایله کې تهران د سولې په تړاو د کابل له اجنډا سره سم خپل اصلي پیغامونه همغږي کړي دي. د دې ترڅنګ په ستراتیژیکو دولتي پستونو کې د ایران د لېوالتیا وړ کسانو ګومارل، د کابل یوه بله هڅه ده. دا لا څرګنده نه ده، چې دغه چاره متحده ایالاتو د سیګنال د لېږلو لپاره دی، یا د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا لپاره یوه جدي هڅه ده.

تهران، له ۲۰۰۳ ز. کال راهیسې له افغانستانه د ناټو ځواکونو د وتلو لپاره یو مهالویش غوښتونکی دی په همدې حال، ایرانیان اوس هم له «مسوولانه شاتګ یا وتلو» څخه دفاع کوي، ترڅو د موجود سیاسي جوړښت له رنګېدو څخه مخنیوی وشي او ډاډ ترلاسه شي، چې طالبان په بشپړ ډول واک په خپل لاس کې نه اخلي. ایران همدا راز په دې باور دی، چې اوربند باید وړاندې ته د حرکت لپاره له وړاندې یو شرط وي، هغه دریځ چې کابل هم ورته لابینګ کوي. ایراني چارواکي همدا راز د اوسني دولت پر ځای د موقت حکومت د ځایناستې کولو په تړاو خبرداري ورکوي او څرګندوي، چې دغه چاره کولی شي، د قانوني او سیاسي خلا لامل شي او له دې امله د بې نظمۍ او تاوتریخوالي لامل شي. تهران، همدا راز د تېرو لسیزو لاسته راوړنو لکه د ښځو، قومي او مذهبي لږکیو حقونو او د ملګرو ملتونو لپاره د بنسټیزې او فعالې ونډې لپاره ډېرې زیاتې هڅې کړې دي.

له دې ټولو سره سره، تهران د افغانستان د سولې پر بهیر او د جګړو پر ډینامیک د اغېز شیندلو لپاره، بالقوه ناګټورو لارو چارو ته مخه کړې دی (د بېلګې په توګه د فاطمیون په تړاو د جنوري په میاشت کې نظریې او په همدې میاشت کې په تهران کې د طالبانو د یو پلاوي کوربه توب). دا چارې له دې سره هممهاله وه، چې د امریکا نوی دولت په دې اړه سلامشورې کولې، چې ایا د دوحې هوکړه لیک ته ژمن دي او کنه؟.

دغه ټول موارد، د تهران په مضمون او مفهوم سره، د متحده ایالاتو له سیاستونو سره سمون لري. نور اصلي ګټې هم په افغانستان کې د ایران د عملي ښکېلتیا لاربښوونه کړې ده. له هغه وروسته چې د اسلامي دولت یا داعش ګواښونه زیات شول، له طالبانو سره د ایران په اړیکو کې هم زیاتوالی راغلی یعنې له ۱۵/۲۰۱۴ کال راهیسې. که څه هم، ایران تر دې مخکې هم له دغې ډلې پټو اړیکو ته پراختیا ورکوله. د ایران دغه اندېښنه، چې له افغانستانه د ځواکونو بېړنی وتل، کېدای شي د تروریستي فعالیتونو یوه نوې څپه رامنځته کړي، چې مهارول یې ستونزمن دی، رښتینی ده. خو له متحده ایالاتو سره د ایران تقابل، د سولې او د افغانستان د راتلونکې په تړاو د دغه هېواد په متناقضو دریځونو کې ریښه لري.

## ایران او اروپایي ټولنه: ګډو موخو ته رسېدل

افغانستان کېدای شي، د ایران لپاره د اروپایي ټولنې په ګډون له نړیوالې ټولنې سره د څو همپاله پراخو ګټو په تړاو یو سیاسي اضافي پلېټ فورم چمتو کړي. د ګډ کاري جامع پلان ۲۰۱۵ (JCPoA) له راهیسې، چې په معمول ډول د ایران د

اټومي هوکړې تر سرلیک لاندې پړندل کېږي، د ایران او اروپایي قدرتونو –بریتانیا، فرانسې، جرمنې او په ټولیزه توګه اروپایي ټولنې ترمنځ له مخکې یوه کاري اړیکه شتون لرلې ده، چې کولی شي د جوبایدن نوی دولت له خوا بیا نوی شي. اروپایي ټولنې مخکې ویلي که امریکا پر ایران تحریمونه لغو کړي، له JCPoA کنوانسیون او د هغه په تعقیب د انرژۍ په برخه کې د سوداګریزو همکاریو له کنوانسیون څخه به ملاتړ وکړي. د امریکا په وتلو په دې وړاندوینې سره، چې د جوبایدن په دوره کې تحریمونه به تخفیف او یا لغو شي، اروپایي ټولنه، ایران او افغانستان، د اصلي ګټو او موخو لپاره په خپلو اړیکو د نوي تعریف لپاره، غوره فرصت لري. دغه موارد کولی شي، له تروریزم سره مبارزې، اقتصادي او سوداګریز ادغام، کډوالی او د نشه یي توکو د قاچاق مدیریت ته شامل شي.

اروپایي ټولنه، د سولې تر هوکړه لیک وروسته، د فرهنګي، ژبني، اقتصادي او سیاسي اهرم ته په پام سره، کولی شي د مجدد ادغام او د بیارغونې هڅو په برخه کې، د ایران له بشپړ ظرفیت څخه ګټه واخلي. ایران کولی شي، د یو شمېر سیاسي اسپېلرونو په تعدیل او د هغو کسانو له لارې، چې په طالبانو کې نفوذ او کولی شي د تاوتریخوالي کچې په راټیټولو کې ونډه ولري، رغنده کردار ادا کړي. د متحده ایالاتو تحریمونو ته په پام سره، چې نړیوالو بازارونو ته د ایران لاسرسی محدود کړی، افغانستان د ایران د یو ستر سوداګریز شریک په توګه رادمخه شوی دی. اروپایي ټولنه او ایران کولی شي، د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او سوداګریز ادغام په برخه کې سره نږدې همکاري ولري. د ایران د زیربناوو کلیدي پروژې د دغې موخې لپاره تر ټولو زیاته مناسبه ده، خو د مرکزي اسیا هېوادونو په تړاو هراړخیزې کرنلارې ته اړتیا شته چې اروپایي ټولنه کولی شي، د دغې چارې د تسهیل په برخه کې، مخکښ رول ولوبوي. ایتالیا، د هغې وسپنې لارې د څلورم پړاو د بشپړولو په درشل کې دی، چې د خواف – هرات وسپنې لارې، ایران د افغانستان له لارې مرکزي اسیا سره نښلول کېږي. ایران هیله لري، چې اروپایي او مرکزي اسیا هېوادونو ته تر ۲۰۲۵ ز. کال د خپلو ګازو د ۸۰ میلیارد متر مکعب په اندازه کلنې صادراتو، افغانستان خپل محور وګرځوي او په ورته وخت کې، افغانستان ته د نانفتي صادراتو د زیاتوالي لپاره پلان جوړونه ولري. تر جګړې وروسته په یوه سناریو کې، تهران کولی شي، د روزنې، مسلکي او تخنیکي پرمختیا، روغتیا په برخو کې پر یوه پانګه وال بدل شي.

د امنیت تر اجنډا ها خوا، ایران په یو شمېر نړیوالو او سیمه ییزو ناستو همکاري کړې او ښودلې، چې د سیمه ییزو ننګونو د حل په برخه کې، درې اړخیزو او څو اړخیزو لاروچارو ته لومړیتوب ورکوي. د بېلګې په توګه، ایران د سیمې هېوادونو ترمنځ د سیاسي ډیالوګ او همکاریو د پیاوړتیا په موخه، له ۲۰۱۱ ز. کال راهیسې د استانبول د اسیا زړه پروسې مهم غړی دی. دغه هېواد، د کډوالو په تړاو د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنري له خوا د حل لارو په ستراتیژۍ کې، چې د افغان کډوالو بېرته ستنېدنه تسهیلوي، له پاکستان سره نږدې همکاري لري. له دغه مهاله راهیسې ایران، د افغانستان او پاکستان په اړه د تماس نړیوالې ډلې غړی.

ایران او اروپایي ټولنه دواړه د نشه یي توکو د قاچاق له ترټولو سترو مصرفوونکو څخه دي. اروپایي ټولنه کولی شي، د افغانستان په پولو کې، د نشه یي توکو د ناقانونه سوداګرۍ د مدیریت او مخنیوي لپاره، د پولو د کنترول او معلوماتو شریکولو په موخه د یو سیمه ییز میکانیزم د تسهیل شونتیا، وڅېړي. دواړه لوري کولی شي، د پولو دواړو خواوو ټولنو کې پانګونه وکړي، او خلک د کوکنارو د بدیل کرنیز توکي کرلو ته وهڅوي.



افغان مهاجرین په ۲۰۲۰ز. کال د هرات د اسلام قلعه بندر له لارې له ایران څخه راستنېږي. فریډریش ایبرټ بنسټ / محمد عارف کریم)

## وړاندیزونه

- د سولې رواني پروسې د بریالیتوب لپاره، د یو مرستندوی په توګه د اروپایي ټولنې سیمه ییز رسمي کرنلاره کې د پام وړ پانګونې ته اړتیا شته. دغه سیمه ییز چوکاټ کولی شي له ایران د مستقیم تعامل په برخه کې یو غوره فرصت وي. له هغه ځایه، چې ایران احساس کوي، چې د متحده ایالاتو پخوانی دولت کمرنګه فعالیت درلود او نوی دولت لپاره وخت ته اړتیا شته، ترڅو له ایران سره اړیکې تودې کړي، نو اروپایي ټولنه په دې برخه کې کولی شي، دغه خلا ډکه کړي.

- د سولې پروسې د ماتېدو او له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په صورت کې، ښایي د سیمه ییزو لوبغاړو ترمنځ د سیالي کچه زیاته شي. هغه ایراني ضد ایتلاف، چې د ټرامپ پرمهال له سعودي عربستان، د خلیج سیمه هیوادونو او اسراییلو سره رامنځته شو، که د بایډن له خوا دغه لاره تعقیب شي، نو کولی شي د سیمې ډینامیک وځنډوي او لا پیچلي کړي. اروپایي ټولنه باید له خپل قدرت او مثبتو اړیکو څخه په ځانګړې له متحده ایالاتو، پاکستان او هند سره یې چې لري، ګټه واخلي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې د ایران مشروع ګټو ته پاملرنه کېږي.

- اروپايي ټولنې د افغانستان او ایران ترمنځ د اوږدمهالو اختلافاتو د ښېلګې په توګه د هریرود اوبو پر تاریخي اختلاف د حل په اړه، له دواړو لورو سره بحث وکړي. په دې برخه کې د اروپایي ټولنې ونډه کېدای شي نامستقیمه وي، خو دغه ټولنه کولی شي چې د افغانستان او ایران ترمنځ د هریرود او هلمند سیند د اوبو په اړه اختلاف اواري ته ملګري ملتونه وهڅوي.

- بروکسل باید د افغانستان له لارې د سویلي او مرکزي اسیا ترمنځ بین المنطقه یی اړیکو ټینګښت په برخه کې مرسته وکړي او په بالقوه توګه له ایران څخه بلنه وکړي، چې د تعرفو د ازادولو او ترانزیتي هوکړه لیکونو کې، د ګاونډیو هېوادونو د هڅونې په موخه برخه واخلي.

- ایران، باید له افغان کډوالو څخه د فشار په توګه له کار اخیستو څخه ډډه وکړي. دغه ډول پالیسي، کېدای شي په افغانستان کې د ایران په تړاو په عامه اذهانو کې د منفي احساساتو د رامنځته کېدو لامل شي. اروپایي ټولنه له ایران او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ په ګډون د ملګرو ملتونو له نورو سازمانونو سره، د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو په برخه کې د یوې حل لارې د موندلو په برخه کې همکاري وکړي.

- ایران همدا راز افغانستان ته د فاطمیون کنډک د جنګیالیو له هر راز لېږلو څخه ډډه وکړي. د ملیشو او وسله والو ډلو تاریخچه چې د بهرنیو تر ملاتړ وي، اوسمهال ډېر زیات له منفي اغېزو ډکه ده.

---

**د لیکوالانو په اړه**

ډاکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکینز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منډي څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتی د انځورونو په اړه:**

افغان صرافان د هرات په صرافي مارکېټ کې د بهرني اسعارو د معاملې لپاره راټول شوي دي.

انځور: رویترز / محمد شعیب /

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فرېډرېش ایبرټ بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فرېډرېش ایبرټ بنسټ له لیکلې مخکینۍ اجازې پرته، د فرېډرېش ایبرټ بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوې نظریې، د فرېډرېش ایبرټ بنسټ د لیدلورو منعکسوونکې نه دي.



د سولې رامنځته کولو منځګړی؟

# د افغانستان د سولې په پروسه کې
# د ترکیې رول او اهمیت

انډریو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د دغې پالیسي نچوړ( لنډیز)، د امریکایي پوځي ځواکونو د وتلو ماهیت او پر ملي او سیمه ییز امنیت د هغه د اغېزو ابهام په ترڅ کې، د ترکیې او افغانستان دوه اړخیزې اړیکې څرګندوي. د یادې پالیسي لنډیز، په خپل ختیځ ګاونډ کې د انقرې ګټې او د پالیسي مسیرونه په ډاګه کوي او د دغې موضوع ارزونه کوي، چې ترکیې سره د دې چې د افغانستان د سولې په پروسه کې یې د یوه باوري او طبیعي منځګړي په توګه هرکلی کېږي، لا هم نه دی توانېدلی چې په دې برخه کې یوه روښانه او مشخصه ستراتیژي وړاندې کړي. پر دې سربېره؛ د کړووالي په اړه پر ګډو اندېښنو د تمرکز ترڅنګ، د پالیسي دا لنډه څېړنه د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ د لا زیاتو همکاریو د بالقوه امکاناتو او ظرفیتونو څېړنه کوي.

ترکیې د افغانستان د تاریخي متحد او د اووم ستر هېواد په توګه چې ځواکونه یې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې په دې هېواد کې فعالیت لري په ډېره پراخه او څو اړخیزه بڼه افغانستان کی مشارکت لرلی دی[1]. ترکیه له افغانستان سره ژوري فرهنګي او ژبنی اړیکې لري؛ ځکه چې د افغانستان د پام وړ سلنه وګړي له قومي لحاظه ترک توکم دي. په لومړۍ نړیواله جګړه کې له عثماني امپراتورۍ څخه د کابل د ملاتړ پرېکړې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ او اړیکو بنسټ کېښود چې لا هم د مارچ ۱ نېټه، د ترکیې - افغانستان د دوستۍ ورځ په نامه لمانځل کېږي. په ۱۹۳۰ لسیزه کې، انقرې د افغان پوځیانو په روزلو او د پرمختیایي کارپوهانو په لېږلو سره، د افغانستان د عصري کېدو له اقداماتو څخه ملاتړ وکړ. ترکیې، په ۱۹۷۹ ز. کال کې پر افغانستان د شوروي له یرغل سره په ښکاره مخالفت وکړ او د کورنیو جګړو د اوږدو په ترڅ کې یې، د شمال اتحاد، د ازبک قومي مشرانو په ځانګړې توګه حزب جنبش اسلامی مشر عبدالرشید دوستم څخه، چې پر افغانستان د طالبانو تر ولکې وروسته ترکیې ته وتښتېد، ملاتړ وکړ. ترکیه لومړنی مسلمان هېواد و، چې د ۲۰۰۱ز. په نومبر کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو تر مشرۍ لاندې پوځي عملیاتو سره یوځای شو او اوسمهال د کابل د ښوونېز، مشاورت او همکارۍ مسؤلیت(بولندویي) پرغاړه لري. انقره؛ د ناټو د نورو هېوادونو پرخلاف، دې ته لېوالتیا لري، چې په افغانستان کې خپل رول ته دوام ورکړي.

په همدې حال، تراوسه پر دې نه دی توانېدلې چې د ولسمشر اردوغان د ۲۰۱۵ ز. کال د دې وینا «چې د افغانستان ستونزې زموږ ستونزې دي او د افغانستان بریا زموږ بریا ده»، یو روښانه پالیسي وړاندې کړي[2].

## په افغانستان کې د ترکیې د څو اړخیز سیاست تعامل

افغانستان په تړاو د انقرې بهرني سیاست د څلورو موخو پر محور راڅرخېږي: ۱) د دغه هېواد ثبات او وحدت ساتنه؛ ۲) د موجوده سیاسي جوړښتونو او بنسټونو پیاوړتیا؛ ۳) د افغانستان د امنیتي چاپېریال د ثبات ملاتړ؛ او ٤) د ترورېزم او تونډلاریتوب په له منځه وړلو سره، د سولې او هوساینې ټینګښت[3]. ترکیه د ملګرو ملتونو سازمان او د ناټو له لارې په دوه اړخیزه کچه، افغانستان سره د پام وړ مرسته کوي. انقرې له ۲۰۰۱ز. کال راهیسې په دغه هېواد کې د امنیت، روغتیا، پوهنې او زېربناوو په برخو کې شاخوا ۱,۱ میلیارد امریکایي ډالرو پانګونه کړې ده[4]. ترکیې د ۲۰۱۹ ز. کال تر مي پورې د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام - یو. ان. ډي. پي تر څارنې لاندې د نظم او قانون د وجهي صندوق له لارې د افغانستان له ملي او امنیتي دفاعي ځواکونو سره د شاوخوا ۸۶ میلیونو ډالرو مرسته کړې ده[5]. ترکېه د نورو مرسته کوونکو هېوادونو په شان په تدریجي توګه خپلې مرستې راټیټوي همدارنګه د ۲۰۲۰ ز. کال په جینوا کنفرانس کې د دوو راتلونکو کالونو لاره د ترکیې ۷۵ میلیون ډالرو د مرستې ژمنه د ۲۰۱۸ – ۲۰۲۰ (تیرو دوو کالونو پر تله) د۱۵۰ ملیون ډالرو د ژمنې یوازې نیمایي برخه جوړوي[6]. د ترکیې چارواکي وړاندوینه کوي، چې د مالي مرستو دغه کچه کېدای شي وساتل شي او د سیاسي هوکړې د ترلاسه کېدو په صورت کې کېدای ، ان زیاتوالي ومومي.

له ۲۰۲۱ ز. کال څخه وروسته افغانستان کې، د ترکیې د پالیسي اساسي لومړیتوب د دې هېواد د ثبات ساتنه جوړوي، چې هغه د تونډلارو ډلو د فعالیتونو غځېدنې په اړه له ځانګړو اندېښنو سره نغښتې ده. دې هېواد د تېرې لسیزې په نیمايي کې په «اسلامي دولت» نومول شوې داعش ډلې له خوا ډېر تروریستي بریدونه زغملي دي؛ چې د تونډلاریتوب له ګواښ او له سوریې او ګرډې نړۍ څخه د میلیونونو پناه وړونکو او کارګرو له کډوالیز یرغل او یوه دوره هم د پرانېستو پولو له څو نښتو سره مخامخ شو. د ترکیې او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ ژورې تعاملي او سوداګریزې اړیکې، سیمه ییز ترورېزم پورې د اړوندو اندېښنو په محدودولو سره، په ازاده توګه په پانګونه باندې ولاړې دي؛ په دې توګه په افغانستان کې د ناټو د ماموریت په چوکاټ کې د دغه هېواد ونډه، د دغو پانګونو په تړاو یوه نامستقیمه بیمه ګڼل کېږي. او د هغوی اندېښنې د نړیوالې ترهګرۍ له اندېښنو سره چې په دې هیواد کې د ناټو د نورو غړو پاتې کېدو لپاره د انګیزې لامل ګرځي ورته والی او شباهت لري.

د ترکیې د یو شمېر مخکښه پالیسي جوړوونکو په وینا، انقره نبایي بی لدې چې خپلې راتلونکې تعامل په وړاندې د ناټو دریځ په پام کې ونیسي، تر ۲۰۲۰ ز. کال وروسته هم ( افغانستان په تړاو) خپلو مالي ژمنو ته دوام ورکړي. د ناټو شاتګ ته په پام سره، ترکیه کېدای شي په دې هېواد د خپل پوځي حضور د غځېدا مسله وڅېړي. خو دلته دغه پوښتنه مطرح ده، چې د ناټو له شریکانو پرته د دغه هېواد پوځي دوام په افغانستان کې عملي ده؟ په هر حال ترکیه، د افغانستان په سیاسي شرایطو کې خپلې اصلي ګټې لري او په دې

---

۱ - ونیا کورا(۲۰۱۷)«ترکیه په افغانستان کی پراختیایی نقش لري »د مډل ایست انسټېټوټ ۲۰۱۷ د سپتمبر ۲٦ مه.

۲ - ویناى کاورا (۲۰۱۷)، «ترکیه په افغانستان کې خپله ونډه پراخوي»، د منځني ختیځ انستیتوت، سپتمبر ۲٦ ، ۲۰۱۷ز.

۳- وګورئ، د ترکیې جمهوریت، د بهرنیو چارو وزارت وېبپاڼه.

۴- «ترکیې د پروژو لپاره افغانستان سره د ۷۵ میلیون ډالرو مرسته کوي»، د صباح ورځپاڼه، د نومبر ۲۵، ۲۰۲۰.

۵ - د افغانستان د ملي دفاعي ځواکونو وجهي صندوق، مي ۲۰۱۹.

٦ - «ترکیه د پروژو لپاره افغانستان سره د ۷۵ میلیون ډالرو مرسته کوي»، د صباح ورځپاڼه، د نومبر ۲۵، ۲۰۲۰.

وروستیو کې په لیبیا او سوریه کې د ترکیې یوه اړخیزه مداخله او له سیمه ییزو ځواکونو سره مرسته، کولی شي په افغانستان کې د راتلونکي امنیتي مرستو لپاره یوه بېلګه وي[7].

## د سولې په روان بهیر کې د ترکیې دریځ: یوازې په نوم یو ایډیال لوبغاړی؟

داسې ښکاري چې د ترکیې پالیسي جوړونکي، د سولې پروسې په اړه چې د متحده ایالاتو له خوا پیل شوې ده، په احتیاطمنه توګه خوشبین دي، خو په دې برخه کې یو لړ شکونه او تردیدونه هم لري. یو شمېر چارواکو، د هر ډول بنسټیزې روغې جوړې په تړاو د طالبانو د لېوالتیا په اړه جدي اندېښنې بیان کړي او په دې اړه دغه پوښتنه هم شتون لري، چې آیا نړیواله ټولنه او افغان دولت سولی بهیر ته غاړې اېښودلو او منلو کار کې د طالبانو تر فشار لاندې راوستلو لازمه او کافي وړتیا لري او کنه؟ ترکیه په مستقیمه توګه له طالبانو سره اړیکه لري، خو د سولې په پروسه کې اصلي کړنه یې، د بیانیو او اعلامیو خپرول او د افغان دولت دځواکمنولو نښې نښانی ښرګندوي. دا چې دا موضوع ایا د زیاترو اقتصادي او سیاسي مسایلو په خاطر د انقرې د پام وړ وي او یا د ترکیې متحد د قطر په څېر د نورو منځګړو اهمیت له امله، داسې نه ښکاري، چې ترکیه د افغان سولې په پروسه کې د داسې رول اداکولو په لټه کې وي، کوم چې یې د سوریې په اړه د استانې په پروسه کې ترسره کړ. دې سره سره د یادونې وړ ده، که څه هم په تېره لسیزه کې د ترکیې او متحده ایالاتو ترمنځ په دوه اړخیزې اړیکې ترینګلی وې ، د ۲۰۲۰ ز. کال په وروستیو کې، د سولې په برخه کې د متحده ایالاتو ځانګړی استازي زلمي خلیلزاد څو ځلې له ترکیې څخه لیدنه وکړه او په دې برخه کې په پرلپسې توګه همغږۍ رامنځ ته شوې.

له اسلام آباد، دوحې او کابل سره د ترکیې ډاډمنې اړیکې او په ناتو کې له غړیتوب سره سره له مسکو سره ټیکاومنی او پایداره اړیکی، ترکیې ته یو مناسب او اغېزلرونکي موقعیت ورپه برخه کوي؛ او د افغانستان د نورو پوله شریکو ګاونډیو برخلاف، افغانستان سره یې دوه اړخیزه، اړیکې د څمکني یا د نورو اختلافونو تر سیوري لاندې نه دي. په واقعیت کې ترکیه ادعا کوي، چې له هغو ګوتو په شمار - کمو هېوادونو څخه دي، چې په افغانستان کې کار کوي او په دې برخه کې هېڅ ډول پټه برنامه «ستره لوبه» نه لري. له تېرو دوه لسیزو راهیسې د افغانستان په خاوره کې د ترکي پوځیانو شتون له دې امله د خلکو پام وړ دي، چې دا هېواد د اسلامي همکاریو سازمان فعال غړی هم دي. ترکیه کولی شي د دغه سازمان او ناتو د فعال غړي په توګه، د افغانستان د ګاونډیانو او نړیوالو شریکانو ترمنځ د باور پل په توګه عمل وکړي. ټول افغانان، د دواړو هېوادونو د ګډو فرهنګي زمینو په دلیل چې اکثریت وګړي یې مسلمان دي او په ترکي او سیمه ییزو ژبو د ګډو اصطلاحاتو د شتوالي له امله یې ښوونې په برخو کې د ترکي د ولسي ځواکونو مثبت هرکلی کړی دی. د ناټو د نورو غړو هېوادونو برخلاف، په تېرو ۱۹ کالونو کې د ترکیې یوازې یو چارواکي په افغانستان کې د طالبانو د هدفي بریدونو په پایله کې وژل شوی دی[8]. د اسلامي حزب مشر ګلبدین حکمتیار د ۲۰۲۰ز. کال په فبروري کې په ښکاره اعلان وکړ، چې ترکیه باید د ناټو د غړي په توګه د جرمني پرځای، د بین الافغاني خبرو کوربه وي او د فرانسې له ولسمشر امانول مکرون سره د اردوغان د ټکر پرمهال یې، په ښکاره له اردوغان څخه خپل ملاتړ اعلان کړ[9].

ترکیې، په تېرو وختونو کې هم د افغانستان او ګاونډیانو ترمنځ په لانجو کې، په ځانګړې توګه په ۱۹۶۰ ز. کال کې د افغانستان او ایران ترمنځ د سرحدي اختلافاتو په اوارې کې، د منځګړي په توګه خپل رول ادا کړې دی؛. ترکیې په تېرو دوو لسیزو کې، له پاکستان، افغان دولت او ان (په پټه) له طالبانو سره خپلو ډیپلوماتیکو اړیکو کې پانګونې ته دوام ورکړی دی. انقرې په بریالیتوب سره د تاوتریخوالي کمولو لپاره په یوه درې اړخیزه هڅه کې د کابل او اسلام اباد ترمنځ د څو ناستو کوربه و او د طالبانو له مشرتابه سره یې مستقیمې اړیکې ټینګې کړې، چې په ۲۰۱۰ز. کال کې په لنډ ډول په انقره کې په دوحه کې د طالبانو د دفتر د پرانېستل کېدو په اړه خبرې وشوې[10]. د افغانستان د مصالحې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله، د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې انقرې ته د خپل سفر پرمهال، د افغانستان او پاکستان د اړیکو په پراختیا او ښه والي کې د انقرې پر حیاتي رول ټینګار وکړ. د افغانستان زیاتره سیاسي مشران، د طالبانو تاریخي کوربه او ملاتړ هېواد پاکستان، د د ستونځو د حل او فصل او د تلپاتي سولې د ټینګښت کلي ګڼي او هیله لري، چې ترکیه دې په دې برخه کې پر اسلام اباد د فشار له اهرم څخه ګټه واخلي. په همدې حال کې، ترکیی په تېره لسیزه کې د افغانستان په شمال کې د قومي ټولنې له مشرانو سره په ځانګړې توګه عبدالرشید دوستم سره، چې په منظم ډول په ترکیه کې اوسېده (لومړی پر ۲۰۰۹ او بیا له ۲۰۱۵ تر ۲۰۱۷) خپلې اړیکې ټینګې کړې دي. له دې سره سره، د ترکیې اړیکې په دودیزه توګه تر قومي تړلتیاو هاخوا پراختیا مومي. په دې توګه په تېرو کلونو کې لکه حکمتیار په څېر یو مخالف سیاسي څېرې نورو لویو سیاستوالو هم له ترکیې څخه لیدنه کړې ده.

ترکیې تر اوسه پورې د ځینو افغان مشرانو انتظاراتو ته رسیدګی نه ده کړي، چې هیله لري، دغه هېواد د افغانستان په تړاو تر دې هم فعاله ونډه ادا کړي. په واقعیت کې انقرې، د اروپایي ټولنې او د افغانستان د څو ګاونډیو هېوادونو برخلاف، تراوسه پورې د سولې په بهیر کې برخې اخیستو لپاره کوم ځانګړی استازی ګمارلی نه ده او نه یې هم د افغانستان له سیاسي شخصیتونو سره اړیکې لرلې، چې دغه چاره له افغان دولت سره او یا نړیوال ملاتړ عمومی شبکی سره چې په دوحه کې راټول شوي، د مشخصو اقداماتو په مانا تعبیر شوی دي. دغه چاره کېدای شي، د انقرې مهمو سیمه ییزو ننګونو او کورني متزلزله اقتصادي فضا او سیاسي لانجو ته په کتو سره، دا مسئله کېدی شي تر یوه بریده د اړوند هوکړې د ناپراخوالي له امله وي. خو د ترکیې په بهرني سیاست کې حتا په ډېرو مساعدو حالاتو کې هم د اصلي لومړیتوب په توګه هیڅکله د افغانستان ملاتړ ته ځای نه دی ورکړی او په دې برخه کې کومی لوړې هیلې پلې شوي نه دي.

## په استانبول کې د اسیا زړه پروسه: آیا نویو سیمه ییزو میکانیزمونو ته اړتیا شته؟

په افغانستان کې د جګړې او نښتو په وروستیو لسیزو کې نړیوالو قدرتونو له خوا ، له دې ډلې ۲+۶ (په متحده ایالاتو او روسیې سربېره د افغانستان ګاونډیان) او د څلور اړخیزی همغږۍ د ډلې (افغانستان، پاکستان، چین او متحده ایالاتو) په ګډون، د سیمه ییز نوښتونو څو طرحې رامنځته شوي دي. له طالبانوسره د متحده ایالاتو د خبرو له پیلېدو دوه کاله وروسته، د روانی سولې بهیر په خاطر څو ناستې او مخامخ خبرې شوې دي. په داسې حال کې چې په دغو نویو طرحو او نوښتونو کې د نړیوالو ښرګندونو او د افغانستان د سولې له پروسې څخه د ملاتړ زمینه برابره شوې ده، خو دغه نوښتونه په دې برخه کې کوم ملموس اقدام او لاسته راوړنه نه لري. د افغانستان د سولې له پروسې څخه د ملاتړ لپاره لا تر اوسه کوم یوه موتیې او متحد سیمه ییز میکانیزم شتون نه لري، په ځانګړې توګه د سیمې مهمو لوبغاړو (هېوادونو) لکه ایران، هند، روسیې او په خپله ترکیې سره اړیکو ته په کتو ، د متحده ایالاتو وضعیت یې اندېښنو سره مخامخ کړی دی[11].

د استانبول - اسیا زړه پروسه، چې په ۲۰۱۱ ز. کال پیل شوې، تر اوسمهاله تر ټولو پراخه طرحه او عملی نوښت دی، چې په دې پروسه پر ۱۵ ملاتړو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سربېره د اروپایي ټولنې په ګډون ، ۱۷ سیمه‌ییز هیوادونه برخه لري. دغه پروسه، چې د افغانستان په محوریت، د سیمه ییز امنیت او اقتصادي او سیاسي همکاریو د پرمختیا په موخه[12]، د خبرو او باور جوړونې اقداماتو له لارې، د کابل او انقرې له خوا جوړ شوی دی. د سیمه ییزو همغږیو او باور جوړونې په موخه ، د اسیا زړه پروسې د ارتقا

---

۷ - د سوریې اجیران د ترکیې د بهرني سیاست ساتنه کوي، دویچه وله، ۳۰ سپتمبر ۲۰۲۰.

۸ - د ترکیې د سفارت پر موټر ناستو د برید له امله، یو ترکي سرتیري ووژل شو، آسوشیتدپرس ، د فبروري ۲۶ مه ۲۰۱۵ ز.کال.

۹ - "حکمیتار، د ترکیې پر وړاندې د ماکرون خبرې د نه منلو وړ دي، انډولا خبري آژانس، د سپتمبر ۱۱ مه ۲۰۲۰.

۱۰- ایاز ګل، (۲۰۱۹) ، "د افغانستان د سولې په تړاو ترکیې د درېو اړخیزو ناستو کوربه" ، امریکا غږ، د جنوري ۴ مه ۲۰۱۹ ز. کال.

لپاره له ژمنو سره سره، منتقدین وایي، چې د اسیا زړه پروسه سره له دې چې له رامنځته کېدو څخه یې یوه لسیزه تېرېږي، یوازې اعلامیه صادره کړې، چې هېڅکله عملي شوې نه ده. آیا د اروپایي ټولنې او ترکیې یوه ګډه طرحه کولی شي، د افغانستان د خبرو لپاره یو نوی سیمه ییز میکانیزم له رامنځته کېدو سره مرسته کوي؟

### آیا د اروپایي ټولنې او ترکیې ترمنځ د همکاریو ګډ تکی(ګډه فضا) شتون لري؟

کله چې ۲۰۲۱ ز. کال څخه وروسته افغانستان کې سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختیا په اړه خبرې کېږي، ترکیه او اروپایي ټولنه به (کولی شي) په لاندې برخو کې ګډه همکاري ولري: له تروریزم او له پولو هاخوا جرمونو سره مبارزه، روغتیا، کډوالي او روزنه. په افغانستان کې د روغتیا په برخه او همدارنګه د خصوصي سکتور په برخه کې د ترکیې پانګونه د پام وړ ده. د ترکیې هڅې د افغانستان په ټولو برخو کې د روزنې او ښوونې په برخه کې بله مهمه موضوع ده. د ترکیې دولت او د دغه هېواد غیرانتفاعي موسسې په ۱۷ برخو کې ښوونځي مدیریت کوي، چې له ۳۰ – ۴۰ پورې ښوونځي کېږي، چې تر ۵۰۰۰ زیات زده کوونکي لري، دوی هوډ لري، دغه هڅې او فعالیتونه نور هم پراخ کړي دغه هڅې د ښځو روزنې ته هم دوام ورکوي: انقره په کابل کې د افغان – ترک ښځینه پوهنتون د پرانیستو په تړاو له کابل سره په خبرو بوخت دی[۱۳].

هغه ګډه ننګونه چې افغانستان کې د اروپایي ټولنې او ترکیې پالیسی ته جوله ورکوي کډوالی ده. افغانان دا مهال، په ترکیه کې د مېشت کډوالو زیات وګړیزه دویمه ډله جوړوي او په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو کې د یونان په جزایرو کې د وارد شویو کډوالو تر ټولو زیاته برخه جوړوله. په وروستیو کلونو کې په ځانګړي توګه ۲۰۱۵ ز، کال څخه وروسته، د افغان پناه غوښتونکو په تړاو د اروپایي ټولنې لېوالتیا کمه شوې او د کډوالو د منل کېدو کچه هم ټیټه شوې ده. بروکسل په بې ساري توګه له ترانزیټ هېوادونو سره اړیکه ټینګه کړې، ترڅو د څو هېوادونو کډوال په ترکیه کې تم وساتي. دغه هېواد اوسمهال د کډوالو په تمځای بدل شوی دی، چې کولی شي د اروپایي ټولنې او ترکیې اړیکه هم کمزنګه کړي. دغه چاره پر هغو افغانانو هم اغېزه کوي، چې په ترکیه کې اوسي. داسې ښکاري، هغې اعلامیې نه په پام سره، چې د کابل او بروکسل ترمنځ د کډوالي د همکاریو په تړاو صادره شوې، دا دریځ به دوام ومومي[۱۴].

د دغو پالیسیو تېر ته په کتو سره، اروپایي ټولنه او ترکیه د ۲۰۱۶ ز. کال په مارچ کې هوکړه وکړه، چې دغه (ترکیه) هېواد به د یونان سواحلو ته وروستي ورودي لارې تړي. په بدل کې د اروپایي ټولنې غړو هېوادونو ژمنه وکړه، چې ترکیه د بېرته ستېنډونکي هر سوري وګړي پر سر یو سوري وګړي قبلوي او همدارنګه د ترکیې وګړو لپاره د ازاد ویزې لړۍ چټکه کوي او د کډوالو د منلو په پار ترکیې ته د څېلو مرستو کچه ۶ میلیارډ یورو

پر ترکیه کې افغان مهاجرین




سرچینه: UNHCR

اروپا ته تلونکي افغانان

سرچینه: Eurostat Database




۱۱ - ګو کوپولو، (۲۰۲۱) ، "د بایدن په واکمنې کې، د متحده ایالاتو او ترکیې اړیکې له ظریفانه انډول سره مخ کېږي " ، المانیتور، د جنوري ۲۰ مه ۲۰۲۱ ز. کال.
۱۲ - د نورو جزییاتو لپاره، د اسیا زړه وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ.
۱۳ - وګورئ: د جمهوري ورځ د اکتوبر ۲۹، د ترکیې سفیر وینا، په کابل کې د ترکیې سفارت، ۳۰ سپتمبر، ۲۰۱۹.
۱۴ "EU: Renewed deportation agreement with Afghanistan close to approval" ، سټیټ واچ، ۱۴ جنوري، ۲۰۲۱.
۱۵- اروپا او ترکیې معامله: له کډوالو سره مرسته وکړئ، د اپریل ۵- ۲۰۱۸. هـ (/https://helprefugees.org/news/eu-turkey-deal-explained)
۱۶ - لیزا لیګتاس او جیسکا تې، (۲۰۱۸)،"You Cannot Exist in This Place: Lack of Registration Denies Afghan Refugees Protection in Turkey", نړیوال مهاجرت، د دسمبر ۱۳، ۲۰۱۸ز.کال.

ته لوړوي . هغه افغانان، چې په لومړي پړاو کې، د پناه غوښتونکي په توګه د نوملیکنې لپاره له ننګونې سره مخ دي، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او مسلکي زده کړو او بیا مېشتېدلو څخه بې برخه شوي دي . زرګونه کسان د کوم سند او مدرک له درلودلو پرته، د نیونې، توقیف او ایستلو له دایمي ګواښ سره مخ دي. چارواکي باید دا هڅې وکړي، اروپایي ټولنه او ترکیه د افغان کډوالو په تړاو د خپل ۲۰۱۶ ز. کال پر هوکړه لیکونو بیاکتنه وکړي. وړاندوینه کېږي، د بې ثباتۍ، پرمختیا او امنیت د نشتوالی له امله افغانان دې ته مجبور شي، چې خپل هېواد پرېږدي، دواړه؛ اروپايي ټولنه او ترکیه باید د کډوالو په تړاو د خپلې همغږۍ پر چارو بیاکتنه وکړي او په دې توګه د افغانستان شرایط، چې په نړۍ کې تر ټولو مرګونې او د جګړې سیمه ده، په پام کې ونیسي.

په افغانستان کې د ګډو ګټو له درلودلو سره سره، داسې ښکاري چې، د ترکیې او اروپایي ټولنې ترمنځ په لوړه کچه، د افغانستان د کډوالي او د سولې پروسې یا د راتلونکې پرمختیا په تړاو د کتو وړ همغږۍ شتون نه لري. په داسې حال کې، چې د ګډ اقدام دغه نشتوالی، نه شي کېدای د دواړو لورو د بحث وړ اجنډ نه بهر وي، خو د امریکا بالقوه وتل، چې له افغانستانه د ناټو د وتلو لامل کېږي هم، په افغانستان کې د اروپا او ترکیې ظرفیت محدودوي، باید دواړه په دې لټه کې وي، ترڅو د همغږي میکانیزمونه او بدیل پلټ فورومونه رامنځته کړي.

## وړاندیزونه:

- ترکیه او اروپايي ټولنه باید د جوړښتونو په ځانګړې توګه د روغتیا او روزنې په برخه کې خپلو ژمنو ته دوام ورکړي او د کډوالي کچې د راټیټولو په موخه د امکان په صورت کې له ایران او پاکستان سره په نږدې همغږي سره، په دغه هېواد له تلپاتې او باثباته اقتصادي ودې څخه ملاتړ وکړي.

- اروپايي ټولنه، غړي هېوادونه یې او ترکیه په افغانستان کې خپلو ګډو ګټو ته په پام سره، په دغه هېواد کې خپلو پوځي او ناپوځي هڅو د همغږولو په موخه باید د ناټو له چوکاټه بهر موجودو شبکو (کانالونو) څخه کار واخلي. اړوند اقداماتو له دوام ورکولو مخکې، په سنجیده همغږۍ سره کولای شي ، د متحده ایالاتو لابی کولو او د افغانستان نظامی او سیاسی سخت دریځیو کی د نرمښتوالی زمینو رامنځ ته کولو په خاطر ستره ځواکمنی رامنځ ته شي.

- اروپايي ټولنه او ترکیه د استانبول د اسیا زړه طرحه، باید له اوسني وضعیت څخه چې یوازې سمبولیکه بڼه لري، په یو اغیزناک عمل محوره میکانیزم بدل کړي، یا یو نوی سیمه ییز بستر (پلټفورم،) چې د افغانستان د سولې په پروسه کې د سیمه ییزو ګټو لرونکي لورې په کښې شامل وي، رامنځته کړي. په ایډیال حالت کې، دغه مسئله کېدای شي د امریکا له نوي دولت سره په همغږۍ کې ترسره شي، خو په دې پلټفورم کې د امریکا له برلاسي پرته، سیمه ییز لوبغاړو ته، چې ښایي له امریکا سره خصمانه اړیکې لري یوه بشپړ فضا چمتو کېږي. له هغه ځایه، چې په دې وروستیو کې د هند او ترکیې ترمنځ اړیکې خرابې شوې، نو د اروپايي ټولنې منځګړیتوب په دې برخه کې ګټور تمامېدای شي.

- ترکیه باید له اروپايي ټولنې سره د افغانانو لپاره د کډوالي د یوې هر اړخیزې او جامع پالیسي په تدوینولو کې همکاري وکړي، چې د پام وړ دغه پالیسي په مناسبه توګه بشرپالو اړتیاوو ته رسېدنه وکړي، او رښتیني خطرونه او ګواښونه په هغو سیمو کې (افغانستان کې) چې په نړۍ کې تر ټولو مرګونې سیمه ده تایید لو درک کړي. له ۲۰۱۵ کال راهیسې ترلاسه شویو تجربو او ګډو بریاوو ته په پام سره، دغه پالیسۍ کولی شي د افغانستان د قانوني امنیت ښه والی څخه ملاتړ په خاطر، په اروپا کې د زیات شمېر افغان پناه غوښتونکو د مېشتېدو، خپلې خوښې پرته د ستنولو لړۍ تعلیق، د اقتصادي مشوقونو چمتو کول او د هغوی له نړیوالو حقونو څخه ملاتړ نه یوازې په ترکیه کې د کوربه ټولنو لپاره همدا راز ایران او پاکستان لپاره راونغاړي.

---

### د لیکوالانو په اړه

داکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منده څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

### د پښتۍ انځور په اړه

د افغانستان ولسمشر اشرف غني او د ترکیې ولسمشر طیب اردوغان په کابل کې د ګډ مطبوعاتي کنفرانس نه مخکې د لاسلیک شویو سندونو تبادله، اکتوبر ۱۸ ، ۲۰۱٤. رویټرز / احمد مسعود

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریډریش ایبرټ بنسټ

ویب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فریډریش ایبرټ بنسټ له لیکلي مخکینۍ اجازې پرته، د فریډریش ایبرټ بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د فریډریش ایبرټ بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.

## د لیکوالانو په اړه:

داکتر تیمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کړکیچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

اندریو واټکینز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منده څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

چاپ

کاپي رایټ: ۲۰۲۱ فریډریش ایبرټ-بنسټ

FES افغانستان

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

مسؤول شخص:

ډاکټر مګدلینا کرچنر / د فریډریش ایبرټ-بنسټ افغانستان رئیسه

د خپرولو غوښتنه:
info@fes-afghanistan.org

د فریډریش ایبرټ-بنسټ له لیکلي اجازې پرته، له هغو ټولو چاپي نشریو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري، چې د یاد بنسټ له خوا خپاره شوي دي.

په دغه نشریو کې بیان شوي نظریې لزوماً د فریډریش ایبرټ -بنسټ د لیدلوري منعکسوونکي نه دي.

د فریډریش ایبرټ بنسټ په جرمني کې تر ټولو پخوانی سیاسي بنسټ دی. دغه بنسټ د جرمني د لومړني ولسمشر، فریډریش ایبرټ په نامه چې په لومړي ځل په دموکراتیک ډول ټاکل شوی و، نومول شوی دی. فریډریش ایبرټ بنسټ له ۲۰۰۲ . ز کال راهیسې په افغانستان کې د سیمه ییزو سازمانونو په همکارۍ سره کارکوي. د دغو پروګرامونو موخه، له ملي تر سیمه ییزه کچې د دموکراتیکو جوړښتونو پیاوړتیا، د ځوانانو د سیاسي مشارکت د کچې لوړول، د ښځو او جنسیتي برابرۍ د ځواکمنتیا او مسلکي پرمختیا په رسمي او نارسمي اقتصاد کې د ټولنیز عدالت، رسنیو، او د سولې او پرمختیا لپاره د سیمه ییزو همکاریو پیاوړتیا ده.

EFQM Committed to excellence

www.fes-asia.org